# اَعمال د رسُولانو

## اَعمال د رسُولانو باب ۱

## دَ خُدائے وعده کړے رُوحُ القُدس

۱ اَئے تیوفیلوسه! زما دَ کتاب په اوله برخه کښے ما ټول هغه څۀ ولیکل چه عیسیٰ دَ هغے په کولو اَؤ
ښولو شروع وکړه، ۲ تر هغه وخته چه عیسیٰ دَ رُوحُ القُدس په وسیله خپلو رسُولانو ته چه هغۀ غوره کړی
وُو،هدایات ورکړل اَؤ هغه آسمان ته پورته کړے شو. ۳ هغۀ دَ خپل مرګ نه پس په هغو ځان څرګند کړو
اَؤ دَ دے پُوره ثبوت ئے ورکړو چه هغه ژوندے دے اَؤ پُوره څلویښت ورځے هغه په هغوئ پیښیدو اَؤ
هغوئ ته ئے دَ خُدائے دَ بادشاهئ په حقله تعلیم ور کاوو. ۴ تر څو چه هغه دَ هغوئ سره ملګرے وُو نو
هغوئ ته ئے حُکم ورکړو چه دَ بیتُ المُقدس نه مه وزئ اَؤ دا ئے ووئیل چه تاسو خامخا اِنتظار وکړئ دَ
دے دَ پاره چه هغه وعده چه زما پلار کړے ده اَؤ ما ئے تاسو ته ذکر کړے دے،پُوره شی. ۵ اَؤ لکه چه
تاسو ته معلُومه ده چه یحییٰ به په اوبو بپتسمه ورکوله خو تاسو ته به په رُوحُ القُدس بپتسمه درکړے شی
اَؤ دا به لږے ورځے پس وی.

## دَ عیسیٰ مسیح آسمان ته ختل

۶ نو کله چه هغوئ ټول په یو ځائے جمع وُو هغوئ دَ هغۀ نه تپوس وکړو چه”مالِکه! آیا دا هغه وخت
دے چه تۀ به بیا دَ بنی اِسرائیلو بادشاهی قائمه کړے؟“

۷ عیسیٰ جواب ورکړو چه”دا ستاسو کار نۀ دے چه دَ هغه وختُونو اَؤ تاریخُونو په حقله معلُومات حاصل
کړئ کُوم چه زما پلار په خپل اِختیار کښے ساتلی دی. ۸ خو تاسو ته به رُوحُ القُدس په نازلیدو طاقت
درکړے شی اَؤ تاسو به په بیتُ المُقدس کښے اَؤ په ټوله یهُودیه اَؤ سامریه کښے اَؤ دَ دے نه اخوا دَ دُنیا
تر بله سره زما شاهدان یئ.“ ۹ کله چه هغۀ دا ووئیل اَؤ هغوئ لا ورته کتل چه هغه پورته کړے شو اَؤ
یوه وریځ راغله اَؤ هغه ئے دَ هغوئ دَ سترګو نه پناه کړو.

۱۰ اَؤ څنګه چه هغه روان وُو اَؤ هغوئ آسمان پلو ځیر ځیر کتل نو سمدستی دوه سړی په سپینو جامو
کښے دَ هغوئ په خوا کښے ودریدل. ۱۱ اَؤ وئے وئیل چه”اَئے ګلیلیانو! تاسو دلته څۀ له آسمان پلو ځیر
ځیر ګورئ؟ دغه عیسیٰ څوک چه ستاسو نه آسمان ته بوتلے شو،هم په دغه لار به بیا راځی په کُومه چه
تاسو دَ تلو په وخت ولیدلو.“

## دَ یهُوداه جانشین

۱۲ بیا هغوئ دَ ښونانو دَ غرۀ نه بیتُ المُقدس ته واپس شول چه بیتُ المُقدس ته نزدے دے اَؤ دَ بیتُ
المُقدس نه تقریبًا یو کیلو میټر لرے وُو. ۱۳ ښار ته چه هغوئ ورننوتل نو هغه بالا خانے له لاړل په کُومه
کښے چه هغوئ دیره وُو،یعنے پطروس اَؤ یوحنا اَؤ یعقُوب اَؤ اندریاس،فیلیپوس اَؤ توما،برتلمائی اَؤ متی
،یعقُوب دَ حلفئ زوئے،شمعُون ننګیالے اَؤ یهُوداه دَ یعقُوب زوئے. ۱۴ هغوئ ټول په یوه مخه په دُعا سر

وُو اَؤ دَ هغوئ سره دَ ښځو يوه ډله هم وه چه په کښے مريم دَ عيسىٰ مور هم وه اَؤ دَ هغۀ ورُوڼه هم
شامل وُو.

۱۵ يو څو ورځے پس پطروس دَ ورُوڼو دَ غونډے په مينځ کښے ودريدو چه دوئ تقريبًا ټول په شمار کښے
شپږ شلے وُو، ۱۶ اَؤ وئے وئيل،"زما ملګرو! په صحيفو کښے هغه پيشن ګوئی به خامخا تر سره کيده
کُومه چه دَ داؤد په خُلۀ رُوحُ القُدس دَ يهُوداه په حقله کړے وه چه هغه به دَ عيسىٰ دَ ګرفتارولو دَ پاره
مُخبری کوی. ۱۷ ځکه چه په مُونږ کښے حساب وُو اَؤ په دے کار کښے زمُونږ ملګرے وُو."

۱۸ دغه يهُوداه دَ خپلے مُخبرئ دَ قيمت په عوض يو پټے واخستو اَؤ هلته سر دَ لاندے راپريوتو،خيټه ئے
وشليده اَؤ کُلمے ئے راووتے. ۱۹ دا خبره په بيتُ المُقدس کښے هر چا ته معلُومه شوه اَؤ دَ هغه پټی نُوم
هغوئ په خپله ژبه کښے حقلدما کيښودو چه معنیٰ ئے دَ وينے پټے دے.

۲۰ "په زبُور کښے دا ځکه ليکلی دی چه:

«دَ هغۀ کور دِ وران شی

اَؤ داسے څوک دِ پاتے نۀ شی چه په هغے کښے اوسی.»

اَؤ بيا دا چه:

«دَ هغۀ کار دِ بل څوک واخلی.»

۲۱ ځکه يو سړے مُونږ سره دَ عيسىٰ دَ بيا ژوندی کيدلو شاهد شی. په کار دی چه دِ دَ دوئ نه يو وی
چه زمُونږ ملګری وُو چه مالِک عيسىٰ مُونږ سره وُو اَؤ تلو راتلو، ۲۲ يعنے دَ کله نه چه يحيىٰ بپتسمه
ورکوله تر هغه ورځے پورے چه هغه له مُونږ نه پورته کړے شو."

۲۳ دوه نُومونه تجويز کړے شول،يُوسف چه په برسبا مشهور وُو اَؤ يُوستوس هم ورته وئيلے شو اَؤ دويم
متياه وُو. ۲۴ بيا هغوئ دُعا وکړه اَؤ وئے وئيل چه"اَئے مالِکه! تۀ چه دَ ټولو بنی آدمو دَ زړونو په حال خبر
يئے،مُونږ ته دا وښئيه چه په دے دوؤ کښے تا کُوم يو غوره کړے دے ۲۵ چه دَ دے رسالت حقدار شی
کُوم چه يهُوداه پريښے دے اَؤ په مخه تللے دے." ۲۶ بيا دَ هغوئ خسنړے دَ متياه په نُوم راووتو. دَ هغے
نه پس هغه په رسُولانو کښے شمار شو.

# اَعمال د رسُولانو باب ۲

## دَ رُوحُ القُدس نازليدل

۱ کله چه دَ پنتکُست ورځ راغله اَؤ هغوئ ټول په يو ځائے کښے راجمع شوی وُو، ۲ ناڅاپی دَ آسمان نه
دَ تيز باد په شان آواز راغے اَؤ په هغه ټول کور کښے چرته چه دوئ ناست وُو،آؤريدلے شو. ۳ اَؤ هلته

هغوئ دَ اور دَ لمبو په شان ژبے وليدلے،هغه په هغوئ کښے خورے شوے اَوُ هر يو ئے مسح کړلو. ٤ اَوُ
ټول په رُوحُ القُدس معمُور شول اَوُ په پردو ژبو ئے خبرے شروع کړے ځنګه چه رُوحُ القُدس دَ خبرو
طاقت ورکړو.

٥ هغه وخت په بيتُ المُقدس کښے دَ آسمان دَ لاندے دَ هر قوم نه راغلی پرهيزګار اوسيدل.٦ کله چه
هغوئ دا آواز واؤريدلو نو راجمع شول اَوُ حيران شول ځکه چه هر يو په خپله خپله ژبه وئيلے خبرے
آؤريدے. ٧ اَوُ په حيرانتيا کښے ئے وئيل،"آيا دا ټول ګليليان نهٔ دی څهٔ چه خبرے کوی؟ ٨ نو بيا دا څهٔ
خبره ده چه مُونږ ټول دَ خپل ملک ژبه آؤرُو چه دوئ ئے وائی؟ ٩ يعنے پارتهيان،ميديان اَوُ عيلاميان،دَ
ميسوپوتاميه اَوُسيدُونکی،دَ يهُوديه،دَ کپدوکيه،دَ پونطوس،اَوُ دَ آسيه، ١٠ دَ فروکيه اَوُ دَ پمفوليه،دَ مِصر،دَ
ليبيا د ضلعو چه دَ کرينی طرف ته ده اَوُ هم رُومی مسافران، ١١ يهوديان اَوُ نوی يهوديان شوی خلق
،کريتيان اَوُ عرب،خو مُونږ ټول دَ هغوئ په خپلو خپلو ژبو کښے دَ خُدائے دَ لويو لويو کارُونو بيان آؤرُو!"
١٢ هغوئ ټول حيران اَوُ شکمن وُو اَوُ يو بل ته ئے ووئيل چه"دا خبره به څهٔ وی؟"

١٣ خو ځنو په ټوقو کښے ووئيل چه"دوئ به دَ شرابو په نشه کښے وی."

## دَ پطروس وعظ

١٤ خو پطروس دَ يوولسو تنو سره پاڅيدو اَوُ په اُوچت آواز ئے هغوئ ته ووئيل،"اَئے يهوديانو ملګرو! اَوُ
هغه کسانو چه په بيتُ المُقدس کښے اوسئ،په دے پوهه شئ اَوُ زما خبره واؤرئ. ١٥ دا سړی دَ شرابو
په نشه کښے نهٔ دی لکه چه ستاسو خيال دے ځکه چه اوس خو ايله دَ سحر نهه بجے دی. ١٦ دا هغه
څهٔ دی چه يوئيل نبی دَ هغے په حقله وئيلی وُو چه :

١٧ «خُدائے فرمائی چه

په آخری ورځو کښے به داسے کيږی چه

زهٔ به خپل رُوح په هر يو کس نازلوم

اَوُ ستاسو زامن اَوُ لُونړه به نبوت کوی،

ستاسو ځوانان به رويا په سترګو وينی

اَوُ بُداګان به خوبُونه

١٨ اَوُ زهٔ به عن په هغه ورځو کښے

خپلو غُلامانو اَوُ وينځو باندے هم

خپل رُوح نازلوم اَوُ هغوئ به نبوت کوی.

١٩ اَؤ زۀ به پاس په آسمان کښې عجیبه کارُونه وکړم

اَؤ په مزکه به نخښې ښکاره کړم،

وینه اَؤ اور اَؤ دَ لُوګی دُوند.

٢٠ دَ نمر سترګه به تکه توره شی

اَؤ سپوږمۍ به دَ وینې په رنګ شی

وړُومبې دَ مالِک دَ لوئې اَؤ روښانه ورځې دَ راتلو نه

٢١ اَؤ بیا به هغه ټوک خلاصُون ومُومی

چه دَ مالِک په نُوم زاری کوی.»

٢٢ اَئې اِسرائیلو! دا خبرې واؤرئ! چه عیسیٰ ناصری یو سړے وُو چه خُدائې تاسو ته په مُعجزو،په عجیبه
کارُونو اَؤ نخښو ښکاره کړو،څۀ چه خُدائې دَ هغۀ په وسیله ستاسو په وړاندې وکړل اَؤ تاسو پرې ښۀ
خبر يئ چه خُدائې هغه غوره کړے وُو. ٢٣ اَؤ کله چه خُدائې دَ خپلې منشا اَؤ دَ عِلم په مُطابق هغه
ستاسو په لاس کښې درکړو نو تاسو هغه دَ بې شرعې خلقو په وسیله په سولۍ وخېژولو اَؤ مړ مُو کړو. ٢٤
خو خُدائې هغه بیا راژوندے کړو اَؤ دَ مرګ دَ تکلیفُونو نه ئې خلاص کړو ځکه چه دا نامُمکنه وه چه
هغه دَ مرګ په قبضه کښې پاتې شوے وے. ٢٥ لکه چه داؤد دَ هغۀ په حقله وائی چه :

«مالِک همیشه ما سره وُو

ځکه چه هغه زما ښی لاس ته موجُود دے

دَ دے دَ پاره چه زۀ وار خطا نۀ شم.

٢٦ دَ دے دَ پاره زما زړۀ خوشحاله دے

اَؤ زما په ژبه زما دَ خوشحالۍ بیان دے،

بلکه زما بدن هم په اُمید کښې اوسی،

٢٧ ځکه چه تۀ به زما رُوح عالمِ ارواح ته پرے نۀ ږدے

اَؤ نۀ به تۀ خپل وفادار خادم خاؤره کیدو ته پرېږدے.

۲۸ تا ما ته دَ ژوند لارے ښودلی دی

اَؤ تهٔ به په خپله موجُودګئ ما په خوشحالئ معمُور کړے.»

۲۹ زما ملګرو! زَهٔ به اوس درته صفا خبرے وکړم چه نيکهٔ داؤد مړ شوے وُو اَؤ ښخ کړے شوے وُو اَؤ دَ
هغهٔ قبر تر دے ورځے دلته موجُود دے. ۳۰ نو بيا دا ښکاره شوه چه داؤد چه نبی وُو هغهٔ ته پته وه چه
خُدائے هغهٔ ته په سوګند سره وئيلی وُو چه دَ هغهٔ دَ خپل نسل نه به يو کس دَ هغهٔ په تخت کښينی. ۳۱
نو چه هغهٔ دا وينا وکړه نو هغه دَ مسيح دَ بيا راژوندی کيدو په راز خبر وُو اَؤ ورته پته وه چه

«نهٔ خو هغه عالمِ ارواح ته پريښودلے شو

اَؤ نهٔ ئے بدن خاؤرے کيدو ته پريښودلے شو.»

۳۲ دغه عيسیٰ چه مُونږ ئے خبرے کوُو،هغه خُدائے بيا راژوندے کړے دے اَؤ مُونږ ټول دَ دے خبرے
شاهدان يُو. ۳۳ اَؤ بيا چه هغه دَ خُدائے ښی لاس ته وخيژولے شو،هغهٔ دَ پلار نه دَ وعدے په مُطابق رُوحُ
القُدس حاصل کړو اَؤ په مُونږ ئے نازل کړو اوس چه تاسو وينئ اَؤ آؤرئ. ۳۴ ځکه چه داؤد خو آسمان ته
نهٔ وُو ختلے خو هغه په خپله وائی چه :

«مالِک زما مالِک ته ووئيل چه تر هغے زما ښی لاس ته کښينه،

۳۵ تر څو چه ستا دُښمنان ستا تر پښو لاندے نهٔ کړم.»

۳۶ نو اَئے ټولو اِسرائيلو! دا خبره په يقين سره قبُوله کړئ چه کُوم عيسیٰ چه تاسو په سولئ کړے وُو
خُدائے هغه هم مالِک اَؤ هم مسيح کړو!"

۳۷ کله چه هغوئ دا واؤريدل نو زړُونه ئے غُوځ شول اَؤ پطروس اَؤ رسُولانو ته ئے ووئيل چه"اَئے ملګرو!
نو مُونږ له څهٔ کول په کار دی؟"

۳۸ پطروس ووئيل،"توبه ګار شئ اَؤ په تاسو کښے هر يو دِ دَ خپلو ګُناهُونو دَ مُعافئ دَ پاره دَ عيسیٰ مسيح
په نُوم بپتسمه واخلی اَؤ تاسو ته به رُوحُ القُدس وبخښلے شی. ۳۹ دَ خُدائے وعده تاسو سره،ستاسو دَ
اَؤلاد اَؤ دَ هغه ټولو سره ده څوک چه لرے دی يعنے دَ هر چا سره ده چه څوک زمُونږ مالِک خُدائے
راوبلی."

۴۰ اَؤ په داسے نورو ډيرو خبرو اَؤ دليلُونو سره هغهٔ هغوئ ته نصيحت وکړو. هغهٔ ووئيل چه"خپل ځانُونه
له هغه سزا نه وساتئ چه دے بدو خلقو ته به ملاويږی!" ۴۱ اَؤ بيا چه کُومو خلقو دا خبرے قبُولے کړے
هغوئ ته ئے بپتسمه ورکړله اَؤ په هغه ورځ تقريبًا درے زره کسان دَ هغوئ سره شامل شول. ۴۲ هغوئ به
دَ رسُولانو تعليم آؤريدلو ته،دَ شريک ژوندُون،په يو ځائے دَ ډوډئ ماتولو اَؤ دَ دُعا دَ پاره راغونډيدل.

## دَ ایماندارانو ژوندُون تیرول

٤٣ په هر چا ویره وه اَوُ دَ رسُولانو ډیر عجیبه کارُونه اَوُ نخښے څرګندے شولے. ٤٤ اَوُ ټولو ایماندارانو په
یوه رائے ژوند تیرولو اَوُ په هر څۀ کښے شریک وُو. ٤٥ اَوُ هغوئ خپل مال،اسباب خرڅولو اَوُ هر چا ته
ئے دَ حاجت په مُطابق پیسے ویشلے. ٤٦ هغوئ به هره ورځ په یو زړۀ دَ خُدائے په کور کښے راجمع
کیدل اَوُ په کُورونو کښے به ئے په شریکه ډوډئ ماتوله اَوُ خپل خوراک به ئے په خوشحالئ اَوُ په صفا
زړۀ سره شریکولو. ٤٧ هغوئ دَ خُدائے ثنا وئیله،نو ټول خلق ترے راضی وُو اَوُ هره ورځ څومره خلقو چه
خلاصُون مُوندلو نو مالِک دَ هغوئ په ډله کښے شاملول.

# اَعمال د رسُولانو باب ۳

## دَ خُدائے دَ کور دَ دروازے سره دَ یو شل سړی جوړول

١ یوه ورځ ماسپښین درے بجے دَ عبادت په وخت پطروس اَوُ یوحنا دَ خُدائے کور ته تلل. ٢ نو یو سړے
چه دَ مور نه شل پیدا شوے وُو،خلقو به هره ورځ دَ خُدائے دَ کور دَ هغه دروازے سره چه ورته ښکلے
دروازه وائی دَ خلقو نه دَ خیر غوښتلو دَ پاره کښینولو ٣ کله چه هغۀ پطروس اَوُ یوحنا دَ خُدائے کور ته دَ
ننوتو په وخت ولیدل نو خیر ئے ترے وغوښتو. ٤ نو هغوئ ورته ځیر ځیر وکتل اَوُ پطروس ووئیل،”مُونږ ته
وګوره!“ ٥ هغه سړے چه دَ دوئ نه ئے دَ خیرات طمع لرله نو ورته ئے ځیر وکتل. ٦ خو پطروس ووئیل
چه”ما سره پیسے نِشته خو هر څۀ چه زۀ لرم هغه به درکړم،دَ عیسیٰ مسیح ناصری په نامه وګرزه!“ ٧ بیا
هغۀ هغه دَ ښی لاس نه ونیولو،پاس ئے راکښلو اَوُ سمدستی دَ هغۀ په پښو اَوُ ګیټو کښے طاقت پیدا شو.
٨ هغۀ ټوپ کړل،په خپلو پښو ودریدو اَوُ روان شو. هغه دَ هغوئ سره دَ خُدائے کورته ورننوتو اَوُ ځنګه
چه لاړو دَ خُدائے په ثنا صفت لګیا شو. ٩ هر چا چه هغه په تلو اَوُ دَ خُدائے په ثنا وئیلو ولیدلو ١٠ اَوُ
وئے پیژندلو چه دا خو هغه سړے دے څوک چه به دَ خُدائے دَ کور دَ ښکلے دروازے سره ناست وُو اَوُ
خیر به ئے غوښتلو. نو هغوئ په دے کار حق حیران شول څۀ چه دَ دۀ په باب کښے شوی وُو.

## دَ خُدائے په کور کښے دَ پطروس وعظ

١١ اَوُ چه هغۀ پطروس اَوُ یوحنا نیولی وُو نو ټول خلق په حیرانتیا دَ دوئ په طرف هغه ځائے ته راجمع
شول چه دَ سُلیمان ډوډئ ورته وائی. ١٢ پطروس چه هغوئ په راتلو ولیدل نو دا ئے هغوئ ته ووئیل
چه”اَئے دَ اِسرائیل خلقو! په دے ولے حیران شوئ اَوُ تاسو مُونږ ته داسے ولے ګورئ چه ګنی دا سړے
مُونږ په څۀ طاقت یا په خپلے دیندارئ دَ ګرزیدو جوګه کړو؟ ١٣ دَ اِبراهیم،اِسحاق اَوُ دَ یعقُوب خُدائے
،زمُونږ دَ پلارُونو خُدائے خپل خادم عیسیٰ ته ډیره لوئی ورکړے ده. تاسو چه عیسیٰ حاکمانو ته پیش کړو
اَوُ هر کله چه پیلاطوس دَ هغۀ دَ آزادولو فیصله وکړله نو تاسو دَ پیلاطوس په مخکښے اِنکار وکړو. ١٤
یعنے دَ هغه پاک اَوُ صادِق نه مو اِنکار وکړو اَوُ دَ یو قاتِل دَ خلاصولو دَ پاره مو زاری وکړه. ١٥ خو دَ
ژوندُون مالِک مو ووژلو لیکن خُدائے هغه دَ مړو نه بیا ژوندے کړو اَوُ مُونږ دَ دے خبرو شاهدان یُو.

١٦ ”دا سړے چه تاسو وینئ اَوُ پیژنئ،دَ عیسیٰ دَ نُوم په قوت ورله مضبُوطی ورکړے شوه اَوُ دَ هغۀ پۀ نُوم

دَ ایمان په وسیله جک جوړ شو. ۱۷ اَو اوس زما ورُوڼو! چه تاسو اَو ستاسو حاکمانو دا کار په ناپوهئ
کښے وکړو، ۱۸ خو خُدائے پاک دَ ټولو نبیانو په پیشن ګویو کښے ښیلی شوی خبرے پُوره کړے چه
مسیح به تکلیف وزغمی. ۱۹ نو توبه وکړئ اَو خُدائے ته راوګرزئ چه ګناهُونه به مو معاف کړی. ۲۰ بیا
به مالِک تاسو ته رُوحانی تازګی درکړی اَو ورُومبے مُقرر شوے مسیح چه عیسیٰ دے به درواستوی. ۲۱
هغه به تر هغے په آسمان کښے پاتے وی تر څو چه هر څۀ بیا نوی نۀ شی اَو دَ څۀ په باب کښے چه
خُدائے له شروع نه دَ پاکو نبیانو په وسیله وئیلی دی. ۲۲ اَو مُوسیٰ هم ووئیل چه: «مالِک خُدائے به تاسو
دَ پاره ستاسو دَ اُمت نه یو نبی زما په شان مُقرر کړی. هغه چه هر څۀ وائی تاسو دَ هغۀ خبره واورئ. ۲۳
اَو هر هغه څوک چه دَ هغه نبی خبره وانۀ وری،هغه به دَ اُمت نه خارج کړے شی اَو مړ به کړے شی.»
۲۴ اَو دغه شان سموئیل اَو ټولو نبیانو چه له هغۀ نه پس راغلل دَ دے موجُوده وخت پیشن ګوئی وکړه.
۲۵ تاسو دَ نبیانو وارثان یئ. تاسو دَ هغه وعدے پابند یئ چه خُدائے ستاسو دَ پلارُونو سره کړے وه کله
چه هغۀ اِبراهیم ته ووئیل چه: «ستا په نسل کښے به په مزکه ټول خلق برکت مُومی.» ۲۶ هر کله چه
خُدائے خپل خادم غوره کړلو نو اَول ئے هغه تاسو ته راولیږلو چه تاسو ته برکت درکړی چه په تاسو کښے
هر یو دَ بدو لارو نه راواړوی.“

## اَعمال د رسُولانو باب ۴

## دَ پطروس اَوُ یوحنا دَ جرګے په مخکښے پیش کیدل

۱ پطروس اَوُ یوحنا لا خلقو ته وعظ کاوو چه په دے کښے پرے دَ پاسه مشران کاهنان سره دَ خُدائے دَ
کور دَ مُحافظانو افسر اَوُ صدُوقیان راغلل ۲ اَو په دے خفه شول چه هغوئ خلقو ته تعلیم ورکوی اَو وائی
چه عیسیٰ دَ مړو نه بیا راژوندے شوے دے،نو څکه ټول مړی به دَ عیسیٰ په وسیله ژوندی شی. ۳
هغوئ پطروس اَوُ یوحنا ګرفتار کړل اَوُ دَ یوے شپے دَ پاره په قیدخانه کښے واچولے شول څکه چه ماښام
وُو. ٤ خو په هغو کښے ډیرو کسانو چه دا وعظ آوریدلے وُو،ایمان ئے راؤړو اَوُ دَ سړو شمار تقریبًا پنځۀ
زره شو.

٥ په بله ورځ دَ یهُودیانو حاکمان،مشران اَوُ دَ شرعے عالمان په بیتُ المُقدس کښے راجمع شول، ٦ چه
مشر کاهن حنا اَوُ کیفا،یوحنا اَوُ سکندر اَوُ ورسره دَ مشر کاهن دَ خاندان ټول خلق هم وُو. ۷ هغوئ
رسُولان جرګے ته وړاندے کړل اَوُ په هغوئ ئے جرح شروع کړه. هغوئ تپوس وکړو چه”تاسو په کُوم
طاقت یا دَ چا په نُوم دا کار کړے دے؟“

۸ بیا پطروس له رُوحُ القُدس نه معمُور شو اَوُ جواب ئے ورکړو،”اَئے دَ خلقو حاکمانو اَوُ مشرانو! ۹ که
چرے نن زمُونږ نه دَ هغه ناجوړه سړی دَ روغیدو په حقله تپوس کوئ چه هغه څنګه روغ شو، ۱۰ نو دَ
دے دا جواب دے چه تاسو ته اَوُ دَ بنی اِسرائیلو ټول اُمت ته دِ معلُوم وی چه دا سړے دَ هغه عیسیٰ
مسیح ناصری دَ نُوم په قوت سره روغ جوړ ولاړ دے کُوم چه تاسو په سولئ کړے وُو اَوُ خُدائے هغه دَ
مړو نه بیا ژوندے کړو. ۱۱ دا عیسیٰ هم «هغه کاڼے دے چه تاسو ګلکارانو رد کړے وُو اَوُ هغه دَ ګُټ

سر کاڼے شو.» ۱۲ دَ بل هيچا په وسيله خلاصُون نِشته ځکه چه په ټوله دُنيا کښے بل نُوم هيچا ته نۀ
دے ورکړے شوے چه په هغے مُونږ خلاصُون ومُومو.“

۱۳ کله چه دوئ دَ پطروس اَؤ يوحنا زړۀ ورتيا وليده اَؤ دا هم ورته معلُومه شوه چه دوئ خو عام اَؤ بے
علمه خلق وُو،نو هغوئ حيران شول اَؤ وئے پيژندل چه دا خو دَ عيسىٰ ملګرى وُو. ۱٤ کله چه هغوئ
هغه سړے روغ جوړ دَ دوئ سره ولاړ وليدلو نو دَ هغوئ سره هيڅ جواب نۀ وُو. ۱۵ نو هغوئ هغو ته
حُکم ورکړو چه دَ جرګے نه وزئ اَؤ بيا ئے په خپله په دے خبره بحث شروع کړو. ۱٦ هغوئ ووئيل چه
”مُونږ ته دَ دے سړو سره څۀ کول په کار دى؟ ځکه چه په بيتُ المُقدس کښے هر چا ته معلُومه ده چه
يوه نا آشنا مُعجزه دَ دوئ دَ لاسه څرګنده شوے ده اَؤ مُونږ ترے انکار نۀ شُو کولے. ۱۷ خو دَ دے دَ پاره
چه په خلقو کښے دا خبره نوره خوره نۀ شى نو غوره به دا وى چه مُونږ هغوئ ته خبردارے ورکړُو چه دَ
دے نه پس به په دغه نُوم دَ هيچا سره خبرے نۀ کوئ.“

۱۸ بيا ئے هغوئ دَ ننه راوبلل اَؤ په سختئ سره ئے حُکم ورکړو چه ”دَ عيسىٰ په نُوم هر قسم تعليم مه
ورکوئ اَؤ نۀ به په عام اُولس کښے خبرے کوئ.“ ۱۹ خو پطروس اَؤ يوحنا هغوئ ته په جواب کښے
ووئيل،”تاسو په خپله اِنصاف وکړئ چه آيا دَ خُدائے په نظر کښے دا خبره دُرسته ده چه مُونږ دَ هغۀ په
ځائے ستاسو حُکم ومنُو. ۲۰ مُونږ دَ هغه څيزُونو دَ خبرولو نه هيڅ کله نۀ شُو منع کيدے کُوم چه مُونږ
ليدلى اَؤ آوَريدلى دى.“ ۲۱ جرګے دا خبردارے په سختئ سره ورکړو اَؤ هغوئ ئے پريښودل اَؤ په دے
پوهه شول چه دوئ له سزا ورکول نامُمکنه ده ځکه چه ټول خلق دَ دے شوى کار په وجه دَ خُدائے په
لوئ کولو لګيا وُو. ۲۲ په کُوم سړى چه دَ روغولو دا مُعجزه څرګنده کړے شوے وه،دَ هغۀ عُمر دَ
څلويښتو کالو نه زيات وُو.

## دَ ايماندارانو دَ زړۀ ورتيا دَ پاره دُعا

۲۳ کله چه پطروس اَؤ يوحنا پريښے شول نو هغوئ خپلو ملګرو ته لاړل اَؤ هغه هر څۀ ئے ورته ووئيل څۀ
چه مشرانو کاهنانو اَؤ سردارانو هغوئ ته وئيلى وُو. ۲٤ کله چه هغوئ دا واوريدل نو هغوئ په جمع دَ
خُدائے نه دُعا وکړه،”ائے مالِکه! دَ مزکے آسمان اَؤ سمندر اَؤ هر څۀ چه په دے کښے دى دَ هغو
جوړُوونکيه! ۲۵ چا چه دَ رُوحُ القُدس په وسيله دَ خپل خادم داؤد په خُلۀ دا وئيلى وُو چه:

«غير قومُونه ولے په قهر شول

اَؤ اُمتُونه بے ځايه سازشونه ولے کوى؟

۲٦ دَ دُنيا بادشاهان پورته شول

اَؤ حاکمان دَ مالِک اَؤ دَ هغۀ دَ مسيح په خلاف

يو ځائے شول.»

٢٧ هیرودیس اَؤ یونطُوس پیلاطوس دَ غیرو قومُونو اَؤ اِسرائیلیانو سره په دے ښار کښے ستا دَ پاک خادم
عیسیٰ چه تا مسح کړے دے په خلاف یو ځائے شول، ٢٨ چه هغه هر څۀ وکړی کُوم چه ستا دَ لاس
لاندے اَؤ ستا په حُکم دَ مخکښے نه مُقرر شوی وُو. ٢٩ اَؤ اوس اَئے مالِکه! دَ هغوئ زورنے ته پام وکړه
اَؤ خپلو غلامانو ته دا قوت ورکړه چه مُونږ ښۀ په زړورتیا سره ستا کلام بیان کړُو. ٣٠ خپل لاس راُوږد کړه
چه ستا دَ پاک خادم عیسیٰ په نُوم دَ روغولو مُعجزے څرګندولو اَؤ عجیبه کارُونو عمل جاری پاتے شی.“

٣١ کله چه هغوئ خپله دُعا ختمه کړه نو په کُوم کور کښے چه هغوئ راغونډ شوی وُو،هغه وجړقیدلو اَؤ
ټول په رُوحُ القُدس معمُور شول اَؤ دَ خُدائے کلام ئے ښۀ په زړۀ ورتیا بیان کړو.

## دَ مال شراکت

٣٢ دَ عیسیٰ دَ منُونکو ډلے پُوره په اِخلاص سره یووالے لرلو اَؤ په هغوئ کښے یو کس هم دَ یو څیز دَ پاره
دا دعویٰ نۀ کوله چه ګنی دا دَ هغۀ دے بلکه په هر یو شی کښے شریک وُو.

٣٣ اَؤ چه رسُولانو پُوره په زړۀ ورتیا سره دَ عیسیٰ دَ بیا راژوندی کیدو شهادت کاوو نو په خلقو باندے ډیر
اثر کیدو اَؤ دَ خُدائے فضل پرے وُو. ٣٤ په هغوئ کښے یو کس هم حاجتمند نۀ وُو ځکه چه دَ هر چا
چه څۀ مزکه یا کور وُو،هغه ئے خرڅ کړل اَؤ دَ هغے قیمت ئے راوړلو، ٣٥ اَؤ دَ رسُولانو په پښو کښے به
ئے هغه پیسے کیښودلے. بیا هغه پیسے هر هغه یو ته ورکړے شوے چا ته چه ئے حاجت وُو.

٣٦ اَؤ یُوسف نُومے یو لیوی وُو چه رسُولانو به ورته برنبا وئیل چه معنے ئے مرسته کوُونکے ده اَؤ هغه له
اصله دَ قبرص اوسیدُونکے وُو. ٣٧ اَؤ دَ هغۀ یو پټے وُو کُوم چه هغۀ خرڅ کړو. هغۀ پیسے ئے راوړے اَؤ
هغه ئے دَ رسُولانو په پښو کښے کیښودلے.

# اَعمال د رسُولانو باب ۵

## حننیاه اَؤ سفیره

١ خو یو بل سړے وُو چه حننیاه نومیدو اَؤ سفیره نُومے ښځه ئے وه چا چه جائیداد خرڅ کړو. ٢ اَؤ خپلے
ښځے په مصلحت ئے دَ قیمت څۀ حصه دَ ځان سره وساتله اَؤ څۀ ئے راؤړه اَؤ دَ رسُولانو په پښو کښے
ئے کَیښودله. ٣ خو پطروس ووئیل چه”حننیاه! دا شیطان درباندے څنګه غالب شو چه تۀ رُوحُ القُدس ته
دروغ وائے اَؤ دَ قیمت څۀ حصه دِ ځان ته پریښوه؟ ٤ تر څو چه درسره وه دا ستا نۀ وه څۀ؟ هر کله دا
خرڅه شوه نو بیا دا ستا نۀ وه څۀ؟ نو تا بیا دا فیصله څنګه وکړه؟ تا یواځے بُنیادمو ته دروغ نۀ دی وئیلی
بلکه خُدائے ته!“ ٥ کله چه حننیاه دا خبرے واؤریدے نو هغه راپریوتو اَؤ مړ شو اَؤ نورو ټولو چه دا
واؤریدل نو ویرے واخستل. ٦ بیا ځوانان راپاسیدل دَ هغه لاش ئے په کفن کړو،یوے وړو اَؤ ښخ ئے
کړو.

٧ بیا درے ګینټے پس دَ هغۀ ښځه راغله اَؤ څۀ چه شوی وُو دَ هغے ورته هیڅ پته نۀ وه. ٨ پطروس هغے

ته مخ راواړوو اَؤ ورته ئې ووئيل چه"ووايه! تا ته دَ مزکې دومره دومره قيمت درکړې شوې وُو؟"

هغې ووئيل چه"هو،هم دغه قيمت وُو."

۹ بيا پطروس ووئيل،"نو بيا تاسو دواړو دَ رُوحُ القُدس آزميښت څۀ له کولو؟ ګوره! په دروازه کښې هغه
خلق ولاړ دی چا چه ستا خاوند ښخ کړو اَؤ هغوئ به تا هم يو سی؟!" ۱۰ اَؤ ناڅاپي هغه دَ هغۀ په پښو
کښې راپريوته اَؤ مړه شوه. کله چه ځوانان دَ ننه راغلل هغوئ هغه مړه ومُونده نو هغوئ هغه يوړه اَؤ دَ
خاوند په خوا کښې ئې ښخه کړه. ۱۱ اَؤ په ټول جماعت اَؤ په هغه ټولو خلقو ويره خوره شوه چا چه دا
خبرې واؤريدلې.

## نخښې اَؤ عجيبه کارُونه وشول

۱۲ نخښې اَؤ عجيبه کارُونه دَ خلقو دَ وړاندې دَ رسُولانو دَ لاسه ظاهر شول. هغوئ به دَ سليمان په
ډوډئ کښې په يوه صلاح راغونډيدل. ۱۳ اَؤ دَ بهر نه دَ دوئ سره هيچا ګډُون نۀ کولو سره دَ دې چه
اکثرو خلقو به دَ دوئ تعريف کولو. ۱٤ اَؤ سيوا لا دا چه ډيرو سړو اَؤ ښځو چه په مالِک ئې ايمان راوړو
په ډله کښې شامل شول. ۱۵ بلکه لا دا چه بيماران به ئې کُوڅو ته راويستل اَؤ هلته به ئې په بسترو اَؤ
کټُونو کيښودل دَ دې دَ پاره چه دَ پطروس سورې دَ تيردو په وخت په يو يا په بل پريوزی. ۱٦ اَؤ دَ بيتُ
المُقدس دَ ګير چاپيره ښارُونو خلقو به هغه څوک ورته راوستل چه بيماران وُو اَؤ يا پيريانو نيولی وُو اَؤ
هغوئ ټول روغ شول.

## رسُولانو ته سزا ورکول

۱۷ بيا مشر کاهن اَؤ دَ هغۀ ملګری صدُوقيان دَ حسد دَ لاسه را اُوچت شول. ۱۸ هغوئ رسُولان ګرفتار
کړل اَؤ په حوالات کښې ئې بند کړل. ۱۹ خو د مالِک يوې فرښتې دَ شپې دَ قيد خانې دروازې
خلاصې کړلې،هغوئ ئې بهر راووستل اَؤ وئې وئيل، ۲۰ "ځئ،دَ خُدائے په کور کښې ودريږئ اَؤ خلقو ته
دَ نوی ژوندُون ټولې خبرې وښيئ." ۲۱ دغه شان هغوئ دَ خُدائے کور ته سحر مال ننوتل اَؤ تعليم ئې
ورکاوو.

کله چه مشر کاهن دَ خپلو ملګرو سره راورسيدو نو دَ اِسرائيل دَ قوم لويه جرګه ئې راوغوښته اَؤ دَ قيديانو
دَ راوستلو دَ پاره ئې څوک قيد خانې ته واستول. ۲۲ خو چه سپاهيان قيد خانې ته ورغلل نو رسُولان ئې
هلته ونۀ مُوندل،نو هغوئ واپس راغلل اَؤ خبر ئې ورکړو ۲۳ چه"مُونږ دَ قيد خانې هر يو ځائے مکمل بند
وليدو اَؤ مُحافظان په دروازو کښې په خپلو ځايُونو ولاړ وُو خو چه ورُونه مو بيرته کړل نو دَ ننه په کښې
هيڅوک نۀ وُو!" ۲٤ کله چه دَ خُدائے دَ کور واکدار اَؤ مشر کاهنانو دا واؤريدل نو حيران شول چه دَ
دې اَنجام به څۀ وی. ۲۵ اَؤ بيا يو سړی دا خبر راؤړو چه"ګورئ! کُوم سړی چه تاسو په قيد خانې کښې
اچولی وُو هغوئ خو هلته دَ خُدائے په کور کښې خلقو ته تعليم ورکوی!" ۲٦ په دې آؤريدو دَ خُدائے دَ
کور واکدار سره دَ سپاهيانو ورغے اَؤ راوئې نيول خو هيڅ زور ئې له دې ويرې اِستعمال نۀ کړو چه خلق
مو سنګسار نۀ کړی.

۲۷ نو هغوئ ئے راوستل اَؤ دَ جرگے دَ وړاندے ئے ودرول اَؤ مشر کاهنانو خپله جرح شروع کړه چه ۲۸
”مُونږ تاسو په سختئ سره منع کړی وئ چه په هغه نُوم تعلیم مه ورکوئ. گورئ،تاسو خو دا تعلیم په
ټول بیتُ المُقدس کښے خور کړے دے اَؤ دا کوشش کوئ چه دَ هغه سړی وینه زمُونږ په غاړه کړئ!“

۲۹ خو پطروس اَؤ دَ هغهٔ نورو رسُولانو ملگرو جواب ورکړو چه ”مُونږ به دَ بنی آدمو نه،بلکه دَ خُدائے
حُکم منُو. ۳۰ زمُونږ دَ پلارُونو نیکُونو خُدائے هغه عیسیٰ چه تاسو په سولئ کړے اَؤ وژلے وُو،بیا راژوندے
کړو. ۳۱ دا هغه دے چه خُدائے په خپل ښی لاس کښینولے دے اَؤ سردار اَؤ خلاصُونکے ئے گرزولے
دے دَ دے دَ پاره چه بنی اِسرائیل توبه گار کړی اَؤ گُناهُونو معافی ورله ورکړی. ۳۲ اَؤ مُونږ اَؤ رُوحُ
القُدس دَ دے هر څهٔ شاهدان یُو،یعنے هغه رُوحُ القُدس چه خُدائے هغه چا ته ورکړے دے چه دَ هغهٔ
تابعدار دی.“

۳۳ په دے دَ هغوئ زړهٔ سُورے شو اَؤ دا ئے غوښتل چه هغوئ رسُولان مړهٔ کړی. ۳۴ خو جرگے یو
غړے چه گملی ایل نومے یو فریسی وُو راپاڅیدلو چه دَ شریعت اُستاذ اَؤ په خلقو کښے ډیر عزتمند وُو.
هغهٔ دا تجویز پیش کړو چه دا سړی دِ لږے شیبے له بهر کړے شی. ۳۵ بیا هغهٔ ووئیل چه”اَئے اِسرائیلیانو!
دَ دے خلقو په فیصله کولو کښے لږ پام کوئ. ۳۶ ځکه چه څهٔ مُوده وړاندے تیوداس هم دا دعویٰ
کړے وه چه زَهٔ هم څهٔ یم،اَؤ خوا اَؤ شا څلور سوه تنه ورسره ملگری شوی وُو،خو هغه قتل کړے شو اَؤ
دَ هغهٔ ټول ملگری خوارهٔ وارهٔ شول. ۳۷ دَ هغهٔ نه پس دَ مردُم شمارئ په ورځو کښے دَ گلیل دَ صوبے یو
یهُوداه نومے سړے پورته شو اَؤ ډیر خلق دَ هغهٔ په لسمے باغیان شول،خو هغه هم هلاک شو اَؤ ټوله ډله
ئے خوره وره شوه. ۳۸ نو اوس دغه شان په دے سړو هم څهٔ غرض مه لرئ. زَهٔ تاسو ته وایم،دوئ
پریږدئ ځکه چه که په دے خبرے اَؤ په عمل کښے دَ بنی آدمو لاس وی نو دا به په خپله ختم شی. ۳۹
خو که چرے دا دَ خُدائے دَ طرفه وی نو تاسو ئے هیڅ کله هم نهٔ شئ ختمولے اَؤ دَ خُدائے سره مقابله
مه کوئ.“ ۴۰ هغوئ دَ گملی ایل مشوره ومنله اَؤ رسُولان ئے راوبلل اَؤ په کروړو ئے ووهل،بیا ئے هغوئ
ته حُکم ورکړو چه دَ عیسیٰ په نُوم تعلیم مه ورکوئ،نو بیا ئے رسُولان پریښول. ۴۱ نو هغه رسُولان دَ
جرگے نه په دے خوشحالئ راووتل چه هغوئ دَ دے جوگه وگڼلے شول چه دَ هغهٔ په نُوم دِ سپک کړے
شی. ۴۲ اَؤ هره ورځ هغوئ دَ خُدائے په کور کښے اَؤ په کُورونو کښے تعلیم ورکول جاری وساتلو اَؤ دا
زیرے ئے ورکاوو چه عیسیٰ مسیح دے.

## اَعمال د رسُولانو باب ۶

## اُووهٔ کسان نامزد کیدل

۱ په هغه ورځو کښے چه دَ عیسیٰ دَ مُنونکو شمار زیاتیدو نو په یُونانی ویُونکو اَؤ عبرانی ویُونکو یهُودیانو
کښے اِختلاف پیدا شو. دَ اولنے ډلے دا شکایت وُو چه دَ هغوئ کونډو ښځو دَ روزانه خوراک په ویش
کښے بے پرواهی کیږی. ۲ نو هغه دولسو رسُولانو دَ عیسیٰ مُنونکو ټوله جرگه راوبلله اَؤ وئے وئیل چه”دا
زمُونږ دَ پاره مناسب نهٔ دی چه مُونږ دَ خُدائے کلام آؤرول پریږدُو اَؤ دَ خوراک څښاک بندوبست کُوُو. ۳

نو ځکه اَئے ملګرو! اُووهٔ نیک کسان غوره کړئ چه هغه دَ رُوحُ القُدس نه معمُور وی اَوْ عقل هم په
کښے وی اَوْ مُونږ به ئے دَ دے کارُونو دَ پاره مُقرر کړو. ٤ خو مُونږ به په دُعا اَوْ کلام آوُرولو کښے لګیا
یُو.“

٥ دا تجویز دَ هر چا خوښ شو اَوْ هغوئ دا کسان خوښ کړل،یعنے ستِفانوس چه ایمان ئے پوخ اَوْ له
رُوحُ القُدس نه معمُور وُو،اَوْ فیلیپوس،پروخوروس،نیکانور،تیمون،پَرمناس اَوْ نیکلاس انطاکی چه څهٔ مُوده
وړاندے یهُودی شوے وُو. ٦ هغوئ دا کسان رسُولانو ته وړاندے کړل اَوْ هغوئ دُعا وکړه اَوْ په هغوئ
ئے خپل لاسُونه کیښودل.

٧ څنګه چه دَ خُدائے کلام خوریدو نو په بیتُ المُقدس کښے دَ عیسیٰ دَ مَنُونکو شمیر په تیزئ سره
زیاتیدو،اَوْ ډیر کاهنان هم دے دین ته راواوُړیدل.

## دَ ستِفانوس ګرفتاریدل

٨ اَوْ ستِفانوس له فضل اَوْ قوت نه معمُور وُو اَوْ دَ خلقو په مخ کښے ئے ډیرے مُعجزے اَوْ لوئے لوئے
کارُونه څرګندول. ٩ نو دَ آزاد شوو یهُودیانو دَ عبادت خانے نه چه ورته دَ لِبرتیان عبادت خانه وائی اَوْ دَ
کورینیانو اَوْ د اسکندریانو وائی،ځنے خلقو دَ کلکیه اَوْ ایشیا یهودیانو دَ ستِفانوس سره بحث ونښلوو. ١٠
خو دَ هغهٔ دَ رُوح دَ حکمت په وړاندے ټینګ نهٔ شول. ١١ بیا هغوئ ځنے نور داسے خلق ولمسول چه
دا اِلزام پرے ولګوی چه هغوئ دَ هغهٔ دَ خُلے نه دَ مُوسیٰ اَوْ د خُدائے خلاف دَ کُفر خبرے آوُریدلی
دی. ١٢ هغوئ خلق اَوْ مشران اَوْ دَ شرعے عالمان راوپارول اَوْ هغوئ ئے ورپسے کړل اَوْ ستِفانوس ئے
ونیولو اَوْ جرګے ته ئے پیش کړو. ١٣ هغوئ دَ دروغو ګواهئ تیرے کړے اَوْ وئے وئیل چه”دا سړے دَ
شروع راسے دَ خُدائے دَ دے کور اَوْ دَ مُوسیٰ دَ شریعت په خلاف خبرے کوی. ١٤ ځکه چه مُونږ دَ دهٔ
نه دا خبرے آوُریدلی دی چه هغه عیسیٰ ناصری به دا دَ خُدائے کور وران کړی اَوْ مُوسیٰ چه مُونږ ته کُوم
رسمُونه راکړی دی هغه به بدل کړی.“ ١٥ اَوْ په جرګه کښے ناستو خلقو هغهٔ ته ځیر ځیر وکتل اَوْ دَ هغهٔ
مخ ورته دَ فرښتے دَ مخ په شان ښکاره شو.

# اَعمال د رسُولانو باب ٧

## دَ ستِفانوس وعظ

١ نو بیا مشر کاهن دَ ستِفانوس نه تپوس وکړو چه”دا داسے ده څهٔ؟“

٢ نو ستِفانوس جواب ورکړو،”اَئے زما ورُونړو اَوْ دَ قوم پلارُونو! زما خبره واوَرئ! دَ جلال خاوند خُدائے
زمُونږ بابا اِبراهیم ته هغه وخت ښکاره شو چه هغه لا دَ حاران په ښار کښے نهٔ اوسیدو بلکه دَ
میسوپوتامیه په ملک کښے اوسیدو. ٣ نو خُدائے ورته ووئیل: «خپل ملک اَوْ خپل خپلوان پرېږده اَوْ هغه
ملک ته لاړ شه چه زهٔ ئے درته ښیم.» ٤ په دے هغه دَ کلدانیانو دَ ملک نه ووتو اَوْ په حاران کښے دیره
شو. دَ اِبراهیم دَ پلار دَ مرګ نه پس خُدائے هغه دے ځائے ته راوستو چرته چه اوس تاسو اوسیږئ. ٥ خو

خُدائے ورته يو ګز قدرے ځائے هم داسے ورنۀ کړو چه هغه ئے خپل وبولی،خو دا وعده ئے ورسره وکړه
چه دا به دَ دۀ اَؤ دَ دۀ نه پس دَ دۀ اَؤلاد په قبضه کښے ورکړی،سره دَ دے چه هغه وخت ئے اَؤلاد لا نۀ
وُو. ٦ خُدائے ورته داسے ووئيل چه: «دَ اِبراهيم اَؤلاد به په پردی ملک کښے دَ مُسافرو په شان اوسيږی
اَؤ تر څلورو سوو کالو پورے به ورسره زياتے کيږی اَؤ غُلامان به وی.» ٧ اَؤ خُدائے ووئيل چه: «زۀ به
هغه قوم ته چه دوئ ئے غُلامان وی حُکم وکړم اَؤ دَ هغے نه پس به هغوئ آزاد شی اَؤ په دے ځائے
کښے به زما عبادت کوی.» ٨ نو بيا خُدائے دَ اِبراهيم سره دَ سُنت وعده وکړله. اَؤ چه له اِبراهيم نه
اِسحاق پيدا شو نو هغۀ په اتمه ورځ سُنت کړو اَؤ هغه شان اِسحاق دَ خپل زوئے يعقُوب،اَؤ يعقُوب دَ
خپلو زامنو چه وروستو دَ دولسو قبيلو مشران شول.

٩ خو دَ يُوسف ورُوڼو دَ حسد په وجه يُوسف خرڅ کړو اَؤ دغه شان هغه مصر ته ورسيدو. خو خُدائے دَ
هغۀ مل وُو، ١٠ اَؤ هغه ئے دَ خپلو ټولو تکليفونو نه خلاص کړو. اَؤ خُدائے هغۀ ته داسے فضل اَؤ
حِکمت ورکړو چه دَ مِصر دَ فرعون په وړاندے مقبُول شو اَؤ فرعون دَئے دَ ټول مصر اَؤ خپلے شاهی
کورنئ واکدار کړو. ١١ خو په ټول مِصر اَؤ دَ کنعان په ملک قحط راغے اَؤ سخته تنګسيا راغله اَؤ زمُونږ دَ
پلارُونو سره دَ خوراک هيڅ شے نۀ وُو. ١٢ خو کله چه يعقُوب واؤريدل چه هلته په مِصر کښے غله شته
نو هغۀ زمُونږ پلارُونه په اول ځل هلته واستول. ١٣ په دويم ځل يُوسف خپلو ورُوڼو ته خپل ځان ښکند
کړو اَؤ فرعون ته دَ هغۀ دَ خاندان په حقله پته ولګيده. ١٤ نو يُوسف خپل پلار يعقُوب اَؤ خپلو ټولو رشته
دارانو ته چه شمار کښے ټول ټال پنځۀ اؤيا کسان وُو،بلنه ورکړه. ١٥ اَؤ بيا يعقُوب مِصر ته لاړو اَؤ هلته
هغه اَؤ زمُونږ پلارُونه اَؤ نيکُونه مړۀ شول. ١٦ اَؤ دَ هغوئ لاشُونه بيا شِکم ښار ته يوړے شول اَؤ هلته په
قبرونو کښے ښخ کړے شول،کُوم چه اِبراهيم دَ بنی همور نه په شِکِم ښار کښے په بيعه اخستے وُو.

١٧ کله چه دَ اِبراهيم سره دَ خُدائے هغه کړے وعده دَ پُوره کيدو وخت رانزدے شو نو زمُونږ قوم په مصر
کښے په شمير زيات شو. ١٨ آخر دا چه په مصر کښے يو بل بادشاه په تخت کښيناستو چا چه يُوسف نۀ
پيژندو. ١٩ هغۀ زمُونږ دَ قوم سره ټګی وکړله اَؤ زمُونږ مشران ئے په ظُلم دے ته مجبور کړل چه خپل بچی
بهر وغورزوی چه ژوندی پاتے نۀ شی. ٢٠ هم په دغه وخت مُوسیٰ پيدا شو. هغه يو ښکلے ماشوم وُو اَؤ دَ
خُدائے خوښ وُو اَؤ تر دريو مياشتو پورے هغه دَ خپل پلار په کور کښے وساتلے شو. ٢١ اَؤ هر کله چه
هغه وغورزولے شو نو دَ فرعون لُور په خپله هغه واخستو اَؤ دَ خپل زوئے په شان ئے وساتلو. ٢٢ نو مُوسیٰ
دَ مصريانو دَ ټول حکمت اَؤ پوهے تعليم ومُوندو اَؤ هغه په کارُونو اَؤ کلام کښے ښۀ قابل شو.

٢٣ مګر چه هغه دَ څلويښتو کالو شو،نو دَ هغۀ په زړۀ کښے دا خيال پيدا شو چه هغه دَ خپلو وطنيانو
اِسرائيليانو سره ليدۀ کاتۀ وکړی. ٢٤ هغۀ وکتل چه په هغوئ کښے دَ يو سره بد سلُوکی وشوه نو هغه دَ
هغۀ دَ مدد دَ پاره ورغلو اَؤ دَ مظلُوم بدل ئے دَ مِصری نه واخستو اَؤ مړ ئے کړو. ٢٥ اَؤ دَ هغۀ خيال وُو
چه دَ دَۀ وطنيان به په دے پوهه شی چه دَ دَۀ په وسيله خُدائے ورته خلاصُون ورکوی،خو هغوئ پوهه نۀ
شول. ٢٦ بله ورځ هغۀ دوه داسے کسان وليدل چه سره جنګيدل،اَؤ دَ هغوئ دَ جګړے دَ ختمولو
کوشش ئے وکړو. مُوسیٰ ورته ووئيل چه:«اَئے زلمو! تاسو خو ورُوڼه يئ،نو ولے تاسو دَ يو بل سره
بدسلُوکی کوئ؟» ٢٧ خو کُوم يو زلمی چه دَ خپل ګاونډی سره ظلم کولو نو دَئے ئے ديکه کړو اَؤ وئے

وئيل چه «دا تهٔ لا چا په مُونږ حاکم اَوْ مُنصف جوړ کړے؟ ٢٨ آيا تهٔ ما هم دَ پرونى مِصرى په شان مړ
کول غواړے څهٔ؟» ٢٩ مُوسىٰ دَ دے خبرے په آؤريدو دَ ملک نه وتښتيدو اَوْ دَ ميديانو په ملک کښے
ديره شو. هلته د هغهٔ دوه زامن پيدا شول.

٣٠ کله چه څلويښت کاله پُوره شول نو دَ سينا دَ غر په صحرا کښے يو دَ اور لمبے وهُونکى بوټى دَ شُغلو
نه يوه فرښته ورته ښکاره شوه. ٣١ مُوسىٰ دَ هغے په ليدو حيران شو خو چه هغه دَ ښهٔ ليدو دَ پاره ورنزدے
شو نو دَ رب آواز ئے واؤريدو چه: ٣٢ «زهٔ ستا دَ پلارُونو نيکُونو خُدائے يم،دَ اِبراهيم اَوْ دَ اِسحاق اَوْ دَ
يعقُوب خُدائے يم.» اَوْ مُوسىٰ دَ ويرے نه رپيدو اَوْ ورته ئے کتلے نهٔ شول. ٣٣ بيا رب هغهٔ ته ووئيل:
«خپل پيزار وباسه،په کُوم ځائے چه تهٔ ولاړ يئے،دا پاکه مزکه ده. ٣٤ ما بے شکه ليدلى دى چه زما خلق
په مِصر کښے څومره په تکليف کښے دى. دَ هغوئ اسويلى مے آؤريدلى دى اَوْ زهٔ دَ هغوئ دَ خلاصُون
دَ پاره راکُوز شوے يم. نو اوس پاځه چه زهٔ تا مصر ته وليږم.»

٣٥ دا مُوسىٰ چه اِسرائيليانو په دے ټکو رد کړے وُو چه تهٔ چا زمُونږ حاکم اَوْ مُنصف جوړ کړے يئے؟
هم دغه سړے خُدائے په خپله حاکم اَوْ خلاصوُونکے مُقرر کړو. دَ هغه فرښتے په وسيله ئے وليږلو چه
ورته په بوټى کښے ښکاره شوے وه. ٣٦ هم دغه مُوسىٰ وُو چه هغوئ ئے دَ مصر نه بهر وويستل اَوْ په
مصر اَوْ په بحرِ قُلزم کښے اَوْ تر څلويښتو کالو پورے ئے په صحرا کښے عجيبه کارُونه اَوْ نخښے ښکاره
کولے. ٣٧ دا هم هغه مُوسىٰ دے چه اِسرائيليانو ته ئے ووئيل : «خُدائے به تاسو ته دَ خپل قوم نه ستاسو
دَ پاره زما په شان يو نبى پيدا کړى.» ٣٨ کله چه دوئ په صحرا کښے راغونډ شوى وُو نو دغه مُوسىٰ دَ
سينا په غرهٔ دَ فرښتے سره اَوْ زمُونږ دَ پلارُونو اَوْ نيکُونو سره ئے خبرے وکړے،اَوْ دَ خُدائے هغه ژوندے
کلام ئے ومُوندو چه مُونږ ته ئے راورسوى.

٣٩ خو زمُونږ پلارُونو نيکُونو دَ هغهٔ مشرى ونهٔ منله. هغوئ هغه رد کړو اَوْ هغوئ دا غوښتل چه مصر ته
بيرته لاړ شى. ٤٠ اَوْ هارُون ته ئے ووئيل چه: «مُونږ له داسے خدايان جوړ کړه چه زمُونږ نه وړاندے ځى.
هغه مُوسىٰ چه مُونږ ئے دَ مِصر نه راويستلو،خبر نهٔ يو چه په هغهٔ څهٔ وشول.» ٤١ نو هغه وخت هغوئ دَ
سخى په شکل يو بُت جوړ کړو اَوْ هغه بُت ته ئے قُربانى وکړه اَوْ دَ خپلو لاسُونو جوړ شوى څيز دَ پاره
ئے خُوشحالى وکړله. ٤٢ خو خُدائے دَ هغوئ نه مخ واړولو اَوْ هغوئ ئے پريښودل چه دَ آسمان دَ لښکر
عبادت وکړى لکه چه دَ نبيانو په کتاب کښے ليکلى دى:

«اَئے اِسرائيليانو! آيا تاسو ما ته په صحرا کښے

دَ هغه څلويښتو کالو قُربانئ پيش کړے؟

٤٣ نه! تاسو خو دَ مولک خيمه اَوْ دَ رفان خُدائے ستورے ځان ته واخستلو،

هغه بُتان چه تاسو دَ سجدو دَ پاره جوړ کړى وُو.

نو زهٔ به تاسو دَ بابل نه هغه خوا بوزم.»

٤٤ زمُونږ دَ پلارُونو نیکُونو سره په صحرا کښې دَ شهادت خیمه وه،لکه چه مُوسیٰ ته خُدائے حُکم کړے
وُو چه په هغه رنګ ئے جوړه کړه په کُومه نمُونه چه هغهٔ لیدلے وه. ٤٥ اَؤ پلارُونو نیکُونو دَ یشوع سره
هغه خیمه راؤړه،کله چه هغوئ دَ هغه قومُونو په ملک قبضه وکړه کُوم چه دَ دوئ په وړاندے خُدائے
وویستل. دا خیمه دَ داؤد تر ورځو پورے وه. ٤٦ په داؤد دَ خُدائے فضل وُو چه دا سوال ئے وکړو چه دَ
یعقُوب دَ خُدائے دَ پاره دَ دیرے جوړولو اِجازت راکړه. ٤٧ خو سلیمان دَ هغهٔ دَ پاره کور جوړ کړو.

٤٨ سره دَ دے چه الاعلیٰ دَ سړو په جوړ کړو کُورُونو کښې نهٔ اوسی،لکه چه نبی وائی:

٤٩ «آسمان زما تخت دے اَؤ مزکه زما دَ پښو تیکه ده

تاسو به زما دَ پاره څهٔ قِسم کور جوړ کړئ؟

رب وائی چه زما دَ آرام ځائے چرته دے؟

٥٠ آیا دا ټول څیزُونه ما نهٔ دی جوړ کړی؟»

٥١ تاسو څومره سر کښ یئ! په زړُونو کښې لا تر اوسه کافر اَؤ رښتیاؤ ته کاڼهٔ یئ! تاسو همیشه دَ رُوحُ
القُدس سره جنګیږئ لکه چه ستاسو پلارُونو نیکُونو کول! ٥٢ داسے یو نبی هم شته چه ستاسو پلارُونو نهٔ
وی عذابولے؟ هغوئ هغه نبیان ووژل چه دَ صادِق دَ راتلو پیشن ګوئی ئے کړے وه. اَؤ اوس تاسو په هغه
صادِق مُخبری وکړه اَؤ مړ مو کړو. ٥٣ تاسو ته دَ خُدائے دَ فرښتے په وسیله شریعت درکړے شو خو تاسو
امانت ونهٔ ساتلو!“

## دَ ستِفانوس سنګسار کیدل

٥٤ دَ جرګے دَ خلقو په دے خبره زړُونه سُوری شول اَؤ په غُصه کښې ئے غاښُونه چیچل. ٥٥ اَؤ
ستِفانوس چه په رُوحُ القُدس معمُور وُو اَؤ آسمان ته ئے ځیر وکتل نو هغهٔ دَ خُدائے جلال ولیدو اَؤ عیسیٰ
دَ خُدائے ښی لاس ته ولاړ وُو. ٥٦ هغهٔ ووئیل چه”ګورئ! آسمان پرانستے دے اَؤ زهٔ اِبن آدم دَ خُدائے په
ښی لاس ولاړ وینم!“

٥٧ په دے هغوئ په زوره چغے کړے اَؤ خپل غوږُونه ئے بند کړل. بیا هغوئ په هغهٔ ورمنډے کړے، ٥٨
اَؤ هغه ئے دَ ښار نه بهر وویستو اَؤ سنګسار ئے کړو. اَؤ ګواهانو خپلے جامے دَ ساؤل نُومے یو ځوان
سړی په پښو کښې کیښولے. ٥٩ نو هغوئ ستِفانوس سنګسار کړو اَؤ چه هغوئ داسے وکړل نو هغهٔ چغے
کړے چه”اَئے مالِکه عیسیٰ! زما رُوح قبُول کړه!“ ٦٠ بیا هغه په زنګنُونو شو اَؤ په زوره ئے چغے
کړے،”مالِکه! دوئ په دے ګُناه مه نیسه!“اَؤ دا وئیلو سره ئے ساه ورکړه.

## اَعمال د رسُولانو باب ٨

۱ اَؤ ساؤل هم په هغه کسانو کښے ؤُو چه دَ هغۀ په مرګ راضی ؤُو

## دَ ساؤل جماعت ربړَول

اَؤ هم هغه ورځ دَ بیتُ المُقدس په جماعت سخت ربړول شروع شول اَؤ دَ رسُولانو نه بغیر نور ټول
عیسیٰ مُنونکی دَ یهُودیه اَؤ سامریه په ملکُونو کښے خوارۀ وارۀ شوی ؤُو. ۲ سټِفانوس عیسیٰ مُنونکو ښخ
کړو اَؤ هغوئ ډیره ژړا پړے وکړه.

۳ په دے دوارن کښے ساؤل جماعت تباه کولو. هغه کور په کور ننوتو اَؤ عیسیٰ مُنونکی سړی اَؤ ښځے
ئے نیول اَؤ قید خانے ته ئے بوتلل.

## په سامریه کښے دَ زیری وعظ کول

٤ اَؤ هغه دَ عیسیٰ مُنونکی چه په ملک کښے خوارۀ وارۀ شوی ؤُو هغوئ په هر ځائے کښے دَ کلام
زیرے آؤرولو. ٥ نو فیلیپوس دَ سامریه یو ښار له راغے اَؤ هغوئ ته ئے دَ مسیح په باب کښے وعظ وکړو.
٦ اَؤ هغه ګڼلو خلقو چه دَ فیلیپوس خبرے په غور واؤریدلے اَؤ دَ هغۀ مُعجزے ئے ولیدلے نو دَ هغۀ وعظ
ته ئے غوږ کیښودلو ٧ چه دَ ډیرو پیریانو نیولو نه پیریان په اُوچتو چغو راووتل اَؤ ډیر شل اَؤ ګوډ خلق روغ
شول. ٨ اَؤ په هغه ښار کښے لویه خوشحالی وه.

٩ اَؤ په هغه ښار کښے شمعُون نومے یو سړے ؤُو چه دَ څۀ مُودے نه دَ جادُو په زور ئے سامریان خپل
ځان ته را اړولی ؤُو اَؤ ځان ئے لوئے ګڼلو. ١٠ اَؤ هغوئ ټولو لویو اَؤ وړو دَ هغۀ خبرے په غور آؤریدلے
وے. هغوئ وئیل چه"دا سړے دَ خُدائے هغه قُدرت دے چه ورته لوئے وائی." ١١ هغوئ دَ هغۀ خبرے
ځکه آؤریدلے چه تر ډیرے مُودے ئے دَ خپل جادُو په زور حیران کړی ؤُو. ١٢ خو چه هغوئ دَ فیلیپوس
په هغه زیری ایمان راؤړو چه دَ خُدائے په بادشاهئ اَؤ دَ عیسیٰ مسیح دَ نُوم په باب کښے ئے آؤرولو نو
هغه سړو اَؤ ښځو بپتسمه واخستله. ١٣ تر دے چه شمعُون په خپله ایمان راوړو اَؤ بپتسمه ئے واخستله اَؤ
دَ دے نه پس فیلیپوس سره پاتے شو اَؤ هغه دَ دے زورَورو نخښو اَؤ عجیبه کارُونو په وجه حیران پاتے
شو.

١٤ بیا په بیتُ المُقدس کښے رسُولانو واؤریدل چه سامریانو دَ خُدائے کلام قبُول کړو نو هغوئ پطروس اَؤ
یوحنا ورواستول. ١٥ هغوئ هلته لاړل اَؤ دَ عیسیٰ مُنونکو دَ پاره ئے دُعا وکړله چه په دوئ دِ رُوحُ القُدس
نازل شی. ١٦ ځکه چه تر دے وخته په هیچا رُوحُ القُدس نازل شوے نۀ ؤُو. هغوئ بس دَ مالِک عیسیٰ
په نُوم بپتسمه اخستے وه. ١٧ نو پطروس اَؤ یوحنا په هغوئ لاسُونه کیښودل اَؤ هغوئ له رُوحُ القُدس نه
معمُور شول.

١٨ کله چه شمعُون ولیدل چه دَ رسُولانو دَ لاس په کیښودو رُوحُ القُدس ورکړے کیږی نو هغۀ هغوئ ته
پیسے وړاندے کړے، ١٩ اَؤ وئے وئیل چه"ما ته هم دغه طاقت راکړئ چه زۀ په چا لاس کیږدم نو چه
هغه په رُوحُ القُدس معمُور شی."

۲۰ نو پطروس جواب ورکړو، ”ستا پيسے دِ تا سره غرقے شی ځکه چه ستا دا خيال وُو چه دَ خُدائے
بخښنه په بيعه خرڅيږی! ۲۱ په دے خبره کښے ستا نۀ برخه شته نۀ حِصه ځکه چه تۀ خُدائے ته بد نيته
يئے. ۲۲ دَ دے بدئ نه توبه وکړه اَؤ دَ خُدائے نه دُعا وغواړه چه دَ داسے خيال کولو درته معافی وکړی.
۲۳ زۀ وينم چه تۀ ډير لالچی يئے اَؤ دَ گُناه غُلام شوے يئے.“

۲٤ نو شمعُون جواب ورکړو چه ”تاسو دَ مالک نه زما په حق کښے دُعا وغواړئ چه دا څۀ چه تا ووئيل،دا
په ما رانۀ شی.“

۲۵ نو هغوئ دَ شهادت اَؤ دَ مالک دَ کلام دَ آؤرولو نه پس بيرته بيتُ المُقدس ته لاړل اَؤ په لاره کښے
ئے دَ سامريانو ډيرو کلو ته دَ زيری وعظ آؤرولو.

## فيليپوس اَؤ حبشی خواجه

۲٦ بيا دَ رب فرښتے فيليپوس ته ووئيل، ”روان شه! اَؤ دَ بيتُ المُقدس نه غزه ته دَ سهيل په اړخ چه کُوم
سړک تلے دے په هغے روان شه،دا دَ صحرا سړک دے.“ ۲۷ نو هغه روان شو اَؤ په لاره کښے يو
حبشی خواجه په راتلو وليدلو. دا سړے خسی وُو اَؤ دَ حبش دَ کنداکی مَلِکے يوئے عهده دار اَؤ دَ هغے
دَ ټولے خزانے واکمن وُو. هغه بيتُ المُقدس ته عبادت له راغلے وُو. ۲۸ اَؤ اوس هغه کورته واپس روان
وُو. هغه په خپل گاډی کښے ناست وُو اَؤ دَ يشعياه نبی صحيفه ئے په زوره لوستله. ۲۹ اَؤ رُوحُ القُدس
فيليپوس ته ووئيل چه ”لاړ شه اَؤ هغه گاډی ته نزدے شه.“ ۳۰ نو فيليپوس ورمنډے کړے، نو وائے وريدل
چه هغۀ دَ يشعياه نبی صحيفه په زوره لوستله اَؤ ورته ئے ووئيل چه ”تۀ چه څۀ لولے په دے پوهيږے هم
څۀ؟“

۳۱ هغۀ ووئيل، ”زۀ پرے څنگه پوهيدے شم تر څو ئے چه څوک راته تشريح ونۀ کړی؟“ نو فيليپوس ته
هغۀ خواست وکړو چه ”گاډی ته راوخيژه اَؤ ما سره کښينه.“ ۳۲ هغۀ چه کُومه صحيفه لوستله هغه دا وه:

«هغه دَ گډے په شان حلالولو له بوتلے شو

اَؤ دَ هغه گډُوری په شان چه سکښتُونکی ته چُپ وی

اَؤ خپله خُلۀ نۀ پرانزی.

۳۳ هغه سپک کړے شو اَؤ ورسره اِنصاف ونۀ شو.

اَؤ څوک به دَ هغۀ دَ نسل بيان وکړی؟

ځکه چه دَ هغۀ ژوند له مزکے نه ختم کړے شو.»

۳٤ اَؤ خواجه فيليپوس ته ووئيل، ”مهربانی وکړه،دا راته وښيه چه دلته نبی دَ چا په باب کښے خبرے
کوی؟ دَ خپل ځان په حقله يا دَ بل چا په حقله؟“ ۳۵ فيليپوس دَ صحيفے دَ دے حصے نه خبرے شروع

کړے اَؤ دَ عيسىٰ په حق کښے ئے زيرے آؤرولو. ۳۶ اَؤ چه دوئ په سړک روان وُو نو يو داسے ځائے ته
ورسيدل چرته چه اوبۀ وے نو خواجه ووئيل چه”ګوره! دلته اوبۀ هم شته،نو ما اوس دَ بپتسمه آخستلو نه
څۀ شے منع کولے شي؟“ ۳۷ فيليپوس ووئيل ”که تۀ دَ زړۀ ايمان لرے نو بيا ئے اخستے شے.“ هغۀ
جواب ورکړو چه”زۀ ايمان لرم چه عيسىٰ مسيح دَ خُدائے زوئے دے.“

۳۸ اَؤ هغۀ دَ ګاډی دَ ودرولو حُکم ورکړو،بيا فيليپوس اَؤ خواجه دواړه لاندے اوبو ته کُوز شول اَؤ هغۀ ته
ئے بپتسمه ورکړه. ۳۹ کله چه هغوئ له اوبو نه راووتل نو دَ رب رُوح فيليپوس بوتلو اَؤ بيا خواجه هغه ونۀ
ليدو خو په خپله لار په خوشحالئ لاړو. ۴۰ بيا فيليپوس په اشدود کښے وليدلے شو اَؤ قيصريه ته دَ رسيدو
نه وړاندے ئے په ټول ملک کښے سفر وکړو اَؤ په ټولو ښارُونو کښے ئے زيرے آؤرولو.

## اَعمال د رسُولانو باب ۹

## دَ ساؤل په عيسىٰ ايمان راوړل

۱ په دے دوران کښے ساؤل لا اوس هم دَ مالِک عيسىٰ مننُونکو ته دَ قتل دړکے کولے. هغه مشر کاهن
ته لاړو. ۲ اَؤ درخواست ئے ورته وکړو اَؤ دَ دمشق عبادت خانو په نُوم ئے دَ دے مضمُون اَؤ اِختيار
خطونه وغوښتل چه که څوک دَ دے دين په لاره ووينم که سړے وی اَؤ که ښځه،ټول به ګرفتار کړم اَؤ
بيتُ المُقدس ته به ئے راولم.

۳ هغه لا په لاره وُو اَؤ دمشق ته ورنزدے کيدو چه ناڅاپی له آسمان نه يوه رڼا دَ هغۀ ګير چاپيره
وځليدله.۴ هغه په مزکه راپريوتو اؤ داسے يو آواز ئے واؤريدو چه ”ساؤله! ساؤله! تۀ ما ولے ربړوے؟“

۵ هغۀ تپوس وکړو،”مالِکه! تۀ څوک يئے؟“

جواب راغے چه”زۀ عيسىٰ يم چه تۀ ئے ربړوے. ۶ خو پاڅه اَؤ ښار ته لاړ شه اَؤ تا ته به وښيلے شی چه
تا ته څۀ کول په کار دی.“

۷ په دے دوران کښے کُوم سړی چه دَ هغۀ ملګری وُو،هغوئ غلی ولاړ وُو. هغوئ آواز خو واؤريدو خو
هيڅوک ئے ونۀ ليدو. ۸ نو ساؤل له مزکے نه راپورته شو خو څۀ ئے ليدے نۀ شُو،نو هغوئ هغه دَ لاسه
ونيولو اَؤ دمشق ښار ته ئے راوستو. ۹ اَؤ هغۀ تر دريو ورځو پورے څۀ نۀ ليدل اَؤ نۀ ئے څۀ خوراک
څښاک کولو.

۱۰ په دمشق کښے يو دَ عيسىٰ مننُونکے سړے وُو چه نُوم ئے حننياه وُو. هغۀ رويا وليده اَؤ دَ مالِک دا آواز
ئے واؤريدو چه وئيل ئے،”اَئے حننياه!“

هغۀ جواب ورکړو چه”مالِکه! زۀ حاضر يم.“

۱۱ مالِک هغۀ ته ووئيل چه”سمدستی هغه کُوڅے ته لاړ شه چه ورته نيغه وئيلے شی اَؤ دَ يهُوداه کره

ورشه اَوْ دَ ترسوس نه يو سړے راغلے چه ساؤل ئے نُوم دے،تپوس وکړه. تهٔ به هغه په دُعا ووينے.“ ۱۲
هغهٔ رويا وليده چه دَ حننياه نُوم سړے دَ ننه راځی اَوْ په هغهٔ خپل لاس کيږدی اَوْ نظر ئے وشی.“

۱۳ خو حننياه جواب ورکړو چه”مالِکه! ما ډير ځله دَ دے سړی په حقله آوْريدلی دی اَوْ کُومے بدئ چه دَهٔ ستا دَ منُونکو سره په بيتُ المُقدس کښے کړی دی،دَ هغے نه هم خبر يم. ۱٤ اَوْ هغه له مشر کاهن نه دَ دے اِختيار سره دلته راغلے دے چه هغه ټول خلق گرفتار کړی څوک چه ستا نُوم يادوی.“

۱۵ خو مالِک هغهٔ ته ووئيل چه”تهٔ ضرور لاړ شه ځکه چه دا سړے مے دَ خپل خدمت دَ پاره غوره کړے دے څوک چه به غيرو قومُونو اَوْ دَ هغو بادشاهانو اَوْ اِسرائيليانو ته زما نُوم ښرگندوی. ۱٦ زَهٔ به په خپله هغهٔ ته هغه څهٔ وښيم چه هغهٔ ته به زما دَ خاطره څومره زغمل وی.“

۱۷ نو په دے حننياه روان شو اَوْ هغه کور ته ورغلو اَوْ په ساؤل ئے خپل لاسُونه کيښول اَوْ وئے وئيل چه”زما وروره ساؤله! مالِک عيسىٰ چه په تا په لارے پيښ شوے وُو، هغهٔ زَهٔ تا ته په دے عرض را استولے يم چه ستا نظر بيا وشی اَوْ تهٔ په رُوحُ القُدس معمُور شے“ ۱۸ اَوْ سمدستی هغهٔ ته داسے معلُوميده لکه چه دَ هغهٔ دَ سترگو نه پوټکی لرے شول اَوْ هغهٔ بيا نظر ومُوندلو. هغه بيا پاڅيدو اَوْ بپتسمه ئے واخسته. ۱۹ اَوْ دَ هغے نه پس هغهٔ ډوډئ وخوړه اَوْ په وجُود کښے ئے طاقت پيدا شو.

## په دمشق کښے دَ ساؤل وعظ

۲۰ ساؤل يو څو ورځے په دمشق کښے دَ عيسىٰ منُونکو سره پاتے شو اَوْ سمدستی ئے په عبادت خانو کښے دَ عيسىٰ په حق کښے وعظ کاوو چه دا دَ خُدائے زوئے دے .

۲۱ چا چه دا واؤريدل نو حق حيران شول اَوْ وئے وئيل چه”دا هغه سړے نهٔ دے څهٔ چا چه په بيتُ المُقدس کښے هغه خلق وژل چه دَ عيسىٰ نُوم به ئے يادولو؟ اَوْ آيا دَئے خاص په دے غرض دلته نهٔ وُو راغلے چه دغه خلق گرفتار کړی اَوْ مشر کاهن له ئے بوزی؟“

۲۲ خو دَ ساؤل وعظ ورځ په ورځ نور هم اثرناک کيدو اَوْ دَ دمشق يهُوديان ئے په خپلو مضبوطو دلائيلو خاموش کول چه عيسىٰ هم مسيح دے.

۲۳ کله چه ډيرے ورځے تيرے شوے نو يهُوديان راغونډ شول اَوْ دَ ساؤل دَ مرگ سازش ئے وکړو. ۲٤ خو دَ هغوئ سازش هغهٔ ته معلُوم شو. هغوئ دَ ورځے اَوْ دَ شپے دَ ښار دَ دروازو څوکئ شروع کړه، دَ دے دَ پاره چه هغه قتل کړی. ۲۵ خو دَ هغهٔ ملگرو هغه دَ شپے مال دَ ښار په ديوال په يوه ټوکرئ کښے ښکته کُوز کړو.

## ساؤل په بيتُ المُقدس کښے

۲٦ کله چه ساؤل بيتُ المُقدس ته ورسيدو نو هغهٔ کوشش وکړو چه دَ عيسىٰ منُونکو سره يو ځائے شی اَوْ په ډله کښے شامل شی خو هغوئ ټول دَ هغهٔ نه ويريدل ځکه چه دَ هغوئ په دے يقين نهٔ راتلو چه گنی

هغهٔ ایمان راوړے دے. ۲۷ خو برنبا هغه دَ لاسه ونیولو،رسُولانو له ئے بوتلو اَؤ دَ هغوئ سره ئے پیژندګلی
وکړه اَؤ هغوئ ته ئے هغه قِصه تیره کړه چه ساؤل دَ سفر په دوران کښے مالِک څنګه لیدلے اَؤ دَ هغهٔ
آواز ئے آؤریدلے وُو اَؤ دا چه هغهٔ په دمشق کښے څرنګ په زړهٔ ورتیا سره دَ عیسیٰ په باب کښے وعظ
کاوو. ۲۸ بیا ساؤل دَ هغوئ سره پاتے شو اَؤ په بیتُ المُقدس کښے دَ هغوئ سره آزاد ګرزیدو،اَؤ هغهٔ ښهٔ
په زړهٔ ورتیا اَؤ په ډاګه دَ مالِک په باب کښے وعظ کاوو. ۲۹ اَؤ دَ یُونانی ژبه ویُونکو یهُودیانو سره ئے
خبرے اَؤ مُناظرے کولے،خو هغوئ بیا دَ هغهٔ دَ قتل کوشش وکړو. ۳۰ اَؤ کله چه دَ عیسیٰ منُونکی دَ
دے نه خبر شول نو هغوئ ورسره تر قیصریه پورے جلب وکړو اَؤ ترسوس ته ئے رُخصت کړو.

۳۱ په دے دوران کښے په یهُودیه،ګلیل اَؤ سامریه کښے هر چرته جماعت په قلاره وُو اَؤ مضبوطیا ئے
ومُونده اَؤ دَ مالِک په ویره کښے اَؤ دَ رُوحُ القُدس په ملګرتیا کښے ئے ترقی مُونده اَؤ شمیر ئے زیاتیدو.

## دَ اینیاس روغول

۳۲ اَؤ پطروس په هر ځائے ګرزیدوز یو ځل هغه لُده نومے ځائے ته دَ عیسیٰ منُونکو لیدو له راغے. ۳۳ هلته
هغهٔ اینیاس نُومے سړے ولیدو چه دَ اتو کالو راسے دَ فالج دَ لاسه په کټ کښے پروت وُو. ۳۴ پطروس
هغهٔ ته ووئیل چه"اینیاسه! عیسیٰ مسیح دِ جوړوی! پاسه اَؤ بستره دِ ونغاړه." اَؤ هغه سمدستی پاڅیدو.
۳۵ څوک چه په لُده اَؤ شارون کښے اوسیدل،هغوئ دَئے ولیدو اَؤ مالِک ته ئے رجُوع وکړه.

## دَ ډورکاس بیا ژوندے کول

۳۶ په یافا کښے تبیتا نومے یوه عیسیٰ منُونکی وه چه په یُونانی کښے ورته ډورکاس یعنے هوسئ وائی،چه
خپلے ورځے ئے په نیکئ اَؤ سخاوت کښے تیرولے. ۳۷ په دغه ورځو کښے هغه ناجوړه شوه اَؤ مړه شوه
اَؤ هغوئ هغے له غُسل ورکړو اَؤ پاس په بالاخانه کښے ئے کیښودله. ۳۸ اَؤ لُده اَؤ یافا دواړه یو بل ته
نزدے وُو،نو عیسیٰ منُونکو ته چه دا پته لګیدلے وه چه پطروس هلته نزدے راغلے دے،هغوئ ورپسے دوه
سړی واستول اَؤ دا تاکید ئے ورته وکړو چه"مهربانی وکړه اَؤ بے ډیله دلته راشه." ۳۹ اَؤ پطروس ورسره
سمدستی راروان شو. کله چه هغه راغے نو هغوئ پاس بالاخانے ته بوتلو اَؤ واړه کونډے ښځے ورته
راټولے شوے اَؤ په سرو سترګو ئے ورته ژړل اَؤ هغه جامے ئے ورته وښولے کُومے چه تبیتا جوړے کړے
وے،کله چه دَ هغوئ سره وه. ۴۰ خو پطروس هغوئ ټولے بهر کړے اَؤ په زنګنُونو شو اَؤ دُعا ئے
وغوښتله،بیا ئے مړی ته مخ راوګرزولو اَؤ وئے وئیل چه"تبیتا! پورته شه!" هغے خپلے سترګے وغړولے اَؤ
چه پطروس ئے ولیدلو نو کښیناستله. ۴۱ پطروس هغے له لاس ورکړو اَؤ هغه ئے په پښو ودروله،بیا هغهٔ
ټول خُدائے منُونکی اَؤ هغه کونډے ښځے هم راوغوښتلے اَؤ هغوئ ته ئے ژوندئ وښودله. ۴۲ دا خبره په
ټوله یافا کښے خوره شوه اَؤ ډیرو خلقو په مالِک ایمان راوړو. ۴۳ اَؤ پطروس څهٔ مُوده په یافا کښے دَ
شمعُون نومے څمیار سره پاتے شو.

## اَعمال د رسُولانو باب ۱۰

## پطروس اَؤ کورنیلیوس

١ په قيصريه کښې کورنيليوس نومې يو سړے وُو چه دَ اِټالوی پلټنې صوبه دار وُو. ٢ هغه يو ديندار سړے
وُو اَؤ هغه اَؤ دَ هغهٔ ټول خاندان به دَ خُدائے په عبادت کښې شامليدل اَؤ هغهٔ يهُوديانو له ډير په خلاص
مټ خيراتُونه ورکول اَؤ په باقاعده ګئ سره ئے دُعا کوله. ٣ يوه ورځ هغهٔ دَ ماسپښين مال رويا وليده چه
دَ خُدائے فرښته ورته راښکاره شوه اَؤ دَ هغهٔ کمرے ته راغله اَؤ ورته ئے ووئيل چه”اَئے کورنيليوسه!“

٤ نو هغهٔ په ويره هغې ته ځير وکتل اَؤ تپوس ئے وکړو چه”صاحبه! څهٔ چل دے؟“

فرښتے ووئيل چه”ستا دُعاګانے اَؤ خيراتُونه خُدائے قبُول کړی دی اَؤ اوس تاله جواب درکوی. ٥ اَؤ اوس
تهٔ يافا ته په شمعُون پسے چه پطروس ورته وائی څوک وليږه. ٦ هغه دَ شمعُون څميار کره دے چه کور
ئے دَ سمندر په غاړه دے.“ ٧ کله چه فرښتے دا ووئيل،نو رُخصت شوه. نو هغهٔ خپل دوه نوکران اَؤ يو
سپاهی چه ديندارہ سړے وُو،راوبلل. ٨ هغوئ ته ئے ټول حال ووئيلو اَؤ يافا ته ئے واستول.

٩ بيا په بله ورځ چه هغوئ لا په لارے وُو اَؤ ښار ته ورنزدے وُو نو دَ غرمې مال پطروس دَ دُعا دَ پاره
پاس کوټې ته وختلو. ١٠ اَؤ چه هغه وږے شو نو څهٔ ئے خوړل غوښتل. کله چه هغوئ لا ډوډئ تيارولہ
نو هغهٔ رويا وليده. ١١ هغهٔ په آسمان کښې يو چاؤد وليدلو اَؤ څهٔ ګوری چه يو شے چه دَ يو لوئے څادر
په شان دے،ښکته راکُوزيږی چه په څلورو ګوټُونو راځوړند اَؤ مزکے ته راښکته کيږی. ١٢ په هغهٔ کښې
دَ هر قسم ځناور اَؤ چينجی اَؤ دَ هوا مارغان وُو. ١٣ بيا يو آواز راغے،”پاڅه،پطروسه! حلال ئے کړه اَؤ
وئے خوره!“

١٤ خو پطروس ووئيل چه”نه مالِکه! نه! ما هيڅ کله هم حرام اَؤ ناپاک څيز نهٔ دے خوړلے.“

١٥ آواز په دويم ځل بيا راغے،”څهٔ چه خُدائے پاک ګرزولی دی،تهٔ هغې ته ناپاک نهٔ شے وئيلے.“ ١٦
داسے درے واره وشول اَؤ بيا هغه څيز دوباره آسمان ته پورته کړے شو.

١٧ پطروس لا دَ دے رويا په ليدلو حيران وُو چه دَ دے څهٔ مطلب دے،نو ګوره! دَ کورنيليوس اَستاذو دَ
شمعُون دَ کور تپوس کولو اَؤ دروازے ته را رسيدلی وُو. ١٨ اَؤ هغوئ په دے وينا آواز وکړو چه”شمعُون
چه پطروس ورته وائی،دلته ميلمه دے څهٔ؟“

١٩ خو پطروس لا په هغه رويا فکر کولو چه رُوحُ القُدس هغهٔ ته ووئيل چه”درے سړی دلته ستا په لټُون
دی. ٢٠ نو زر کوه،لاندے راکُوز شه. تهٔ دَ هغوئ سره بے تپوسه لاړ شه ځکه چه دا ما درليږلی دی.“
٢١ نو پطروس هغه سړو ته لاندے راغے اَؤ وئے وئيل چه”تاسو ما لټوئ،زهٔ دا يم. تاسو په څهٔ پسے دلته
راغلئ؟“

٢٢ هغوئ جواب ورکړو چه”مُونږ دَ کورنيليوس صوبه دار سړی يُو څوک چه ښهٔ اَؤ ديندار سړے دے اَؤ
ټول يهُودی قوم ئے هم نيک نام ګڼی. هغهٔ ته يوے فرښتے وينا کړے وه چه تا خپل کور ته راوغواړی اَؤ
څهٔ چه تهٔ وائے هغه واؤری.“ ٢٣ نو پطروس هغوئ دَ ننه راوبلل اَؤ ميلمانهٔ ئے کړل.

اَوْ په بله ورځ هغه دَ هغوئ سره روان شو اَوْ ورسره دَ یافا یو څو ملګری هم وُو. ۲۴ په بله ورځ هغه
قیصریه ته راورسیدو اَوْ کورنیلیوس دَ هغوئ په طمع وُو اَوْ خپل خپلوان اَوْ نزدے دوستان ئے راغوښتی وُو.
۲۵ کله چه پطروس راورسیدو نو کورنیلیوس دَ هغهٔ مخے له راووتو اَوْ ډیر په تعظیم ئے ورته سجده وکړه.
۲۶ خو پطروس هغه راپورته کړو اَوْ ورته ئے ووئیل،"پاځه! زَهٔ هم دَ نورو په شان اِنسان یم." ۲۷ اَوْ دَ هغهٔ
سره په خبرو کولو دَ ننه لاړو اَوْ هلته ئے ډیره ګڼه ګوڼه ومُونده. ۲۸ بیا ئے هغوئ ته ووئیل چه"تاسو ته ښه
معلُومه ده چه دَ یهُودی دَ پاره دا ناروا دی چه دَ چا غیر قوم سړی کور ته دِ لاړ شی یا ورسره څهٔ تعلُق
ولری،خو خُدائے ما ته صفا ښیلی دی چه زَهٔ هیچا ته هم پلیت یا ناپاک ونهٔ وایم. ۲۹ ځکه خو چه تاسو
راوبللم،نو زَهٔ بے عُذره دلته راغلم. نو اوس زَهٔ دا تپوس کولے شم چه زما دَ راغوښتو حاجت څهٔ وُو؟"

۳۰ کورنیلیوس ورته ووئیل چه"څلور ورځے کیږی چه هم دا وخت وُو چه زَهٔ دلته په کور کښے دَ
ماسپښین په عبادت کښے مشغُول وم چه ناڅاپی یو سړے زما په مخکښے ودریدو چه زلقیدُونکی جامے
ئے آغوستے وے. ۳۱ هغهٔ ووئیل،اَئے کورنیلیوسه! ستا دُعاګانے اَوْ خیراتُونه خُدائے قبُول کړی دی اَوْ اوس
تاله جواب درکوی. ۳۲ اوس څوک یافا ته واستوه اَوْ هلته شمعُون چه پطروس ورته وائی،هغه راوغواړه.
هغه دَ سمندر په غاړه دَ شمعُون څمیار په کور کښے دیره دے. ۳۳ نو ما په هغه ساعت په تا پسے
اَستازی درواستول اَوْ دا ستا ډیره مهربانی ده چه تهٔ دلته راغلے. اوس مُونږ ټول دلته دَ خُدائے په وړاندے
یو ځائے یُو چه هر څهٔ چه مالِک تا ته حُکم کړے دے هغه واؤرُو."

## دَ کورنیلیوس په کور کښے دَ پطروس وعظ

۳۴ نو پطروس داسے ووئیل چه"ما ته معلُومه شوه چه دا خبره څومره رښتیا ده چه خُدائے دَ هیچا طرف
دار نهٔ دے. ۳۵ خو په هر قوم کښے چه څوک دَ خُدائے نه ویریږی اَوْ دَ صداقت کارُونه کوی هغه دَ
خُدائے خوښ دی. ۳۶ هغهٔ اِسرائیلیانو ته خپل کلام واستولو اَوْ دَ عیسیٰ مسیح په وسیله ئے دَ سلامتیٔ
زیرے ورکړو چه دَ ټولو مالِک دے ۳۷ تاسو ته معلُومه ده چه یحییٰ ته دَ بپتسمے وعظ کولو نه وروستو دَ
ګلیل نه راواخلئ دَ یهُودیانو په ټوله مزکه څهٔ پیښ شول، ۳۸ یعنے دَ عیسیٰ ناصری په باب کښے چه
خُدائے هغه څنګه په رُوحُ القُدس اَوْ په قدرت مسح کړو. هغه به په هر ځائے ګرزیدو اَوْ هغهٔ ټولو سره ئے
ښه کول اَوْ څوک چه دَ اِبلیس په قبضه کښے وُو هغه به ئے جوړول ځکه چه خُدائے دَ هغهٔ سره وُو. ۳۹
هر څهٔ چه هغهٔ دَ یهُودیانو په کلو کښے اَوْ په بیتُ المُقدس کښے وکړل،مُونږ دَ هغه ټولو کارُونو شاهدان
یُو. نو هغه ئے په سولئ وځړولو اَوْ مړ ئے کړو. ۴۰ خو خُدائے هغه په دریمه ورځ بیا راژوندے کړو
ښکاره ئے هم کړو. ۴۱ یعنے بے له مُونږ غوره شوو شاهدانو نه خُدائے هغه بل چا ته ښکاره نهٔ کړو،یعنے
مُونږ ته چه ورسره مو دَ بیا ژوندی کیدو نه پس خوراک څښاک وکړو. ۴۲ اَوْ هغهٔ مُونږ ته حُکم وکړو چه
خلقو ته دَ هغهٔ حُکم ورسوُو اَوْ دَ دے خبرے شهادت وکړُو چه هم هغه خُدائے پاک دَ ژوندو اَوْ مړو دَ
منصفئ دَ پاره مُقرر کړے دے. ۴۳ دَ هغهٔ په حقله ټولو نبیانو دا شهادت کړے دے چه هر هغه څوک
چه په هغهٔ ایمان لری نو دَ هغهٔ په نُوم به دَ ګناهُونو نه معافی بیا مُومی."

## په غیر قومُونو رُوحُ القُدس نازلیدل

٤٤ پطروس چه لا خبرے کولے نو په ټولو آؤریدُونکو باندے رُوحُ القُدس نازل شو. ٤٥ دَ عیسیٰ منُونکی
یهُودیان چه دَ پطروس سره راغلی وُو هغوئ ډیر حیران شول چه دَ رُوحُ القُدس نعمت په غیرو قومُونو هم
نازل شو. ٤٦ ځکه چه هغوئ هم په نا آشنا ژبو کښے خبرے کولے اَؤ دَ خُدائے لوئی ئے بیانوله. ٤٧ بیا
پطروس ووئیل،”آیا داسے څوک شته چه دا خلق دَ اوبو سره دَ بپتسمه اخستلو نه منع کړی،چه په دوئ
رُوحُ القُدس داسے نازل شوے دے لکه چه په مُونږ.“ ٤٨ بیا هغۀ حُکم وکړو چه دوئ ته دِ دَ عیسیٰ
مسیح په نُوم بپتسمه ورکړلے شی. دَ دے نه پس بیا هغوئ هغۀ ته ووئیل چه دَ هغوئ سره څۀ ورځے
ایسار شی.

# اَعمال د رسُولانو باب ۱۱

## دَ پطروس دَ بیتُ المُقدس دَ جماعت خبرول

۱ په یهُودیه کښے رسُولانو اَؤ نورو دَ عیسیٰ منُونکو واؤریدل چه غیر یهُودیانو هم دَ خُدائے کلام قبُول
کړو. ۲ اَؤ کله چه پطروس بیتُ المُقدس ته راغے نو یهُودی عیسیٰ منُونکو دا اِعتراض پورته کړو، ۳ اَؤ
وئیل ئے چه”تۀ دَ غیر قوم خلقو له تلے یئے څوک چه ناسُنت دی اَؤ دَ هغوئ سره دِ په یو ځائے ډوډئ
خوړلے ده!“ ٤ پطروس دَ هغوئ په وړاندے هغه ټول حقایق څرګند کړل کُوم چه پیښ شوی وُو. هغۀ
ووئیل چه

۵ ”زۀ دَ یافا په ښار کښے وم اَؤ دُعا مے کوله چه بے هوشه شوم اَؤ رویا مے ولیده چه دَ لوئے څادر په
شان یو څیز چه په څلورو ګوټُونو دَ آسمان نه راښکته کیدو اَؤ ما ته راورسیدو. ٦ اَؤ ما ورته ځیر ځیر وکتل
چه په دے کښے څۀ دی اَؤ ما دَ مزکے څاروی،ځنګلی ځناور،چینجی اَؤ دَ هوا مارغان ولیدل. ۷ بیا ما
یو آواز واؤریدلو چه پاڅه پطروسه! حلال ئے کړه اَؤ وئے خوره! ۸ خو ما ووئیل چه نه مالِکه! زما خُلے ته
لا تر اوسه حرام اَؤ ناپاک څیز نۀ دے ننوتے. ۹ له آسمان نه دوباره آواز راغے،کُوم څیزُونه چه خُدائے
پاک کړی دی،هغو ته حرام وئیل ستا کار نۀ دے. ۱۰ داسے درے ځله وشول اَؤ بیا هغه ټول دوباره
آسمان ته پورته کړے شول. ۱۱ په دغه وخت کښے درے سړی چه دَ قیصریه نه را استولی شوی وُو،هغه
کورته راغلل چرته چه زۀ دیره وم. ۱۲ اَؤ رُوحُ القُدس ما ته ووئیل،زړۀ نازړۀ مه کیږه،دَ دوئ سره لاړ شه.
بیا زما دا شپږ ملګری هم ماسره شول اَؤ مُونږ دَ کورنیلیوس کره لاړُو. ۱۳ هغۀ مُونږ ته ووئیل چه هغۀ یوه
فرښته ولیده چه دَ هغۀ په کور کښے ولاړه وه اَؤ ورته ئے ووئیل چه یافا ته شمعُون پسے چه پطروس ورته
وائی څوک ولیږه. ۱٤ هغه به تا ته داسے کلام واؤروی چه ستا ټول ټبر به پرے خلاصُون بیا مُومی. ۱۵ ما
له ایله خبرے شروع کړے وے چه په هغوئ رُوحُ القُدس داسے نازل شو لکه چه په مُونږ نازل شوے
وُو. ۱٦ بیا څۀ چه مالِک وئیلی وُو،رایاد شول چه یحییٰ خو په اوبو بپتسمه ورکوله مګر تاسو به دَ رُوحُ
القُدس بپتسمه بیا مُومئ. ۱۷ خُدائے هغوئ ته زمُونږ نه چه په مالِک عیسیٰ ایمان لرُو څۀ کم نعمت نۀ
دے ورکړے،نو بیا زۀ څوک یم چه خُدائے منع کولے شم!“

۱۸ هر کله چه هغوئ دا واؤریدل نو دَ هغوئ شکُونه لرے شول. هغوئ دَ خُدائے ثنا ووئیله اَؤ وئے وئیل

چه”دَ دے دا مطلب شو چه خُدائے غیرو یهُودیانو ته هم دَ توبے موقع ورکړه چه ژوند پرے حاصليږی!“

## په اَنطاکيه کښے جماعت

۱۹ په دے دوران کښے کُوم دَ عيسیٰ مَنُونکی چه دَ هغه تنګسيا په وجه چه ستِفانوس مړ کړے شو
،خوارۀ وارۀ شوی وُو،هغوئ فينيکے،قبرص اَؤ اَنطاکيه ته رسيدلی وُو اَؤ تش يهُوديانو ته ئے زيرے واؤرولو
اَؤ نورو ته نه. ۲۰ خو دَ قبرص اَؤ کرينی ځنے مقامی خلق داسے وُو چه هغوئ چه څۀ وخت اَنطاکيه ته
راغلل نو يُونانيانو ته ئے هم دَ مالِک عيسیٰ زيرے آؤرول شروع کړو. ۲۱ دَ مالِک طاقت دَ هغوئ سره وُو
،ډيرو خلقو ايمان راؤړو اَؤ مالِک ته ئے رجُوع وکړه.

۲۲ دا خبره دَ بيتُ المُقدس جماعت ته ورسيده اَؤ هغوئ برنبا اَنطاکيه ته واستولو. ۲۳ هر کله چه هغه
راورسيدو اَؤ دَ خُدائے فضل ئے وليدو نو ډير خوشحاله شو اَؤ هغوئ ټولو له ئے تسلی ورکړه اَؤ ورته ئے
ووئيل چه”دَ خُدائے په لار کښے ټينګ ورپړئ“ ۲۴ برنبا يو ښۀ سړے وُو اَؤ په رُوحُ القُدس معمُور وُو اَؤ
ايمان ئے مضبوط وُو. نو ډيرو خلقو په مالِک باندے ايمان راوړو.

۲۵ بيا هغه ترسوس ته لاړو چه ساؤل ولټوی. ۲۶ اَؤ هر کله چه ئے هغه ومُوندو نو هغه ئے اَنطاکيه ته
راوستلو اَؤ پُوره يو کال هغوئ په يو ځائے په جماعت کښے پاتے شول اَؤ ډيرو خلقو ته ئے تعليم ورکړو.
اَؤ هم دلته په اَنطاکيه کښے دَ عيسیٰ مَنُونکی اول ځل مسيحی وبللے شول،يعنے عيسايان.

۲۷ په هغه ورځو کښے دَ بيتُ المُقدس نه اَنطاکيه ته څۀ نبيان راغلل، ۲۸ چه په هغوئ کښے دَ يو نُوم
اګابوس وُو،هغۀ دَ رُوحُ القُدس په وسيله ووئيل چه په ټوله دُنيا کښے به يو قحط راشی کُوم چه دَ قيصر
کلوديوس په وخت راغے. ۲۹ نو دَ عيسیٰ مَنُونکو په چنده کولو اِتفاق وکړو. هر يو دَ خپل توان په مُطابق
په يُهوديه کښے دَ خپلو عيسیٰ مَنُونکو وروُنو دَ اِمداد بندوبست وکړو. ۳۰ هغوئ چنده وکړه اَؤ مشرانو ته
ئے واستوله چه دَ برنبا اَؤ ساؤل په ولقه کښے وُو.

# اَعمال د رسُولانو باب ۱۲

## دَ يعقُوب قتل اَؤ دَ پطروس ګرفتاری

۱ قريبًا هم په هغه وخت هيروديس بادشاه دَ جماعت په ځنو خلقو حمله وکړه. ۲ دَ هغۀ په حُکم ئے دَ
يوحنا دَ ورور يعقُوب سر پريکړو. ۳ اَؤ بيا چه په دے پوهه شو چه يهُوديان پرے خوشحاله دی نو بيا ئے
پطروس هم ګرفتار کړو. دا کار دَ پتيرے ډوډئ دَ اَختر په ورځو کښے وشو. ٤ اَؤ چه پطروس ئے ګرفتار
کړو اَؤ دَ سپاهيانو دَ لاندے چه دَ څلورو څلورو سړو ټولی وُو،دَ هغوئ په څوکيدارئ کښے ئے په قيد
خانه کښے وساتلو. خيال ئے دا وُو چه دَ فسح دَ اختر نه پس به ئے خلقو ته وړاندے کړم. ٥ نو پطروس
ئے په قيد خانه کښے دَ نظر دَ لاندے وساتلو اَؤ په دے دوران کښے جماعت دَ خُدائے نه دَ هغۀ دَ پاره
په جوش سره دُعا ګانے غوښتے.

## دَ پطروس له قيد خانے نه خلاصيدل

٦ هم په هغه شپه چه لا هيروديس دَ پطروس دَ راوړاندے کولو اِراده لرله،خو پطروس دَ دوؤ سپاهيانو په
مينځ کښے په دوؤ ځنځيرُونو تړلے اُودۀ پروت وُو اَؤ دَ دروازے نه بهر څوکيدارانو دَ دروازے څوکئ کوله.
٧ چه نا څاپې دَ خُدائے يوه فرښته هلته ودريده اَؤ په کوټهئ کښے رڼا وځليده. هغے دَ پطروس اوږه
وخوزوله اَؤ راويښ ئے کړو اَؤ ورته ئے ووئيل،”زر شه! پاڅه!“ اَؤ زنځيرُونه دَ هغۀ دَ مړوندُونو نه پريوتل. ٨
بيا فرښتے هغۀ ته ووئيل چه”ملا وتړه اَؤ پيزار په پښو کړه.“ اَؤ هغۀ داسے وکړل. بيا هغے ووئيل،”اوس
خپله چُوغه واچوه اَؤ په ما پسے راځه.“ ٩ هغه ورپسے ووتو اَؤ دا ورته معلُومه نۀ وه چه څۀ چه فرښته
کوى،هغه حقيقت دے،خو خيال ئے وُو چه ګني رويا وينم. ١٠ خو دوئ دَ سپاهيانو اولنئ څوکئ ته
ورسيدل،بيا دويمے ته اَؤ بيا دَ اوسپنے هغے دروازے ته ورسيدل چه ښار ته وزى. اَؤ دروازه ورته په خپله
خلاصه شوه اَؤ دغه شان هغوئ بهر راووتل اَؤ په يوه کوڅه تير شول اَؤ فرښته دَ هغۀ نه لاړه.

١١ بيا پطروس په خُود شو اَؤ هغۀ ووئيل چه”اوس دا حقيقت دے چه مالِک خپله فرښته راوليږله اَؤ زۀ ئے
دَ هيروديس دَ لاسه اَؤ دَ يهُوديانو دَ ټولو اِرادو نه خلاص کړلم!“

١٢ چه هغه پوهه شو چه دا کار دغسے وشو نو هغه دَ يوحنا چه ورته مرقوس وائى،دَ هغۀ دَ مور مريم کره
راغے. هلته ګڼو خلقو په يو ځائے دُعا کوله. ١٣ اَؤ چه هغۀ بهر دروازه ورټکوله نو روده نُومے يوه وينځه
سوال جواب ته راغله. ١٤ هغے دَ پطروس آواز وپيژندو اَؤ دومره خوشحاله شوه چه په ځائے دَ دے چه
ورته دروازه خلاصه کړى هغے دَ ننه منډے کړے اَؤ هغوئ ئے خبر کړل چه پطروس بهر ولاړ دے. ١٥
هغوئ هغے ته ووئيل چه”ته ليونئ يئے!“ خو هغه په دے ټينګه شوه چه هم دغه شان دے. بيا هغوئ
ووئيل چه”دا به ضرُور دَ هغۀ فرښته وى.“

١٦ په دے دوران کښے پطروس هغه شان دروازه ټکوله اَؤ هر کله چه هغوئ دروازه خلاصه کړه اَؤ دَئے
وليدو نو اريان دريان شول. ١٧ خو هغۀ دَ لاس په اِشاره هغوئ ته ووئيل چه”چپ شئ!“ اَؤ دا قيصه ئے
ورته تيره کړه چه مالِک څنګه هغه دَ قيدخانے نه راوويستو. هغۀ ووئيل چه”يعقُوب اَؤ نور ورُوڼه په دے
خبر کړئ.“ بيا هغه دَ کور نه روان شو اَؤ بل چرته لاړو.

١٨ چه سحر شو نو سپاهيان په هيبت کښے وُو چه پطروس څۀ شو؟ ١٩ هيروديس ښه ولټوو خو په مُوندلو
کښے ئے پاتے راغے،بيا هغۀ دَ سپاهيانو نه تپوس وکړو اَؤ دَ هغوئ دَ مړ کولو حُکم ئے وکړو.

## دَ هيروديس مرګ

دَ دے نه پس هيروديس دَ يهُوديه نه روان شو اَؤ دَ څۀ وخت دَ پاره په قيصريه کښے اوسيدو. ٢٠ هغه دَ
څۀ وخت راسے دَ صور اَؤ دَ صيدا خلقو ته په قهر وُو نو هغوئ په يو آواز دَ هغۀ عدالت ته ورغلل. هلته
هغوئ دَ بادشاه دَ خوابګاه بلستوس نومے ناظر دَ ځان سره کړو اَؤ صُلح ئے وغوښتله ځکه چه دَ هغۀ دَ
ملک دَ خوراک دَ څيزُونو دَ پاره دَ بادشاه دَ ملک محتاج وُو.

٢١ نو په يوه مُقرره ورځ هيروديس شاهى لباس واغوستو،په تخت کښيناستو اَؤ هغوئ ته ئے تقرير شروع

کړو. ۲۲ اَؤ گڼو خلقو چغې کړے چه”دا خو دَ خُدائے آواز دے،نۀ چه دَ انسان!“ ۲۳ نو سمدستی دَ
خُدائے یوے فرښتے هیرودیس ووهلو ځکه چه هغۀ دَ خُدائے تمجید ونۀ کړو،هغه چینجو وخوړ اَؤ مړ شو.

۲٤ خو دَ خُدائے کلام خوریدلو اَؤ ترقی ئے کوله.

۲٥ برنبا اَؤ ساؤل ته چه کُوم یو خدمت سپارلے شوے وُو،پُوره ئے کړو اَؤ دَ بیتُ المُقدس نه واپس راغلل
اَؤ دَ ځان سره ئے یوحنا چه ورته مرقس وائی هم بوتلو.

# اَعمال د رسُولانو باب ۱۳

## دَ برنبا اَؤ ساؤل تقرر

۱ دَ اَنطاکیه په جماعت کښے ځنے نبیان اَؤ اُستاذان وُو،برنبا اَؤ شمعُون چه ورته نیجر یعنے تور وائی،اَؤ
لُوکیوس کرینی اَؤ مناهین چه دَ هیرودیس حاکم سره یو ځائے لوئے شوی وُو،اَؤ ساؤل. ۲ هر کله چه
هغوئ دَ مالِک عبادت کولو اَؤ روژه ئے نیوله نو رُوحُ القُدس ورته ووئیل،”برنبا اَؤ ساؤل زما دَ پاره هغه
کار له جُدا کړئ چه دَ څۀ دَ پاره چه ما هغوئ را بللی دی.“

۳ اَؤ بیا ئے روژه ونیوله اَؤ دُعا ئے وکړله اَؤ هغوئ ورباندے لاسُونه کیښول اَؤ رُخصت ئے کړل.

دَ قبرص په جزیره کښے دَ رسُولانو وعظ

٤ اَؤ دغه دوه کسان چه رُوحُ القُدس په کار استولی وُو،ښکته سلوکیه ته لاړل اَؤ له هلته نه دَ اوبو په
جهاز کښے قبرص ته لاړل. ٥ اَؤ چه سَلمیس ته ورسیدل نو هغوئ دَ خُدائے کلام دَ یهُودیانو په عبادت
خانو کښے واؤرولو اَؤ دَ هغوئ سره یوحنا مددګار وُو.

٦ هغوئ تر پافُس پورے په ټوله جزیره کښے وګرزیدل اَؤ هلته هغوئ بریسوع نُومے یو یهُودی ومُوندو
څوک چه جادُو ګر وُو اَؤ له ځان نه ئے نبی جوړ کړے وُو. ۷ هغه دَ سر کیوس پولوس ګورنر ملګرے
وُو. ګورنر یو هوښیار سړے وُو. هغۀ برنبا اَؤ ساؤل رابللی وُو اَؤ دَ خُدائے کلام آؤریدل ئے ترے وغوښتل.
۸ خو جادُوګر چه په یُونانی کښے ورته اِلیماس وائی،دَ دے مُخالفت وکړو اَؤ دا کوشش ئے وُو چه ګورنر
په عیسیٰ مسیح ایمان را نۀ وړی. ۹ خو ساؤل چه ورته پولوس هم وائی په رُوحُ القُدس معمُور وُو،په هغۀ
ئے سترګے ښخے کړے، ۱۰ اَؤ ورته ئے ووئیل چه”اَئے دَ اِبلیس زویه! دَ صداقت دُښمنه! اَئے ټګه اَؤ له
شرارت نه ډکه! آیا تۀ به دَ خُدائے دَ نیغو لارو مُخالفت کله هم نۀ پریږدے؟ ۱۱ ګوره! مالِک به اوس تاله
سزا درکړی،ته به ړُوند شے اَؤ څۀ وخت پورے به تۀ دَ نمر رڼا ونۀ وینے.“ بیا هغه دم دَ هغۀ په سترګو
دُوند اَؤ تیارۀ راغله اَؤ هغۀ لاسُونه ټپول چه څوک مے دَ لاسه ونیسی اَؤ روان مے کړی. ۱۲ کله چه ګورنر
دا هر څۀ ولیدل نو ایمان ئے راوړلو اَؤ دَ مالِک دَ تعلیم زیات اثر پرے وشو.

## پولوس اَؤ برنبا دَ پیسیدیه په اَنطاکیه کښے

۱۳ بیا پولوس اَو دَ هغهٔ ملګری دَ پافوس نه رُخصت شول اَو دَ اوبو په جهاز کښے پرګے ته لاړل چه په
پمفولیه کښے ده. نو یوحنا ترے جُدا شو اَو بیتُ المُقدس ته واپس لاړو. ۱٤ دَ پرګے نه هغوئ پیسیدیه
اَنطاکیه ته خپل سفر جاری وساتلو. دَ سبت په ورځ هغوئ عبادت خانے ته لاړل اَو کښیناستل. ۱۵ بیا
چه دَ شریعت اَو نبیانو صحیفے ولوستلے شوے نو دَ عبادت خانے ذمه وارو کسانو هغوئ ته دا پیغام
ولیږلو چه”ملګرو! که ستاسو څخه دَ خلقو دَ پاره دَ تسلئ څهٔ کلام وی نو مُونږ ته ئے واؤروئ.“

۱٦ نو پولوس پاڅیدو،په لاس ئے اِشاره وکړه اَو داسے وئیل ئے شروع کړل:”اَئے اِسرائیلیانو اَو غیر
یهُودیانو! تاسو چه دَ خُدائے عبادت کوئ زما خبره واؤرئ! ۱۷ دَ بنی اِسرائیلو خُدائے زمُونږ پلارُونه نیکُونه
غوره کړل اَو دَ دوئ نه ئے لوئے قوم جوړ کړو. کله چه هغوئ بدستور په مِصر کښے لکه دَ مسافران
اوسیدل نو دوئ ئے دَ مصر نه په خپل لوئے قُدرت راووستل. ۱۸ اَو قریبًا تر څلویښتو کالو پورے هغهٔ په
صحرا کښے دَ دوئ چال چلن وزغملو. ۱۹ بیا هغهٔ دَ کنعان په ملک کښے چه اُووهٔ قومُونه برباد کړل نو
دَ هغوئ مزکه ئے خپلو خلقو له په میراث کښے تر څلور نیمو سوو کالو پورے ورکړه.

۲۰ اَو دَ هغے نه پس ئے دَ سموئیل نبی تر زمانے پورے قاضیان مُقرر کړل. ۲۱ بیا هغوئ یو بادشاه
وغوښتو،نو خُدائے دَ قیس زوئے ساؤل ورکړو چه دَ بنیامین دَ خیل نه وُو. هغهٔ تر څلویښتو کالو حکُومت
وکړو. ۲۲ بیا ئے هغه لرے کړو اَو داؤد ئے دَ هغوئ بادشاه جوړ کړو اَو هغهٔ ته ئے په دے ټکو خپله رضا
ورکړه: «ما دَ یشی زوئے داؤد دَ خپل زړهٔ په مُطابق سړے ومُوندلو،هغه چه زما ټول مقصدُونه پُوره
کړی.» ۲۳ دا هغه سړے دے دَ چا دَ نسل نه چه خُدائے دَ خپل قول په مُطابق دَ اِسرائیلو خلاصُونکے
عیسیٰ راولیږلو. ۲٤ اَو یحییٰ دَ عیسیٰ دَ راتلو نه وړاندے دَ بنی اِسرائیلو ټولو خلقو ته وعظ وکړو چه توبه
ګار شئ اَو بپتسمه واخلئ. ۲۵ اَو کله چه یحییٰ خپل دور پُوره کاوو نو هغهٔ ووئیل چه زهٔ هغه نهٔ یم چه
تاسو مے ګمان کوئ،خو زما نه پس به هغه څوک راځی چه زهٔ دَ هغه دَ پیزار دَ تسمے پرانستلو جوګه
هم نهٔ یم.

۲٦ زما وروڼو! تاسو چه دَ اِبراهیم اَولاد یئ اَو نور چه زمُونږ دَ خُدائے نه ویره کوئ،مُونږ هغه خلق یُو چه دَ
خلاصُون دا پیغام راته رالیږلے شوے دے! ۲۷ دَ بیتُ المُقدس خلقو اَو مشرانو عیسیٰ ونهٔ پیژندلو اَو نهٔ ئے
دَ نبیانو په هغه کلام ځان پوهه کړو کُوم چه په هر سبت لوستلے کیږی،اَو بے شکه هغوئ دَ هغهٔ دَ رد
کولو پیشن ګوئی پُوره کړه. ۲۸ سره دَ دے چه هغوئ دَ هغهٔ دَ مرګ دَ سزا دَ پاره څهٔ بهانه ونهٔ مُوندله
خو بیا هم هغوئ پیلاطوس ته ووئیل چه هغه دِ قتل کړی. ۲۹ کله چه هغوئ هغه هر څهٔ پُوره کړل کُوم
چه دَ هغهٔ په حقله په صحیفو کښے لیک وُو نو هغه ئے دَ سولئ نه راکُوز کړو اَو په قبر کښے ئے
کینبودلو. ۳۰ اؤ خُدائے هغه له مړو نه بیا ژوندے کړو. ۳۱ اَو بیا چه کُوم خلق دَ هغهٔ سره دَ ګلیل نه بیتُ
المُقدس ته راغلی وُو،هغوئ هغه تر ډیرو ورځو پورے ولیدلو. هغوئ اوس زمُونږ دَ قوم په مخکښے دَ هغهٔ
ګواهان دی. ۳۲ اَو مُونږ دلته تاسو ته دَ زیری دَ آؤرولو دَ پاره راغلی یُو چه خُدائے زمُونږ دَ پلارُونو نیکُونو
سره وعده کړے وه. ۳۳ خُدائے دا وعده زمُونږ دَ پاره چه مُونږ دَ هغوئ اَولاد یُو،دَ عیسیٰ دَ مړو نه بیا
ژوندی کولو سره پُوره کړه لکه چه دا په دویم زُبور کښے لیک دی چه:

«تهٔ زما زوئے ئے، ما نن اظهار کړے.»

٣٤ اَؤ کله چه عیسیٰ ئې له مړو نه بیا راژوندې کړو چه دَ خاورې کیدو ساعت چرې پرې نۀ راځی نو
خُدائې داسې ووئیل چه:

«زَۀ به تاسو له دَ داؤد سره وعده کړی شوی

پاک اَؤ حقیقی معمتُونه درکړم.»

٣٥ بیا دَ زبُور په بل ځائې کښې داسې لیک دی چه:

«تۀ به په خپل قدُوس دَ خاؤرې کیدو ساعت را نه ولې.»

٣٦ نو دا حقیقت دې چه کله چه داؤد په خپله پیړئ کښې دَ خُدائې مرضی پُوره کړه نو هغه مړ شو اَؤ دَ
خپلو پلارُونو اَؤ نیکُونو سره ښخ شو اؤ خاورې شو. ٣٧ مګر کُوم کس چه خُدائې بیا ژوندې کړو په هغۀ
دَ خاورې کیدو ساعت رانۀ غې. ٣٨ نو بیا اَئې زما ورُوڼو! تاسو ضرور ځان پوهه کړئ چه دا دَ عیسیٰ په
وسیله دَ ګُناهُونو دَ معافئ بیان درته کیږی. ٣٩ اَؤ هر څوک چه په عیسیٰ ایمان راؤړی،دَ هغۀ په وسیله به
ئې هره ګناه معاف شی چه دَ مُوسیٰ په شریعت کښې معاف کیدې نه شوه. ٤٠ نو بیا خبردار شئ چه په
تاسو دَ نبیانو په صحیفو کښې لیکلې شوې هغه خبره را نۀ شی یعنې چه:

٤١ «وګورئ تاسو چه سپک وایئ!

حیران شئ اَؤ خاورې شئ!

ځکه چه زَۀ ستاسو په ورځو کښې داسې کار کوم

چه که څوک تاسو ته دَ هغۀ بیان وکړی

نو هیڅ کله به هم پرې یقین ونۀ کړئ!»

٤٢ کله چه پولوس اَؤ برنبا له عبادت خانې نه ووتل نو دوئ ته ئې ووئیل چه''په راتلُونکی سبت تاسو بیا
راشئ اَؤ په دې حقله مُونږ ته کلام واؤروئ.'' ٤٣ هر کله چه ګڼه خوره شوه نو ډیر یهُودیان اَؤ دیندار نوی
یهُودیان دَ پولوس اَؤ برنبا سره لاړل اَؤ دوئ ورته ووئیل چه''دَ خُدائې په فضل قائم پاتې شئ.''

٤٤ اَؤ په بل سبت تقریبًا ټول دَ ښار خلق دَ خُدائې کلام آؤریدو ته راغونډ شول. ٤٥ هر کله چه یهُودیانو
دا ګڼه ولیده نو هغوئ دَ حسد نه وسوزیدل اَؤ دَ پولوس دَ خبرو مُخالفت ئې وکړو اَؤ وئې کنځلو. ٤٦ اَؤ
پولوس اَؤ برنبا په ډاګه ووئیل چه''دا ضرُوری وه چه اول دِ تاسو ته دَ خُدائې کلام واؤرولې شی،خو تاسو
ئې نۀ قبلوئ اَؤ دغه شان خپل ځانُونه دَ تل عُمری ژوندُون لایق نۀ ګڼئ،نو اوس مُونږ غیر یهُودو ته ځُو.
٤٧ ځکه چه رب مُونږ ته دا حُکم راکړې دې چه:

«ما تهٔ دَ غیرو قومُونو دَ پاره رڼا مُقرر کړے يئے

اَوُ دَ مزکے تر لرے حدُونو پورے مے

تهٔ دَ خلاصُون وسيله گرزولے يئے.»

۴۸ کله چه غير يهُوديانو دا واؤريدل نو ډير خوشحال شول اَوُ دَ مالِک دَ کلام لوئی ئے وکړه اَوُ څوک چه
دَ تل عُمری ژوندُون دَ پاره ټاکلی شوی وُو،هغوئ ايمان راوړو.

۴۹ اَوُ په هغه ټول وطن کښے دَ رب کلام خور شو. ۵۰ خو يهُوديانو ديندارے اَوُ عزتمنے ښځے اَوُ دَ ښار
مشران ولمسول،نو دَ پولوس اَوُ برنبا خلاف ئے لويه غوغا جوړه کړه اَوُ هغوئ ئے دَ علاقے نه بهر وشړل.
۵۱ نو هغوئ دَ خپلو پښو نه دَ هغوئ خلاف خاوره وڅنډله اَوُ اِکونيوم ته لاړل. ۵۲ اَوُ دَ عيسیٰ منُونکی په
خوشحالئ اَوُ له رُوحُ القُدس نه معمُور شول.

## اَعمال د رسُولانو باب ۱۴

## په اِکونيوم کښے پولوس اَوُ برنبا

۱ اَوُ په اِکونيوم کښے هم پولوس اَوُ برنبا دَ يهُوديانو عبادت خانو ته لاړل اَوُ داسے خبرے ئے وکړلے چه
ډيرو يهُوديانو اَوُ غير يهُوديانو ايمان راوړو. ۲ خو نهٔ منُونکو يهُوديانو دَ غير يهُوديانو په زړُونو کښے دَ عيسیٰ
دَ منُونکو خلاف نفرت پيدا کړو. ۳ اَوُ دَ ډيرے مودے دَ پاره پولوس اَوُ برنبا هلته پاتے شول اَوُ دَ خُدائے
په توکل ئے په ډاګه اَوُ په زړهٔ ورتيا کلام واؤرولو،اَوُ دَ مالِک په خپل فضل ئے دَ پيغام داسے مُظاهره وکړه
چه دَ هغوئ دَ لاسه ئے ډيرے مُعجزے اَوُ نخښے ښکاره کړلے. ۴ اَوُ دَ ښار خلق دوه ډلے شول،څنے دَ
يهُوديانو په طرف شول اَوُ څنے دَ رسُولانو.

۵ خو چه غيرو يهُوديانو اَوُ يهُوديانو په يو ځائے دَ ښار دَ حاکمانو سره داسے سازباز وکړو چه هغوئ بے
عزته کړی اَوُ سنګسار ئے کړی. ۶ نو هغوئ خبر شول اَوُ دَ لوکاونيه ښارُونو لستره اَوُ دِربے ته اَوُ ګير چا
پير وطن ته ئے هجرت وکړو. ۷ اَوُ هلته ئے بدستور زيرے آورولو.

## برنبا اَوُ پولوس په لستره کښے

۸ په لستره کښے يو شل سړے وُو چه پيدائشی ګوډ وُو اَوُ هيچرے دَ ګرزيدلو جوګه نهٔ وُو. ۹ دغه سړی
دَ پولوس خبرے واؤريدلے اَوُ چه پولوس ورته ځير وکتل اَوُ پوهه شو چه هغه دَ جوړيدو دَ پاره ايمان لری،
۱۰ نو هغهٔ ورته په زوره ووئيل،"په خپلو پښو نيغ ودريږه!" نو هغه په ټوپ وهلو سره پاڅيدلو اَوُ روان شو.
۱۱ کله چه خلقو دَ پولوس دا کار وليدلو نو هغوئ چغے کړے اَوُ په خپله مقامی لوکائونيه ژبه کښے ئے
ووئيل چه"خُدايان دَ اِنسانانو په شکل کښے مُونږ ته راکُوز شوی دی!" ۱۲ اَوُ هغوئ برنبا ته زيُونس اَوُ
پولوس ته هِرميس ووئيل ځکه چه هغهٔ کلام آورولو. ۱۳ اَوُ دَ زيُوس کاهن چه مناره ئے دَ ښار مخامخ وه
،هغه دروازے ته غويئ اَوُ هارُونه راوړل اَوُ هغه اَوُ ټول خلق قُربانئ کولو ته تيار وُو.

١٤ خو هر کله چه رسُولانو يعنے برنبا اَوْ پولوس دا خبره واؤريده نو خپلے جامے ئے څيرے کړلے اَوْ خلقو
ته ئے ورمنډے کړے، ١٥ اَوْ چغے ئے کړے چه ”اَئے سړو! دا تاسو څۀ کوئ؟ مُونږ خو ستاسو په شان
بنی آدم يُو! کُوم زيرے چه مُونږ تاسو ته آؤرُوو دا تاسو ته وائی چه دَ دے فضُولو څيزُونو نه ژوندی خُدائے
ته راوګرزئ چا چه آسمان اَوْ مزکه اَوْ سمندر اَوْ هر څۀ چه په کښے دی،پيدا کړل. ١٦ يعنے په تيرو پيړيو
کښے هغه ټول قومُونه ئے په خپله لار چلند ته پرېښودل. ١٧ خو بيا هم هغۀ تاسو دَ خپل ځان په حقله
ناخبره نۀ يئ ساتلی،هغه چه درباندے دا مهربانی کوی چه دَ آسمان نه درباندے باران ورَوی اَوْ دَ موسم
دَ فصلُونو نه خوراک درکوی اَوْ ستاسو زړُونه خوشحالوی.“ ١٨ په دے خبرو رسُولانو ډير په مُشکله خلق
دَ ځان دَ پاره دَ قُربانئ کولو نه منع کړل.

١٩ بيا له اَنطاکيه اَوْ اِکونيوم نه يهُوديان هغه ځائے ته راغلل اَوْ خلق ئے ځان ته راواړول. هغوئ پولوس
سنګسار کړو اَوْ خيال ئے دا وُو چه مړ دے،نو دَ ښار نه بهر ئے راکښلو. ٢٠ خو عيسیٰ مئُونکی دَ هغۀ نه
راتاؤ شول،نو هغه پاڅيدو اَوْ ښار ته دَ ننه لاړو اَوْ په بله ورځ دَ برنبا سره دِربے ته لاړو.

## دَ شام اَنطاکيه ته واپس تلل

٢١ په دِربے کښے ئے چه زيرے واؤرولو اَوْ ډيرو خلقو ايمان راوړو نو هغوئ لستره ته،بيا اِکونيوم ته اَوْ بيا
اَنطاکيه ته بيرته لاړل. ٢٢ چا چه ايمان راوړے وُو، دَ هغو زړۀ ئے مضبُوطولو. زړۀ ور کول ئے چه په خپل
ايمان ټينګ پاتے شی اَوْ هغوئ ته ئے خبردارے ورکړو چه دَ خُدائے بادشاهئ ته دَ داخليدو دَ پاره به مُونږ
ډير تکليفُونه زغمُو. ٢٣ هغوئ په هر جماعت کښے مشران ورته مُقرر کړل،نو په روژه اَوْ دُعا ئے هغوئ
هغه مالِک ته وسپارل په چا چه ئے ايمان راوړے وُو.

٢٤ بيا پولوس اَوْ برنبا له پيسيديه نه تير شول اَوْ پمفوليه ته راغلل. ٢٥ اَوْ چه هغوئ په پرګه کښے کلام
واؤرولو نو لاندے اِټاليه ته لاړل. ٢٦ اَوْ له دے ځائے نه اَنطاکيه ته دَ اوبو په جهاز کښے لاړل چرته چه
هغوئ دَ خُدائے فضل ته وسپارلے شول چه هغه کار وکړی کُوم چه ئے اوس کړے وُو.

٢٧ کله چه هغوئ راورسيدل اَوْ جماعت ئے جمع کړلو،نو دَ هغه هر څۀ نه ئے خبر کړل چه خُدائے دَ
دوئ په وسيله کړی وُو،اَوْ چه څنګه هغۀ غير يهُوديانو ته دَ ايمان دَ راړو دروازے خلاصے کړے وے. ٢٨
اَوْ هغوئ هلته تر ډير وخت پورے دَ عيسیٰ مئُونکو سره پاتے شول.

# اَعمال د رسُولانو باب ١٥

## په بيتُ المُقدس کښے غونډه

١ بيا ځنے کسان چه له يهُوديه نه راغلی وُو اَوْ عيسیٰ مئُونکو ته ئے دا تعليم شروع کړو چه”که تاسو دَ
مُوسیٰ دَ شريعت په مُطابق سُنت نۀ شئ نو خلاصُون نۀ شئ مُوندلے.“ ٢ په دے دَ هغوئ سره دَ پولوس
اَوْ برنبا ډير سخت بحث وشو اَوْ دا فيصله وشوه چه دوئ دوه اَوْ ځنے نور دَ انطاکيانو نه دِ بيتُ المُقدس

ته لاړ شی چه دا مسئله دَ رسُولانو اَؤ نورو مشرانو په وړاندے پیش کړی.

۳ جماعت په خپله دَ هغوئ دَ تلو بندوبست وکړو اَؤ رُخصت ئے کړل اَؤ په فینیکیے اَؤ سامریه ور تیر شول
اَؤ په لاره ئے دَ غیر یهُودیانو دَ ایمان راؤړو خبرے کولے،نو په دے خبره هلته اوسیدُونکی دَ عیسیٰ
منُونکی ډیر خوشحاله شول. ٤ کله چه هغوئ بیتُ المُقدس ته ورسیدل نو دَ جماعت رسُولانو اَؤ مشرانو
ورته تود هر کلے ووے اَؤ بیا ئے دَ هغه څۀ نه چه خُدائے ورسره کړی وُو،خبر کړل. ٥ بیا دَ فریسیانو دَ
فرقے څۀ کسان چه ایمان ئے راوړے وُو،وړاندے راغلل اَؤ وئے وئیل چه”ضرُوری دی چه هغوئ سُنت
شی اَؤ دَ مُوسیٰ دَ شریعت پابندی وشی.“

٦ رسُولانو اَؤ مشرانو په دے خبره دَ بحث دَ پاره غونډه وکړه. ۷ اَؤ دَ یو اُوږد بحث نه پس پطروس
پاڅیدو اَؤ هغوئ ته مخاطب شو اَؤ وئے وئیل چه”اَئے زما ورُونړو! تاسو په خپله خبر یئ چه په اولو ورځو
کښے خُدائے په تاسو کښے زۀ دے ته غوره کړم چه غیر یهُودیان زما په خُلۀ دَ زیری کلام واؤری اَؤ
ایمان پرے راوړی. ۸ اَؤ خُدائے چه ورته دَ خلقو نیت معلوم دے، هغۀ په خپله مهربانئ هغوئ په رُوحُ
القُدس داسے معمور کړل لکه چه مُونږ ئے معمُور کړی وُو. ۹ هغۀ په هغوئ کښے اَؤ په مُونږ کښے څۀ
فرق ونۀ کړو ځکه خو خُدائے دَ هغوئ دَ ایمان راوړلو په وجه دَ هغوئ زړُونه پاک کړل. ۱۰ نو بیا تاسو
اوس خُدائے ولے راپاروئ اَؤ دَ دے عیسیٰ منُونکو په اوږو داسے جغ ولے ږدئ چه نۀ خو مُونږ اَؤ نۀ زمُونږ
پلارُونو نیکُونو پورته کولے شو؟ ۱۱ نه! زمُونږ دا عقیده ده چه مُونږ دَ مالِک عیسیٰ دَ فضل په وسیله
خلاصُون مُوندلے دے اَؤ دغسے دوئ هم.“

۱۲ په دے ټوله غونډه چپ شوه اَؤ برنبا اَؤ پولوس ته ئے غوږ کیښوو چا چه هغه نخښے اَؤ مُعجزے بیان
کړے چه دَ دوئ په وسیله خُدائے په غیر یهُودیانو کښے ښکاره کړے. ۱۳ هغوئ چه خبرے بس کړے
نو یعقُوب ووئیل چه”اَئے زما دوستانو! ما ته غوږ کیږدئ. ۱٤ شمعُون وئیلی دی چه خُدائے څنګه په اول
ځل دَ غیر یهُودیانو نه داسے خلق خوښ کړل چه یو اُمت دَ خپل نُوم دَ پاره ترے نه جوړ کړی. ۱٥ اَؤ دا
دَ نبیانو دَ کلام سره هم مُطابقت خوری لکه چه صحیفے وائی:

۱٦ «دَ هغے نه پس به زۀ بیرته راوګرزم

اَؤ دَ داؤد نړیدلے کور به بیا آباد کړم،

د هغۀ کنډرونه به ساز کړم

۱۷ دَ دے دَ پاره چه نور اِنسانان،

یعنے غیر یهُودیان زما لټُون وکړی

څوک چه ما بللی اَؤ خپل کړی دی.

۱۸ خُدائے داسے وائی،هغه چه دغه کارُونه کوی

چه دَ صدو راسے معلُوم دی.»

۱۹ ”دَ دے دَ پاره زما فیصله دا ده چه مُونږ به په غیر یهُودیانو قومُونو چه خُدائے ته راګرزی،په هغوئ
سختے پابندئ ونهٔ لګوُو، ۲۰ بلکه په لیکلو ورته هدایت وکړُو چه بُتانو ته پیش کړے نذرانے څیزُونه اَؤ
حرامکارئ اَؤ دَ خپه شوے غوښے نه اَؤ دَ وینے نه ځان وساتئ. ۲۱ ځکه چه دَ پخوانئ زمانے نه په هر
ښار کښے داسے کسان شته چه دَ مُوسیٰ شریعت آؤری اَؤ کُوم چه په هر سبت په عبادت خانو کښے
لوستلے کیږی.“

## دَ غونډے جواب

۲۲ بیا رسُولانو اَؤ مشرانو دَ ټول جماعت په مصلحت دا فیصله وکړه چه نمائینده ګان خوښ کړی اَؤ
هغوئ اَنطاکیه ته دَ پولوس اَؤ برنبا سره واستوی. هغوئ په خپلو کښے یهُوداه چه برسبا ورته وائی،اَؤ
سیلاس چه په هغوئ کښے ډیر عزتمن وُو،غوره کړل. ۲۳ اَؤ دا خط ئے دَ رسولو دَ پاره ورکړو:

”دَ مُونږ رسُولان اَؤ مشران دَ ورُونو په شان هغه ورُونو ته سلام لیکُو خوک چه په شام اَؤ کلکیه کښے
اَنطاکیے غیر یهُودی نسل نه دی. ۲۴ ځکه چه مُونږ آؤریدلی دی چه زمُونږ څنو کسانو زمُونږ دَ حُکم نه
بغیر په خپلو خبرو تاسو پریشانه کړی یئ اَؤ ستاسو زړُونه ئے ګډوډ کړی دی. ۲۵ مُونږ دا فیصله کړے ده
چه تاسو ته خپل خوښ کړی نمائنده ګان دَ خپلو خوږو ملګرو برنبا اَؤ پولوس سره درولیږو، ۲۶ چه خپل
ځانُونه زمُونږ دَ مالِک عیسیٰ مسیح دَ نُوم دَ پاره قُربان کړی. ۲۷ دَ دے دَ پاره مُونږ یهوداه اَؤ سیلاس
درلیږُو اَؤ هغوئ به درته په خپله زبانی دا خبرے تیرے کړی. ۲۸ دا زمُونږ اَؤ دَ رُوحُ القُدس فیصله ده چه
دَ دے ضروری خبرو نه زیات په تاسو نور بوج وانهٔ چوُو. ۲۹ تاسو ته په کار دی چه بُتانو ته نذر کړے
قُربانئ دَ غوښے،له وینے اَؤ له خپه شوی غوښے اَؤ له حرامکارئ نه ځان ساتئ. که تاسو دَ دے څیزُونو نه
ځانُونه بچ ساتئ نو تاسو به ښهٔ کوئ. والسلام.“

۳۰ نو دغه شان دوئ رُخصت کړے شول اَؤ اَنطاکیے ته لاړل. هلته هغوئ جماعت یو ځائے جمع کړو
اَؤ خط ئے ورله ورکړو. ۳۱ هر کله چه هغه ولوستلے شو نو هغوئ ټول دَ دے تسلئ په وجه خوشحاله
شول. ۳۲ اَؤ یهُوداه اَؤ سیلاس چه په خپله هم نبیان وُو،هغوئ ته ئے ډیر نصیحت وکړو اَؤ زړُونه ئے ورته
ټینګ اَؤ مضبوط کړل. ۳۳ اَؤ هلته دَ څهٔ وخت تیرولو نه پس له هغه ورُونو نه په خیر سره خپلو استوُونکو
ته واپس لاړل. ۳۴ سیلاس هلته دَ پاتے کیدو فیصله وکړه. ۳۵ خو پولوس اَؤ برنبا په اَنطاکیه کښے پاتے
شول اَؤ هلته ئے دَ ډیرو نورو سره دَ مالِک کلام آؤرولو اَؤ تعلیم ئے ورکولو.

## دَ پولوس اَؤ دَ برنبا جُدائی

۳۶ نو څو ورځے پس پولوس برنبا ته ووئیل چه”آیا مُونږ ته واپس کیدل نهٔ دی په کار چه په مُختلفو ښارُونو
کښے خپل هغه وروڼه وګورُو چه څنګه دی چه مُونږ ورته دَ مالِک کلام آورولے وُو؟“ ۳۷ دَ برنبا دا
خواهش وُو چه یوحنا چه ورته مرقوس وائی دَ ځان سره بوزی. ۳۸ خو پولوس دا مناسب نهٔ ګڼل چه هغه
دَ ځان سره ملګرے کړی ځکه چه یوحنا دوئ په پمفولیه کښے پریښںولی وُو اَؤ دَ دوئ سره په کار کښے

ملګرتيا نۀ وه کړے. ۳۹ بيا دَ دوئ په مينځ کښے جګړه دومره سخته شوه چه هغوئ دَ يو بل نه جُدا
شول اَؤ برنبا مرقوس دَ ځان سره کړو اَؤ دَ اوبو په جهاز کښے قبرص ته روان شو. ۴۰ خو پولوس سيلاس
خوښ کړو اَؤ هغه په خپل سفر روان شو. دَ عيسیٰ منُونکو هغه دَ رب فضل ته وسپارلو. ۴۱ اَؤ په شام اَؤ
کلکيه ورتير شو اَؤ جماعتُونه ئے مضبوط کړل.

## اَعمال د رسُولانو باب ۱۶

## دَ پولوس اَؤ سيلاس سره دَ تيموتيوس ملګرتيا

۱ پولوس دِربے اَؤ لستره ته ورسيدو. هلته تيموتيوس نُومے ايماندار سړے وُو چه مور ئے يهُودی وه اَؤ دَ
عيسیٰ منُونکے وه خو پلار ئے يُونانی وُو. ۲ هغه دَ لستره اَؤ اِکونيوم په عيسیٰ منُونکو کښے ډير نيک نام
وُو. ۳ اَؤ پولوس چه دَ هغه ځائے نه روانيدو نو دَ تيموتيوس بوتلل ئے دَ ځان سره خوښ کړل. نو هغه ئے
دَ ځان سره کړو اَؤ په هغه علاقه کښے چه کُوم يهُوديان اوسيدل،دَ هغوئ په وجه ئے سنُت کړو ځکه
چه هغوئ ته معلُومه وه چه دَ هغۀ پلار يُونانی وُو. ۴ اَؤ چه هغوئ دَ يوے ښارئے نه بلے ښارئے ته تلل نو
هغه فرمانُونه چه رسُولانو اَؤ مشرانو پرے په بيتُ المُقدس کښے فيصله کړے وه،خلقو ته حواله کول چه
عمل پرے وکړی. ۵ اَؤ دغه شان ورځ تر ورځ جُماعتُونه په ايمان مضبوطيدل اَؤ په شمار کښے زياتيدل.

## دَ مِکدونی سړی په حقله دَ پولوس رويا

۶ اَؤ هغوئ دَ فروګيه اَؤ ګلتيه په علاقو تير شول ځکه چه رُوحُ القُدس هغوئ دَ ايشيا په صوبه کښے دَ
کلام آؤرولو نه منع کړی وُو. ۷ اَؤ کله چه هغوئ دَ موسيه بريد ته ورسيدل نو هغوئ کوشش وکړو چه
بتونيه ته ننوزی خو دَ عيسیٰ رُوح پرے نۀ ښودل. ۸ نو هغوئ په موسيه تير شول اَؤ ترواس ته ورسيدل. ۹
اَؤ دَ شپے پولوس رويا وليده چه يو مِکدونی سړے ولاړ دے اَؤ دا خواست ورته کوی چه”مِکدونيه ته
راپورے وزه اَؤ زمُونږ مدد وکړه!“ ۱۰ اَؤ چه دا رويا ئے وليده نو مُونږ سمدستی کوشش وکړو چه مِکدونيه
ته لاړ شُو. مُونږ ته داسے ښکاريدله لکه چه خُدائے راته وئيلی وی چه هغوئ ته زيرے واؤروو.

## دَ لديه په مسيح ايمان راوړل

۱۱ نو مُونږ له ترواس نه دَ اوبو په جهاز کښے سوارۀ شوو اَؤ نيغ سامو تراکے ته لاړلُو اَؤ په بله ورځ
نياپوليس ته، ۱۲ اَؤ دَ هغه ځائے نه فيليپی ته چه دَ مِکدونيه په ضلع کښے لوئے ښار دے اَؤ درُوميانو
چاؤنړئ هم ده. دلته مُونږ څو ورځے تيرے کړے. ۱۳ اَؤ دَ سبت په ورځ مُونږ دَ ښار دَ دروازے نه بهر دَ
سيند غاړے ته لاړُو چرته چه زمُونږ خيال وُو چه دَ عبادت ځائے به وی،اَؤ کښيناستلُو اَؤ هلته راجمع شوؤ
ښځو سره مو خبرے وکړے. ۱۴ په هغوئ کښے دَ يوے نُوم لديه وُو چه دَ قيمتی اُودی رنګ جامو
سوداګره وه اَؤ دَ تواتيره دَ ښار اوسيدُونکے وه چه دَ خُدائے عبادت به ئے کاوو. مالِک دَ هغے زړۀ پرانستو
اَؤ هغے دَ پولوس کلام قبُول کړو. ۱۵ اَؤ هغے ته سره دَ هغے دَ خاندان بپتسمه ورکړے شوه. نو بيا هغے
مُونږ ته ووئيل چه”که تاسو ما دَ مالِک ايمانداره ګڼئ نو زَۀ درته خواست کوم چه راشئ اَؤ زما په کور
کښے ديره شئ.“ اَؤ هغے مُونږ ته تاکيد وکړو.

## دَ فیلیپی په قید خانه کښې

۱۶ یوه ورځ چه مُونږ دَ عبادت ځائے ته په لاره تلُو نو مُونږ یوه وینځه ولیده چه پرے دَ غیبو وئیلو رُوح
ناست وُو اَؤ خپلو مالِکانو له به ئے په غیب وئیلو ډیرے پیسے گټلے. ۱۷ هغه په پولوس اَؤ مُونږ پسے راتله
اَؤ چغې به ئے وهلے،"دا دَ رب الاعلیٰ غُلامان دی اَؤ تاسو ته دَ خلاصُون لار ښیئ!" ۱۸ هغے دغه شان
هره ورځ کول تر دے چه دَ پولوس نه نور زغم ونۀ شو. هغۀ رُوح ته مخ وروااړولو اَؤ وئے وئیل چه"زۀ تا
ته حُکم درکوم چه دَ عیسیٰ مسیح په نُوم دَ دے نه بهر راوزه!"اَؤ هغه په هغه ساعت هم هلته ترے نه
راووتو. ۱۹ هر کله چه دَ جینئ مالِکانو وکتل چه دَ دوئ دَ گټے اُمید ختم شو نو هغوئ پولوس اَؤ سیلاس
ونیول اَؤ په راکښلو ئے دَ بازار چوک ته حاکمانو ته راوستل. ۲۰ اَؤ دوئ ئے مُنصفانو ته پیش کړل اَؤ وئے
وئیل چه"دا سړی زمُونږ په ښار کښے گړبړ پیدا کوی بلکه دوئ یهُودیان دی. ۲۱ دوئ دَ هغه رسمُونو
تعلیم ورکوی کُوم چه مُونږ رُومیانو ته منل اَؤ پرے عمل کول منع دی."

۲۲ اَؤ گڼے پرے حمله وکړه اَؤ مُنصفانو دَ پولوس اَؤ سیلاس جامے وشلولے اَؤ په کروړو وهلو حُکم ئے
پرے وکړو. ۲۳ چه ښه ئے ووهل نو بیا ئے دوئ قید خانے ته واچول اَؤ داروغه ته ئے حُکم وکړو چه
هغوئ دَ نظر دَ لاندے ساتی. ۲۴ دَ دے حُکم په مُطابق هغۀ هغوئ په قید خانه کښے واچول اَؤ دَ هغوئ
پښے ئے په کُنده کښے ورکړلے.

۲۵ خو تقریبًا په نیمه شپه کښے چه پولوس اَؤ سیلاس خپله دُعا کوله اَؤ دَ خُدائے ثنا ئے وئیله اَؤ نورو
قیدیانو ورته غوږ ایښے وُو، ۲۶ چه ناڅاپی داسے سخته زلزله راغله چه دَ قید خانے بنیادُونه ئے وخوځول.
ټولے دروازے خلاصے شوے اَؤ دَ ټولو قیدیانو بیړئ پرانستلے شوے. ۲۷ خو چه داروغه له خوب نه
راویښ شو اَؤ دَ قید خانے دروازے ئے خلاصے ولیدلے نو دا خیال ئے وکړو چه قیدیان به تښتیدلی وی،اَؤ
خپله تُوره ئے راوویستله چه ځان ووژنی. ۲۸ خو پولوس چغے کړلے چه"ځان ته نقصان مه رسوه ولے چه
مُونږ ټول دلته یُو!"

۲۹ نو داروغه رڼا راوغوښتله،ورمنډے ئے کړے اَؤ دَ پولُوس اَؤ سیلاس په وړاندے په مزکه پریوتو اَؤ دَ
ویرے نه رپیدلو. ۳۰ بیا هغۀ هغوئ رابهر کړل اَؤ وئے وئیل چه"اَئے صاحبانو! زۀ څۀ وکړم چه خلاصُون
حاصل کړم؟"

۳۱ هغوئ ووئیل چه"په مالِک عیسیٰ باندے ایمان راوړه اَؤ تۀ اَؤ ستا کورنئ به خلاصُون ومُومی." ۳۲ بیا
هغوئ دَ مالِک کلام هغۀ ته اَؤ دَ هغۀ دَ کور ټولو خلقو ته واوّرولو. ۳۳ نو دَ شپے په هم هغه ساعت هغۀ
هغوئ بوتلل اَؤ دَ هغوئ پرهرونه ئے ووینځل،اَؤ په هغے پسے سمدستی هغۀ ته اَؤ دَ هغۀ دَ کور ټولو خلقو
ته بپتسمه ورکړے شوه. ۳۴ هغۀ هغوئ خپل کور ته راوستل اَؤ خوراک ئے ورته کیښودو اَؤ سره دَ ټولے
کورنئ ئے ډیره ښادی وکړله ځکه چه هغوئ په خُدائے ایمان راوړے وُو.

۳۵ کله چه ورځ شوه نو مُنصفانو حاکمانو ته هدایت وکړو چه"ورشئ اَؤ هغه سړی پریږدئ چه لاړ شی."
۳۶ نو داروغه پولُوس ته دا خبره وروسوله چه"مُنصفانو دا خبر را استولے دے چه تاسو اَؤ سیلاس به

خلاصولے شئ،نو اوس تاسو په آزادئ تلے شئ اَؤ په خير لاړ شئ.“

۳۷ خو پولوس حاکمانو ته ووئيل چه”هغوئ مُونږ دَ خلقو په وړاندے په کروړو ووهلُو سره دَ دے چه مُونږ
رُوميان يُو اَؤ هيڅ قصُور مُو نۀ دے کړے. هغوئ مُونږ قيد خانے ته واچولُو اَؤ اوس مو دوئ په پټه وباسی
څۀ؟ نه! په کار دی چه دوئ دِ په خپله راشی اَؤ مُونږ دِ بهر وباسی.“

۳۸ حاکِمانو دَ دوئ دا خبره مُنصفانو ته ورسوله. مُنصفانو چه واؤريدل چه پولوس اَؤ سيلاس رُوميان دی
نو ووېريدل ۳۹ اَؤ راغلل اَؤ دَ هغوئ نه ئے معافی وغوښتله،بيا هغوئ ورسره تر بهره جلب وکړو اَؤ مِنت ئے
ورته وکړو چه دَ ښار نه لاړ شئ. ۴۰ اَؤ چه دَ قيد خانے نه راووتل نو هغوئ دَ لديه کور ته لاړل اَؤ هلته
ئے دَ عيسیٰ منُونکو ملګرو سره وليدل اَؤ دَ تسلئ خبرے ئے ورته وکړلے اَؤ بيا ترے روان شول.

# اَعمال د رسُولانو باب ۱۷

## په تِسالونيکيه کښے شور زوږ

۱ بيا پولوس اَؤ سيلاس په امفيپوليس اَؤ په اپولونيه ورتير شول اَؤ تِسالونيکيه ته ورغلل چرته چه دَ يهُوديانو
عبادت خانه وه. ۲ اَؤ پولوس دَ خپل عادت په مُطابق دَ هغوئ غونډے ته ورغے اَؤ تر دريو سبتُونو پورے
ئے دَ هغوئ سره بحثُونه وکړل. ۳ دَ صحيفو دَ ليک مِثالُونه ئے بيان کړل اَؤ تشريح ئے ورته وکړه چه
مسيح به تکليفُونه خامخا وزغمی اَؤ دَ مړو نه به بيا ژوندے راپاڅی. اَؤ هغۀ ووئيل چه”کُوم عيسیٰ چه زۀ
تاسو ته بيانوم، هغه هم مسيح دے.“ ۴ په هغوئ کښے ځنے قائل شول اَؤ دَ پولوس اَؤ سيلاس سره
ملګری شول اَؤ دغه شان دِ ديندارو يُونانيانو کافی تعداد اَؤ ډيرے عزتمنے ښځے هم قائلے شوے.

۵ خو يهُوديانو دَ حسد له کبله څۀ بازاری بدمعاشان دَ ځان سره کړل،ګڼه ئے جوړه کړه اَؤ په ښار کښے
په شور زوږ لګيا شول. هغوئ دَ ياسون کور راګير کړو چه پولوس اَؤ سيلاس دَ ښارئے عامو خلقو ته
راوباسی. ۶ خو چه هغوئ ئے ونۀ مُوندل نو ياسون اَؤ ځنے نور دَ جماعت ممبران ئے مُنصفانو ته په
راکښلو راوړاندے کړل اَؤ چغے ئے کړے چه”کُومو کسانو چه په ټوله دُنيا کښے تکليف راخور کړے
دے اوس دلته راغلی دی، ۷ اَؤ ياسون هغوئ دَ ځان سره ميلمانۀ کړی دی. هغوئ ټول دَ قيصر قانُون
ماتوی اَؤ وائی چه يو بادشاه بل دے يعنے عيسیٰ.“ ۸ په دے خبرو په ګڼه کښے غوزغوزئ جوړ شو اَؤ په
مُنصافانو هم اثر وشو. ۹ نو هغوئ دَ ياسون اَؤ نورو نه ضمانت واخستلو اَؤ پرے ئے ښودل.

## رسُولان په بيريه کښے

۱۰ نو څۀ وخت چه تيارۀ شوه نو دينی ورُوڼو پولوس اَؤ سيلاس بيريه ته واستول. هلته چه ورسيدل نو دَ
يهُوديانو يوے عبادت خانے ته لاړل. ۱۱ دَ دے ځائے يهُوديان دَ تِسالُونيکيه دَ يهُوديانو نه اشراف وُو،ولے
چه هغوئ کلام ډير په اِخلاص قبُول کړو اَؤ هره ورځ به ئے صحيفے لوستلے چه وګورِی چه دا هم
دغسے دی لکه چه دوئ وائی. ۱۲ نو ځکه په هغوئ کښے ډيرو ايمان راؤړو اَؤ دغه شان ډيرو يُونانيانو
عزتمنو ښځو اَؤ سړو هم ايمان راؤړو. ۱۳ خو چه دَ تسالونيکيه يهُوديانو ته دا معلُومه شوه چه پولوس په

بیریه کښېـــ دَ خُدائـــ کلام بیانوی نو هغوئ هلته راغلل چه ډېر خلق راوپاروی اَوُ پریشانه ئـــ کړی. ۱۴ نو
دینی ورُونړو پولوس سمدستی دَ ساحل غاړے ته لاندے ولیږلو. په دے دؤران کښېـــ سیلاس اَوُ تیموتیوس
دواړه وروستو پاتـــ شول. ۱۵ نو دَ پولوس بدرګـــ هغه اتینیه ته راواستول اَوُ په واپسئ کښېـــ ئـــ سیلاس اَوُ
تیموتیوس ته دا حُکم راوړو چه څومره زر چه کیدے شی ما له دِ ځان راورسوی.

## پولوس په اتینیه کښېـــ

۱۶ بیا چه پولوس په اتینیه کښېـــ دَ هغوئ په اِنتظار وُو نو زړهٔ ئـــ په دے خبره ډېر غمژن شو چه ښار ئـــ
له بُتانو نه ډک ولیدلو. ۱۷ نو هغهٔ به په عبادت خانو کښېـــ دَ یهُودیانو اَوُ یُونانیانو سره بحثُونه کول اَوُ
دغسے به ئـــ دَ ښار په چوکُونو کښېـــ هره ورځ دَ تلُونکو راتلُونکو سره کول. ۱۸ اَوُ ځنـــ اِپیکُوری اَوُ
ستُوئیکی فلسفیانو ورسره بحث کولو اَوُ ځنو ووئیل چه"دا دروغژن باتُور څهٔ وئیل غواړی؟" اَوُ نورو ووئیل
چه"معلُومیږی داسے چه دَ غیر خُدایانو بحث کوی." اَوُ دا ئـــ ځکه ووئیل چه هغهٔ دَ عیسیٰ اَوُ دَ قیامت
زیرے آؤرولو. ۱۹ نو هغوئ ونیولو اَوُ دَ اریوپاګوس عدالت ته ئـــ راوړاندے کړو اَوُ ورته ئـــ ووئیل چه"دا
کُوم نوے تعلیم چه تهٔ ورکوے،مُونږ په دے پوهولـــ شـــ څهٔ؟ ۲۰ اَوُ تهٔ داسے خبرے راوړاندے کوے چه
هغه مُونږ ته نا آشنا معلُومیږی اَوُ مُونږ په دے ځانُونه خبرول غواړُو." ۲۱ اَوُ اتینیانو اَوُ دَ هغه ځائـــ غیرو
خلقو سره دَ وخت تیرولو نه سیوا دَ نورو تازه واقعاتو دَ آؤریدو نه نور څهٔ بل کار نهٔ وُو.

۲۲ نو بیا پولوس دَ اریوپاګوس دَ عدالت دَ وړاندے ودریدو اَوُ وئـــ وئیل چه"اَئـــ اتینیانو! زهٔ وینم چه هر
هغه څیز چه دَ مذهب سره تعلق لری نو تاسو دَ حد نه زیات سر ګرم یئ. ۲۳ ځکه هر کله چه ما ستاسو
دَ عبادت دَ څیزُونو ننداره کوله نو ما دَ نورو څیزُونو سره یوه قُربانګاه ولیده چه دا پرے دَ پاسه لیک وُو
چه،دَ یو نامعلُوم خُدائـــ دَ پاره. تاسو چه دَ کُوم څیز عبادت کوئ دَ هغـــ درته پته نِشته،هم دغه څیز زهٔ
درته بیانوم. ۲۴ هغه خُدائـــ چه دُنیا ئـــ پیدا کړه اَوُ په کښېـــ ئـــ هر څیز هم پیدا کړو،هم هغه دَ آسمان اَوُ
دَ مزکـــ مالِک دے اَوُ هغه دَ بنی آدمو دَ لاسه جوړ شؤو ځایُونو کښېـــ نهٔ اوسیږی. ۲۵ هغه دَ بنی آدم دَ
څهٔ څیز مُحتاج نهٔ دے چه دَ بنی آدم دَ لاسه خدمت آخلی،بلکه هغه په خپله ټول کائینات له ژوند اَوُ
ساه اَوُ نور څیزُونه ورکوی. ۲۶ هغهٔ دَ دُنیا ټول قومُونه دَ یو نسل نه پیدا کړل چه دَ ټولـــ دُنیا په مخ
اوسیږی. هغهٔ دَ هغوئ میعادُونه اَوُ دَ استوګنـــ حدُونه مُقرر کړل، ۲۷ دَ دے دَ پاره چه دَ خُدائـــ لټُون
وکړی اَوُ شاید چه په لټولو ئـــ بیا مُومی. بـــ شکه چه هغه له مُونږ هیچا نه لرے نهٔ دے. ۲۸ ولـــ چه
زمُونږ دَ ژوندُون حرکت اَوُ شته والـــ په هغهٔ کښېـــ دے. لکه چه ستاسو خپلو ځنو شاعرانو وئیلی دی
،مُونږ هم دَ هغهٔ دَ نسل نه یُو.

۲۹ که مُونږ دَ خُدائـــ دَ نسل نه یُو نو بیا مُونږ ته دا ګمان کول مناسب نهٔ دی چه ګنی دَ خُدائـــ ذات
داسے دے لکه سرهٔ زر،سپین زر یا کاڼـــ چه بنی آدم ئـــ په خپله پوهه اَوُ هُنر سره تراشی. ۳۰ تر څو چه دَ
ناپوهئ دَ وخت تعلق وُو نو خُدائـــ ځان پرے نا غرض کړے وُو خو اوس هغه هر چرته ټولو بنی آدمو له
حُکم ورکوی چه توبه ګار شی. ۳۱ ځکه چه هغهٔ یوه ورځ مُقرر کړے ده چه هغه به دَ دُنیا عدالت په
صحیح صداقت سره دَ یو داسے سړی په وسیله وکړی چه هغهٔ غوره کړے دے اَوُ دغه شان ئـــ هر چا ته
ثابته کړه چه هغه ئـــ له مړو نه بیا راژوندے کړو!"

۳۲ کله چه هغوئ دَ مړو نه دَ راژوندی کولو خبرے واؤریدلے نو څنو ورپورے ټوقے وکړے اَؤ څنو ووئیل
چه"په دے حقله به مُونږ له تا نه بیا خبرے واؤرُو." ۳۳ اَؤ دغه شان پولوس دَ ګڼے دَ مینځ نه ووتو. ۳٤
خو یو څو کسان ورسره شول اَؤ ایمان ئے راؤړو چه په هغو کښے یو دیونیسیوس دَ اریوپاګوس دَ عدالت
غړے هم وُو اَؤ ورسره دَ مریس نومے یوه ښځه اَؤ څنے نور کسان هم وُو.

# اَعمال د رسُولانو باب ۱۸

## په کورنتوس ښار کښے پولوس

۱ دَ دے نه پولوس له اتینیه نه روان شو اَؤ کورنتوس ته لاړو. ۲ هلته هغه په اکوله نومے یهُودی پیښ شو
چه دَ اصل نه دَ پونطوس وو اَؤ دَ ښځے نُوم ئے پرسکله وُو. هغه تازه تازه له اِټلی نه راغلے وُو ځکه چه
هلته قیصر کلودیوس دا حُکم کړے وُو چه ټول یهُودیان دِ له رُوم نه ووزی. پولوس هغو ته ورغے، ۳ اَؤ دَ
هغو سره ځکه دیره شو چه دَ هغهٔ کسب هم هغه وُو. نو هغه دواړو په شریکه کار شروع کړو اَؤ هغوئ
تمبوان جوړول. ٤ هغهٔ به دَ یهُودیانو په عبادت خانے کښے هم دَ هر سبت په ورځ بحث کولو اَؤ دا
کوشش ئے کولو چه یهُودیان اَؤ یُونانیان قائل کړی.

۵ بیا سیلاس اَؤ تیموتیوس له مِکدونیه نه راغلل اَؤ پولوس یهُودیانو ته په ګواهئ ور کولو کښے بیخی
بوخت وُو اَؤ وئیل ئے چه عیسیٰ هم مسیح دے. ٦ خو کله چه هغوئ مُخالفت وکړو اَؤ بد رد ئے ورته
ووئیل نو هغهٔ خپلے جامے وڅنډلے اَؤ هغوئ ته ئے ووئیل چه"ستاسو خُون ستاسو په غاړه،زهٔ ترے پاک
یم . نو زهٔ اوس غیر یهُودیانو ته ځم." ۷ دَ دے وئیلو سره هغه روان شو اَؤ دَ تیطیوس یُوستوس نُومے یو
غیر یهُودی سړی کورته ورغے چا چه دَ خُدائے عبادت کولو اَؤ دَ عبادت خانے سره جُخت اوسیدلو. ۸
اَؤ دَ عبادت خانے سردار کرسپوس دَ خپل ټول کور سره په مالِک ایمان راؤړو اَؤ ډیرو کورنتیانو هم
واؤریدل،ایمان ئے راؤړو اَؤ بپتسمه ورکړے شوه.

۹ اَؤ یوه شپه پولوس ته مالِک په رویا کښے ووئیل چه"ویریږه مه،خپل تبلیغ جاری ساته اَؤ خاموشه کیږه
مه، ۱۰ ځکه چه زهٔ درسره یم. هیڅوک به دربانده دَ نقصان رسولو دَ پاره حمله ونهٔ کړی ځکه چه په
دے ښار کښے ډیر داسے خلق شته چه زما دی." ۱۱ نو هغه اَتلس میاشتے هلته پاتے شو اَؤ هغه خلقو ته
به ئے دَ خُدائے دَ کلام تعلیم ور کاوو.

۱۲ خو کله چه ګلیو دَ اخیه حاکم وُو نو یهُودیان په یو زړهٔ په پولوس راټول شول اَؤ عدالت ته ئے بوتلو.
۱۳ اَؤ هغوئ ووئیل چه"دا سړے دَ شریعت نه خلاف خلق دَ خُدائے عبادت ته را اړوی!"

۱٤ خو چه پولوس جواب ورکولو نو په دے کښے ګلیو هغوئ ته ووئیل چه"که چرے دا خبره دَ جُرم یا دَ
شرارت وی نو یهُودیانو! ستاسو خبره به مے په سړه سینه آؤریدلے وه. ۱۵ خو که دا ستاسو یهُودیانو دَ
لفظُونو،نومُونو اَؤ دَ شریعت خبرے دی نو بیا تاسو په خپله ورسره پوهه شئ،زهٔ په داسے خبرو کښے دَ
مُنصف جوړیدلو خواهش نهٔ لرم." ۱٦ اَؤ بیا هغهٔ هغوئ له عدالت نه وشړل.۱۷ بیا عامو خلقو سوستینس

راونیولو څوک چه دَ عبادت خانے سردار وُو اَوۡ هغه ئے دَ عدالت په وړاندے ښۀ ووهلو. اَوۡ په دے ټولو خبرو کښے ګلیو هیڅ غم غرض ونه لرلو.

## دَ پولوس اَنطاکیه ته واپس تلل

۱۸ پولوس دَ څۀ وخت دَ پاره هلته پاتے شو اَوۡ بیا ئے دَ هغه ځائے دَ دینی ورُوڼو نه رُخصت واخستو اَوۡ دَ
اوبو په جهاز کښے شام ته روان شو اَوۡ ورسره پرسکله اَوۡ اکوله هم وُو. نو په کِنخریه کښے هغۀ خپل سر
وخریلو ځکه چه هغۀ منبنته کړے وه. ۱۹ هر کله چه هغوئ اِفِسوس ته ورسیدل نو پولوس له پرسله اَوۡ
اکوله نه جُدا شو اَوۡ یوه ورځے عبادت خانے ته لاړو اَوۡ هلته ئے دَ یهُودیانو سره بحث وکړو. ۲۰ هغوئ
ورته دَ څۀ وخت دَ پاره دَ پاتے کیدو ووئیل خو هغۀ اِنکار وکړو. ۲۱ اَوۡ دَ اِفِسوس دَ خلقو نه ئے په دے
وینا رُخصت واخستلو چه"که دَ خُدائے رضا وی نو زَۀ به بیا بیرته راشم" اَوۡ دَ اِفِسوس نه راوان شو.

۲۲ بیا چه په قیصریه کښے دَ جهاز نه کُوز شو نو هغه بیتُ المُقدس ته لاړو دَ جماعت دَ خلقو دَ سلام دَ
پاره اَوۡ بیا اَنطاکیه ته لاړو. ۲۳ اَوۡ چه هلته دَ څۀ وخت تیرولو نه پس هغه بیا په سفر روان شو اَوۡ دَ ګلتیه اَوۡ
فروګیه په وطن کښے وګرزیدو اَوۡ دَ ټولو نوو مُریدانو زړُونه ئے مضبُوط کړل.

## په اِفِسوس کښے دَ اپولوس وعظ

۲۴ بیا اپولوس نومے یو یهُودی چه دَ اصله دَ اسکندریه وُو،اِفِسوس ته راغے. هغه یو ښۀ مُقرر اَوۡ دَ کتابِ
مُقدس دَ کلام ښۀ عالم وُو. ۲۵ هغۀ دَ مالِک دَ لارے تعلیم حاصل کړے وُو اَوۡ په رُوحانی جوش سره ئے
خبرے کولے اَوۡ دَ عیسیٰ په حقله ئے صفا صفا تعلیم ورکولو. سره دَ دے هغۀ ته تش دَ یحییٰ بپتسمه
معلُومه وه. ۲۶ هغۀ په عبادت خانے کښے په زړۀ ورتیا سره خبرے شروع کړے. چرته چه پرسکله اَوۡ
اکوله دَ هغۀ خبرے واورېدلے نو هغوئ هغه دَ ځان سره کړو اَوۡ دَ خُدائے لار ئے ورته په پُوره تفصیل سره
بیان کړه. ۲۷ اَوۡ کله چه اپولوس وغوښتل چه اخیه ته پورے ووزی نو دینی ورُوڼو ئے مدد وکړو اَوۡ مُریدانو
ته ئے ولیکل چه هغه قبُول کړی. هر کله چه هغه راورسیدو نو دَ خُدائے په فضل دَ نوو ایمان راوړُونکو دَ
پاره ډیر فائده مند ثابت شو. ۲۸ ځکه چه هغۀ په ډیر زور سره یهُودیان ښکاره بے ځوابه کړل اَوۡ په ډاګه
ئے دَ کتابِ مُقدس نه دا ثابت کړه چه عیسیٰ هم مسیح دے.

## اَعمال د رسُولانو باب ۱۹

## پولوس په اِفِسوس کښے

۱ څۀ وخت چه اپولوس په کورنتوس کښے وُو نو پولوس په دَننئ علاقه کښے وګرزیدلو اَوۡ اِفِسوس ته
راغے. هلته هغۀ یو څو مُریدان ومُوندل، ۲ اَوۡ هغو ته ئے ووئیل چه"څۀ وخت چه تاسو ایمان راوړے وُو
نو رُوحُ القُدس درباندے نازل شوے وُو څۀ؟"

هغوئ جواب ورکړو چه"نه،مُونږ خو دَ سره دَ رُوحُ القُدس نه خبر قدرے هم نۀ یُو."

٣ بیا پولوس ووئیل چه”تاسو ته دَ څۀ بپتسمه درکړے شوے وه؟“ هغوئ جواب ورکړو چه”دَ یحییٰ بپتسمه.“

٤ پولوس بیا ووئیل چه”کُومه بپتسمه چه یحییٰ ورکړے وه هغه دَ توبه ګارئ بپتسمه وه. هغۀ خلقو ته وئیلی وُو چه په هغۀ ایمان راوړئ څوک چه دَ هغۀ نه پس راتلُونکے دے،اَؤ هغه عیسیٰ دے.“

٥ دَ دے په آؤریدو هغوئ ته دَ مالِک عیسیٰ په نُوم بپتسمه ورکړے شوه. ٦ اَؤ کله چه پولوس خپل لاسُونه په هغوئ کیښول نو په هغوئ رُوحُ القُدس نازل شو اَؤ هغوئ په مُختلفو ژبو خبرے کولے اَؤ دَ نبی په شان ګویا شول. ٧ اَؤ هغوئ قریبًا دولس کسان وُو.

٨ تر دریو میاشتو پورے به پولوس عبادت خانے ته تلو اَؤ دَ خلقو سره ئے په زړۀ ورتیا بحث کولو اَؤ قائلول به ئے اَؤ دَ خُدائے دَ بادشاهئ خبرے به ئے کولے. ٩ خو ځنی ډیر ځیلناک وُو اَؤ وئے نۀ منل اَؤ دَ خلقو په وړاندے ئے مسیحی عقیدے ته بد وئیل.نو پولوس ترے نه لاړو اَؤ خپل مُریدان ئے جُدا کړل اَؤ هره ورځ به ئے دَ تورنوس په مدرسه کښے بحث کاوو. ١٠ دا کار ئے تر دوؤ کالو پورے وکړو اَؤ نتیجه ئے دا شوه چه ایشیا دَ صوبے ټولے آبادئ یهُودیانو اَؤ یُونانیانو دَ خُدائے کلام واؤریدو.

## دَ سکیوا زامن

١١ اَؤ خُدائے دَ پولوس په وسیله لوئے مُعجزے ښکاره کولے. ١٢ هر کله چه به دَ پولوس دَ وجُود سره لګیدلی رومالُونه یا پیش بندُونه خلقو بیمارانو ته یوووړل نو هغوئ به دَ رنځونو نه روغ شول اَؤ ناپاک رُوحُونه به ترے نه پاځیدل. ١٣ خو ځنے دم آچوؤنکی یهُودیان چه سیلانیان وُو نو هغوئ به دَ ناپاکو رُوحونو په رنځُونو دَ مالِک عیسیٰ نُوم استعمالولو. هغوئ به وئیل چه”دَ هغه عیسیٰ په نُوم قسم درکوُو چه پولوس ئے بیانوی.“ ١٤ دَ سکیوا نُومے یهُودی سردار کاهن اُووۀ زامن وُو چه ئے دا طریقه اِستعمالوله.

١٥ خو کله چه ناپاک رُوح جواب ورکړو اَؤ وئے وئیل چه”زۀ عیسیٰ منم اَؤ پولوس هم پیژنم،خو تاسو څوک یئ؟“

١٦ نو هغه ناپاک رُوح نیولی سړی په هغوئ ورټوپ کړل اَؤ ټول ئے رالاندے کړل اَؤ داسے ئے وټکول چه دَ هغۀ دَ کور نه ربنړ اَؤ ژوبل شوی وتښتیدل. ١٧ اَؤ په اِفسوس کښے دا خبره ټولو یهودیانو اَؤ یُونانیانو ته معلُومه شوه اَؤ په هغوئ ټولو ویره راغله اَؤ دَ مالِک عیسیٰ دَ نُوم لوئی ئے ومُونده. ١٨ اَؤ نور ډیر کسان چه ایمان ئے راوړے وُو،راغلل اَؤ دا اِقرار ئے وکړو چه هغوئ جادُوګری کوله. ١٩ اَؤ ډیرو جادُوګرو خلقو چه پخوا به ئے جادُوګری کوله،خپل کتابُونه راجمع کړل اَؤ دَ خلقو دَ وړاندے ئے وسوزول اَؤ دَ ټول قیمت حساب ئے ولګولے شو نو پنځۀ لکه دَ سپینو زرو سکے وختلو. ٢٠ دغه شان دَ مالِک کلام مضبوطیدو اَؤ زیات نه زیات په اثرناکه طریقه خوریدلو.

## په اِفسوس ښار کښے بلوه

٢١ پس له دغه خبرو نه پولوس فیصله وکړه چه مکدونیه اَؤ اخیه ته لاړ شی اَؤ بیا بیتُ المُقدس ته ځان

ورسوی اَؤ هغهٔ ووئیل چه"هر کله چه زَهٔ هلته ورشم نو په کار دی چه دَ رُوم ښار خامخا وګورم." ۲۲ نو
هغهٔ دوه ملګری تیموتیوس اَؤ اِراستوس مِکدونیه ته ولیږل اَؤ په دے دوران کښے په خپله څهٔ زیاته مُوده دَ
ایشیا په صُوبه کښے پاتے شو.

۲۳ په دے دوران کښے دَ مسیحی عقیدے په وجه سخت تکلیف جوړ شو. ۲٤ هلته دیمیتریوس نُومے یو
زر ګر وُو چه دَ ارتِمیسے دَ مندر دَ سپینو زرو نمُونے به ئے جوړولے اَؤ دَ ډیرو کسب روز ګار پرے روان
وُو. ۲۵ هغهٔ دَ هغوئ اَؤ دَ داسے نورو کسب ګرو یوه غونډه راوغوښته اَؤ هغوئ ته ئے خبرے وکړلے. هغهٔ
ووئیل چه"اَئے سړو! تاسو خبر یئ چه زمُونږ دَ ژوندُون دار مدار په دے کسب دے. ۲٦ خو تاسو ګورئ
اَؤ آؤرئ چه دے پولوس نومے سړی په خپلو خبرو څومره ګڼ خلق،نهٔ صرف په اِفِسوس کښے بلکه تقریبًا
په توله ایشیا کښے وغُلول. هغه وائی چه دَ بنی آدم دَ لاسه جوړ خُدایان هډو خُدایان دی نه. ۲۷ دا
خطره ده چه نهٔ تش دا چه زمُونږ کاروبار به بے قدره شی بلکه دَ ارتِمیسے مندر به ناڅیزه وګڼلی شی اَؤ
په ایشیا اَؤ په ټوله دُنیا کښے چه دَ هغے عبادت کیږی نو دا شان و شوکت به ختم شی!"

۲۸ هغوئ چه دا خبرے واؤریدلے نو په غُصه شول اَؤ چغے ئے کړے چه"دَ اِفِسیانو ارتِمیسه لویه ده!" ۲۹
نو ټول ښار ګډه وډ شو اَؤ هغوئ دَ پولوس دَ سفر ملګری،یعنے دَ مکدونیه اوسیدُونکی ګایوس اَؤ
اریسترخوس ونیول اَؤ دَ تماشے ځائے ته راغونډ شول. ۳۰ پولوس هغه ګڼے ته تلل غوښتل خو نورو
عیسایانو پرے نهٔ ښودو. ۳۱ دَ څنے دَ صوبے مشرانو چه دَ پولوس دوستان وُو،جواب ورولیږلو چه"دَ
تماشے ځائے ته لاړ نهٔ شے." ۳۲ په دے دوران کښے غونډه ګډه وډه شوه اَؤ څنو څهٔ چغے وهلے اَؤ
څنو څهٔ،ځکه چه په هغوئ کښے ډیر په دے خبر هم نهٔ وُو چه دَ څهٔ مقصد دَ پاره دلته راجمع شوی
دی. ۳۳ خو په غونډه کښے دَ څنو کسانو دا خیال وُو چه سکندر قصور وار دے چه یهُودیانو مخکښے
قطار ته دیکه کړے وُو. هغهٔ خلقو ته دَ خاموشئ اِشاره وکړه اَؤ ګڼے ته ئے دَ جواب ورکولو کوشش
وکړو. ۳٤ خو چه هغوئ وپیژندو چه دا خو یهُودی دے نو هغوئ ټولو یوه چغه وویسته چه دَ "اِفِسیانو
ارتِمیسه لویه ده!" تر دوؤ ګینټو پورے هغوئ دا چغے وهلے.

۳۵ خو دَ ښار سیکتر ګڼه چپ کړه. هغهٔ ووئیل چه"اَئے دَ اِفِسوس خلقو! هر چا ته معلُومه ده چه زمُونږ دَ
اِفِسوس ښار دَ لوے ارتِمیسے مندر اَؤ دَ هغے پاک کاڼے چه له آسمان نه راپریوتو،منجوره دے. ۳٦
چونکه په دے هیڅ مُخالفت نِشته،نو تاسو له په کار دی چه خاموشه شئ اَؤ په تادئ کښے څهٔ قدم
اُوچت نهٔ کړئ. ۳۷ دا کسان چه تاسو دلته راوستی دی،نهٔ خو دَ مندر غلهٔ دی اَؤ نهٔ ئے زمُونږ دیوی ته
کُفر غرولے دے. ۳۸ ځکه که چرے دیمیتریوس اَؤ دَ هغهٔ کسب ګر دَ چا خلاف مقدمه لری نو دَ
عدالت ورځے شته اَؤ مُنصفان هم،نو دواړه ډلے دِ په یو بل شکایت وکړی. ۳۹ خو که ستاسو څهٔ نور
سوال وی نو دَ هغهٔ فیصله به په قانُونی مجلس کښے وشی. ٤۰ مُونږ دَ ننئ بلوے په حق کښے دَ شکایت
خطره په ځان آخستے ده ولے چه دَ دے هیڅ وجه نِشته اَؤ مُونږ دَ بلے ډلے په حقله هیڅ جواب نهٔ شُو
ورکولے." ٤۱ په دے خبرو ئے هغه ګڼه رُخصت کړه.

# اَعمال د رسُولانو باب ۲۰

## مِکدونيه اَؤ يُونان ته دَ پولوس سفر

۱ هر کله چه تکليف ختم شو نو پولوس په مُريدانو پسے خبر واستولو اَؤ دَ تسلئ دَ لاسے نه پس ئے بيا
رُخصت واخستو اَؤ مکدونيه ته لاړو. ۲ هغۀ دَ وطن په هغه علاقو کښے سفر وکړو اَؤ خلقو له به ئے
تسلی ورکوله اَؤ دغه شان هغه يُونان ته ورسيدلو، ۳ اَؤ هغۀ درے مياشتے هلته تيرے کړے. اَؤ شام ته دَ
اوبو په جهاز کښے تلو خو چه يهُوديانو دَ هغۀ په خلاف يو سازش کړے وُو نو هغۀ دا فيصله وکړه چه دَ
مِکدونيه په لارے بيرته ستُون شی ۴ اَؤ دَ پرحوس زوئے سوپترس له بيريه نه،اريسترخوس اَؤ سکندُسله
تِسالونيکيه نه،ګايوس له دِربے نه اَؤ هم تيموتيوس،اَؤ تخيکوس اَؤ تروفيموس له ايشيا نه دَ هغۀ ملګری وُو.
۵ هغوئ مخکښے لاړل اَؤ په تروآس کښے ئے زمُونږ اِنتظار کاوو. ۶ بيا چه دَ پتيرے ډوډئ دَ اختر ورځے
تيرے شوے نو مُونږ دَ فيليپی نه دَ اوبو په جهاز کښے روان شوُو اَؤ په پنځو ورځو کښے هغوئ ته په
تروآس کښے ورسيدلُو اَؤ هلته مو يوه هفته تيره کړه.

## په تروآس کښے دَ پولوس آخری ملاقات

۷ دَ اِتوار په ماښام مُونږ دَ ډوډئ ماتولو دَ پاره راغونډ شوی وُو اَؤ پولوس چه په بله ورځ رُخصتيدُونکے وُو
،هغوئ ته ئے خطاب وکړو اَؤ تر نيمے شپے پورے ئے خبرے کولے. ۸ اَؤ پاس په بالا خانه کښے چرته
چه مُونږ راجمع وُو ډير مشعلُونه بل وُو. ۹ اَؤ يوتخوس نومے يو زلمے وُو چه دَ کړکئ په چوکاټ ناست
وُو. دَ پولوس دَ خبرو په دوران کښے ډير خوب وزنګولو اَؤ آخر چه خوب پرے غالب شو نو دَ دريم چت
نه ښکته مزکے ته پريوتو اَؤ چه هغوئ را اُوچت کړو نو مړ شوے وُو. ۱۰ پولوس ښکته ور کُوز شو اَؤ په
خپله په هغۀ ورپريوتو اَؤ بيا ئے هغه په غيږ کښے راونيولو اَؤ هغوئ ته ئے ووئيل،"مۀ ويريږئ،په دَۀ کښے
خو لا ساه شته!" ۱۱ هغه بيا بالاخانے ته وختو،ډوډئ ئے ماته کړه اَؤ وئے خوړه اَؤ دَ هغوئ سره ئے تر
سحره پورے خبرے کولے اَؤ بيا هغه روان شو. ۱۲ اَؤ هغوئ هغه زلمے ژوندے بوتلو اَؤ ښۀ په آرام وُو.

## دَ پولوس دَ تروآس نه ميليتوس پورے سفر

۱۳ نو مُونږ وړاندے دَ اوبو په جهاز کښے سوارۀ شوُو اَؤ اَسوس ته روان شوُو په کُوم ځائے کښے چه
پولوس هم دغه جهاز ته راختُونکے وُو. هغۀ دا بندوبست کړے وُو ځکه چه هغه په خپله دَ وچے په لاره
تلو. ۱٤ هر کله چه هغه مُونږ سره په اَسوس کښے يو ځائے شو نو مُونږ په جهاز کښے سور کړو اَؤ په
اولنئ ورځ ميتيلينے ته لاړلُو. ۱٥ اَؤ په دويمه ورځ مُونږ دَ هغه ځايه روان شوُو اَؤ دَ خيوس بلے غاړے ته
ورسيدلُو. په دريمه ورځ مُونږ ساموس ته لاړلُو اَؤ په څلورمه ورځ ميليتوس ته ورسيدلُو. ۱٦ ځکه چه پولوس
دا فيصله کړے وه چه له اِفِسوس نه تير شی چه دغه شان دَ ايشيا په علاقه کښے دَ وخت ضائع کولو نه
بچ شی،دَ هغۀ بيتُ المُقدس ته دَ رسيدو ځکه تلوار وُو چه دَ پنتکُست ورځے ته هلته ورسی.

## دَ پولوس دَ اِفِسوس مشرانو سره ملاقات

۱۷ نو پولوس دَ ميليتوس نه اِفِسوس ته خبر واستولو اَؤ دَ جماعت مشران ئے راوبلل. ۱۸ اَؤ کله چه هغوئ
ورته راورسيدل نو داسے خبرے ئے ورته وکړلے،"تاسو ته پته ده چه ما تاسو سره څنګه ژوند تير کړو،دَ

هغه ورځې نه چا ما اول دَ ایشیا په مزکه قدم کیښودو اَوْ څومره مُوده چه زَهٔ تاسو سره وم. ۱۹ یعنې ما
پُوره په عاجزئ اَوْ ژړا سره دَ مالِک غُلامی کوله سره دَ یهُودیانو دَ سازشُونو اَوْ آزمیښتُونو چه په ما راغلل.
۲۰ اَوْ تاسو ته دا معلُومه ده چه ما یو داسې څیز هم چه ستاسو دَ ښیګړې دَ پاره وُو،پټ ونهٔ ساتلو. ما
تاسو ته کلام رسولې دے اَوْ په ښکاره اَوْ په کور کور کښې مې درله تعلیم در کړے دے. ۲۱ اَوْ یهُودیانو
اَوْ یُونانیانو ته مې دَ خُدائې په وړاندې دَ توبې ویستلو اَوْ په مالِک عیسىٰ مسیح دَ ایمان راوړلو شاهدی
کړې ده. ۲۲ اَوْ اوس لکه چه تاسو وینئ،زَهٔ دَ رُوح دَ لاسه مجبُور بیتُ المُقدس ته روان یم،اَوْ هلته چه
څهٔ ما تا پیښیږی دَ هغې نه هیڅ محبُور نهٔ یم. ۲۳ بې له دے نه چه په هر ښار کښې ما ته رُوحُ القُدس
دا خبر راکوی چه قید اَوْ تکلیفُونه زما په اِنتظار کښې دی. ۲۴ خپله ځانی خو زَهٔ دَ ژوند هیڅ پرواه دار نهٔ
یم،خو زَهٔ دا غواړم چه منډه تر سره کړم اَوْ هغه کار پُوره کړم چه مالِک عیسىٰ ما ته سپارلې دے چه دَ
خُدائې دَ فضل دَ زیری په باب کښې شهادت وکړم.

۲۵ یوه بله خبره واورئ،ما چه ستاسو ټولو په مینځ کښې دَ خُدائې دَ بادشاهت وعظ کاوو،خو اوس ما ته
دا ښکاری چه په تاسو کښې به یو کس هم زما مخ بیا ونهٔ وینی. ۲۶ نو زَهٔ اوس په دے ځائې دا اِعلان
کوم چه زما په غاړه دَ هیچا دَ خُون پور نِشته. ۲۷ ځکه چه ما هیڅ درنه پټ ساتلی نهٔ دی اَوْ ما تاسو ته
دَ خُدائې ټول امرُونه څرګند کړی دی. ۲۸ دَ خپل ځان اَوْ دَ هغه ټول کنډک خیال ساتئ کُوم چه رُوحُ
القُدس ستاسو په حواله کړے دے اَوْ تاسو دَ مالِک دَ هغې جماعت شپُونکی یئ کُوم چه هغهٔ دَ خپلې
وینې په قیمت آخستې دے. ۲۹ ما ته معلُومه ده چه هر کله چه زَهٔ تاسو نه لاړ شم نو داړُونکی شرمخان
به په تاسو کښې راشی اَوْ کنډک به په امان پرے نهٔ ږدی. ۳۰ اَوْ هم په تاسو کښې به ځنی خلق داسې
راپورته شی چه رښتیا به ورانوی اَوْ مُریدان به دے ته راپاروی چه دَ حق نه ئې واړوی اَوْ دَ دوئ ملګری
شی. ۳۱ نو خبردار اوسئ! اَوْ یاد لرئ چه تر دریو کالو پورے مې څنګه شپه اَوْ ورځ په تاسو کښې هر یو
ته په ژړا تعلیم درکړو.

۳۲ اَوْ اوس زَهٔ تاسو دَ مالِک اَوْ دَ هغهٔ دَ فضل کلام ته سپارم چه ستاسو دَ مضبُوطولو اَوْ په هغه ټولو کښې
چه ځانُونه ئې ورته سپارلی دی خپل میراث درکولې شی. ۳۳ ما دَ هیچا سپین زر اَوْ سرهٔ زر یا جامو ته دَ
ځان دَ پاره نهٔ دی کتلی. ۳۴ اَوْ تاسو ټول خبر یئ چه ما په خپلو دے لاسُونو خپل اَوْ دَ خپلو ملګرو
حاجتُونه پُوره کړی دی. ۳۵ ما تاسو ته ښکاره کړه چه په مُشقت سره دَ کمزورو مدد په دے شان وکړئ
اَوْ دَ مالِک عیسىٰ خبرې درته یاد ساتل په کار دی چه په خپله ئې وئیلی دی چه دَ آخستلو نه ورکړه
غوره ده.“

۳۶ کله چه پولوس خبرې ختمې کړې نو هغه دَ هغوئ سره په سجده پریوتو اَوْ دُعا ئې وغوښتله. ۳۷ بیا
هغوئ ټولو وژړل اَوْ پولوس سره تر غاړه وتل اَوْ کښبل ئې کړو. ۳۸ هغوئ په دے زیات خفه وُو چه هغهٔ
وئیلی چه دوئ به بیا دَ هغهٔ مخ کله هم ونهٔ وینی. اَوْ هغوئ دغه شان تر جهاز پورے ورسره جلب وکړو.

## اَعمال د رسُولانو باب ۲۱

## دَ پولوس بيتُ المُقدس ته تلل

١ کله چه مُونږ دَ هغوئ نه رُخصت شولُو اَؤ جهاز روان شو،نو مُونږ نيغ قوس ته ورسيدلُو اَؤ په بله ورځ
رودوس ته اَؤ دَ هغه ځايه پاترے ته. ٢ هلته يو جهاز ولاړ وُو چه فينکيے ته تيار وُو. مُونږ وروختلُو اَؤ په
هغهٔ کښے مو سفر وکړو. ٣ مُونږ په لاره کښے قبرص ښار وليدلو اَؤ ترے نه په ګس لاس تير شوُو اَؤ شام
ته مو سفر جاری وساتلو اَؤ په صور کښے کُوز شوُو ځکه چه هلته ئے دَ جهاز نه څهٔ سامان کُوزولو. ٤
زمُونږ مُريدان مو ومُوندل اَؤ يوه هفته هلته ايسار شوُو. اَؤ هغوئ دَ رُوحُ القُدس په هدايت پولوس ته ووئيل
چه”ګوره! بيتُ المُقدس ته مهٔ ځه!“ ٥ خو هر کله چه هفته پُوره شوه نو مُونږ له هغه ځائے نه روان شوُو.
اَؤ هغوئ ټول اَؤ دَ هغوئ ښځے اَؤ بچی زمُونږ په جلب کښے دَ ښار نه بهر راووتل اَؤ هلته مُونږ دَ سمندر
په غاړه په سجده شوُو اَؤ دُعا مو وغوښته. ٦ بيا مو يو بل ته په مخه ښه ووئيل اَؤ بيا مُونږ جهاز ته وختلُو
اَؤ هغوئ کور ته واپس لاړل.

٧ مُونږ دَ صور نه پتوليمَس ته ورسيدلُو اَؤ هلته دَ اوبو جهاز سفر ختم کړو. اَؤ هلته مو دينی ورُوڼو ته سلام
ووئيلو اَؤ دَ هغوئ سره مو يوه ورځ تيره کړه، ٨ اَؤ په بله ورځ روان شوُو اَؤ قيصريه ته راغلُو. اَؤ مُونږ دَ
فيليپوس کور ته لاړلُو چه هغه يو زيرے آوَرُوونکے وُو اَؤ په هغه اوو کسانو کښے وو هغهٔ سره پاتے شوُو. ٩
دَ هغهٔ څلور پيغلے لُوڼه وے چه نبوت به ئے کاوو. ١٠ مُونږ چه هلته يو څو ورځے ايسار وُو نو دَ يهُوديه
نه اګابوس نومے يو نبی راغے. ١١ هغه مُونږ ته راغے،دَ پولوس ملاتړ ئے واخيستو اَؤ په هغهٔ ئے خپل لاس
پښے وتړل اَؤ وئے وئيل چه”دا دَ رُوحُ القُدس کلام دے چه په بيتُ المُقدس کښے به يهُوديان دَ دے
ملاتړ خاوند هم دغه شان وتړی اَؤ هغه به غير يهُوديانو ته په حواله کړی.“

١٢ مُونږ چه دا خبرے واوريدلے نو مُونږ اَؤ نورو مقامی خلقو پولوس ته نصيحت وکړو چه بيتُ المُقدس ته
دَ تلو خيال پريږدئ. ١٣ خو پولوس جواب ورکړو،”دا دومره اوښکے ولے؟ تاسو زما دَ زړهٔ دَ ماتولو کوشِش
ولے کوئ؟ تر څو چه زما خبره ده زهٔ نهٔ يواځے تړلو ته،بلکه دے ته هم تيار يم چه دَ مالِک عيسیٰ په نُوم
په بيتُ المُقدس کښے مړ شم.“

١٤ بيا چه هغه قائل نهٔ شو نو مُونږ دا خبره پريښوده اَؤ ومو وئيل چه”دَ مالِک مرضی دِ وشی.“

١٥ دَ دے نه پس مُونږ خپل سامان وتړلو اَؤ دَ بيتُ المُقدس په لار روان شوُو. ١٦ دَ قيصريه نه ځنے مُريدان
مُونږ سره روان شول اَؤ مناسون نومے سړے چه دَ قبرص اوسيدُونکے وُو اَؤ دَ پخوا دَ مُريدانو نه وُو،هغهٔ ته
ئے راوستلُو دَ چا په کور کښے چه مُونږ ميلمانهٔ کيدُونکی وُو.

## دَ پولوس يعقُوب سره ملاقات

١٧ دغه شان مُونږ بيتُ المُقدس ته راورسيدلُو اَؤ هلته راته دينی ورُوڼو په خوشحالئ سره هر کلے ووے. ١٨
په بله ورځ پولوس يعقُوب ته ورغے اَؤ مُونږ هم ورسره وُو اَؤ مشران حاضر وُو. ١٩ پولوس ورته سلام وکړو
اَؤ بيا ئے هغه هر څهٔ په تفصيل سره ورته بيان کړل چه دَ خُدائے په فضل سره په غير يهُود قومُونو کښے دَ
دَهٔ دَ خدمت په وسيله شوی وُو. ٢٠ کله چه هغوئ دا واوريدل نو هغوئ دَ خُدائے ثنا ووئيله. بيا هغوئ

پولوس ته ووئیل،"گوره وروره! په یهُودیانو کښے خومره په زرګُونو کسانو ایمان راوړے دے اَؤ هغوئ ټول
دَ شریعت په حقله ښه سرګرم دی. ۲۱ اوس هغوئ ستا په باب کښے خبر شوی دی چه تهٔ هغه ټولو
یهُودیانو ته چه په غیرو قومُونو کښے اوسی،دا تعلیم ورکوے چه دَ مُوسیٰ نه راواوړئ،یعنے هغو ته وائے
چه خپل بچی مه سُنتوئ اَؤ زمُونږ په لار رائحئ. ۲۲ هغوئ به یقیناً ستا دَ راتلو نه خبر شی نو اوس څهٔ
وکړُو؟ ۲۳ نو تهٔ هغه څهٔ کوه چه مُونږ درته وایُو. نو دلته مُونږ سره څلور سړی دی چه نذر ئے منلے دے.
۲٤ تهٔ دوئ دَ ځان سره کړه اَؤ ورسره خپل ځان پاک کړه،دَ هغوئ دَ سرکلی پیسے تهٔ ورکړه،بیا به هغوئ
خپل سرُونه وخرئ.نو بیا به هر څوک پوهه شی چه ستا په باب کښے وئیلے شوے قِصے رښتیا نهٔ دی
،بلکه تهٔ یو سرګرم یهُودی یئے اَؤ په شریعت په خپله هم عمل کوے. ۲٥ اَؤ تر څو چه دَ نوی ایمان
راوړُونکو تعلق دے نو مُونږ هغوئ ته دا هدایت ورکوُو چه دوئ دِ دَ هغے غوښے نه ځان وساتی کُومه چه
دَ بُتانو په نُوم قُربانی شوے وی،اَؤ دَ وینے نه،دَ هغے څیز دَ غوښے نه چه خپه کړے شوے وی اَؤ دَ حرام
کارئ نه دِ ځان وساتی."

۲٦ نو پولوس په بله ورځ هغه څلور سړی دَ ځان سره کړل اَؤ دَ هغوئ سره دَ ځان پاکولو دَ دستور نه پس
هغه دَ خُدائے کور ته لاړو چه دَ هغه تاریخ اِظهار وکړی په کُوم چه دَ پاکیدو وخت پُوره کیږی اَؤ په
هغوئ کښے دَ هر یو دَ پاره به منبنته ورکړے شی.

## دَ خُدائے په کور کښے دَ پولوس ګرفتاری

۲۷ خو دَ اُوو ورځو دَ پُوره کیدو نه لږ وړاندے دَ ایشیا دَ صوبے یهُودیانو پولوس دَ خُدائے په کور کښے
ولیدلو. هغوئ ټوله ګڼه ولمسوله اَؤ هغه ئے ونیولو، ۲۸ اَؤ چغے ئے کړلے،"اَئے اِسرائیلیانو! رامدد شئ!
رامدد شئ! دا هغه سړے دے چه په ټوله دُنیا کښے خپله عقیده خوروی اَؤ زمُونږ په خلقو اَؤ په شریعت
اَؤ زمُونږ دَ خُدائے په کور ګواښونه کوی.اَؤ دَ ټولو نه لویه خبره په کښے دا ده چه هغهٔ یُونانیان هم دَ
خُدائے کور ته راوستی دی اَؤ دا پاک ځائے ئے پرے پلیت کړے دے." ۲۹ ځکه چه هغوئ په ښار
کښے اول دَ دهٔ سره تروفیموس دَ اِفِسوس لیدلے وُو اَؤ دا ئے ګمان وُو چه ګنی دا ئے دَ ځان سره دَ
خُدائے کور ته ننه ایستے دے.

۳۰ ټول ښار ناقلاره شو اَؤ دَ هر طرف نه خلق په دَوْ راغلل. هغوئ پولوس ونیولو اَؤ دَ خُدائے دَ کور نه ئے
بهر راکښو اَؤ سمدستی دَ خُدائے دَ کور ټولے دروازے بندے کړے شولے. ۳۱ هغوئ لا دَ هغهٔ دَ مرګ
کوشِش کولو چه دَ پلټنے کمان افسر ته خبر ورسیدو چه په ټول بیتُ المُقدس کښے غوغا ده. ۳۲ هغهٔ
سمدستی سپاهیان اَؤ دَ هغوئ صوبه داران دَ ځان سره کړل اَؤ په منډه ئے دَ اَړی ګړی ځائے ته ځان
ورسولو. اَؤ څهٔ وخت چه هغوئ کمان افسر اَؤ سپاهیان ولیدل نو دَ پولوس دَ وهلو نه ئے لاس راکښو. ۳۳
کمان افسر وړاندے ورغے،هغه ئے ګرفتار کړو اَؤ حُکم ئے ورکړو چه"دوه زولنئ ورته واچوئ." بیا هغهٔ
تپوس وکړو چه"دا سړے څوک دے اَؤ کړی ئے څهٔ دی؟" ۳٤ په ګڼه کښے چا یوه چغه وهله اَؤ چا
بله. کله چه هغهٔ دَ غوغا په وجه اصل حقیقت معلُوم نهٔ کړے شو نو حُکم ئے ورکړو چه"دے قلعه ته دَ
ننه کړئ." ۳٥ کله چه پولوس دَ قلعه پوړو ته ورسیدو نو دَ خلقو دَ ببر کیدو له کبله هغه سپاهیانو اُوچت
یوړو، ۳٦ ځکه چه ټول خلق ورپسے وُو اَؤ دغه چغے ئے وهلے چه"مړ ئے کړئ!"

## دَ پولوس دَ خپل ځان په حقله صفائی پیش کول

۳۷ کُوم وخت چه ئې پولوس قلعه ته بوتلو نو هغهٔ کمان افسر ته ووئیل چه”زَهٔ تا ته یوه خبره کولے شم؟“
کمان افسر ورته ووئیل چه”ښه،نو تاله یُونانی هم درځی؟ ۳۸ مطلب دا چه تهٔ بیا هغه مِصری نهٔ یئې چا
چه څهٔ مُوده مخکښې بغاوت کړے وُو اَوْ څلور زره فسادیان ئې دَ ځان سره بیابان ته بوتلی وُو؟“

۳۹ پولوس جواب ورکړو چه”زَهٔ یهُودی یم اَوْ دَ کلکیه دَ ترسوس اوسیدُونکے یم،څهٔ دَ معمولی ښار
اوسیدُونکے نهٔ یم. زَهٔ ستا نه اِجازت غواړم چه دے خلقو ته څهٔ خبرے وکړم.“

۴۰ اَوْ چه اِجازت ورله ورکړے شو نو پولوس په پوړو ودریدو اَوْ خلقو ته ئې دَ چپ کیدو اِشاره وکړه. اَوْ
کله چه خلق غلی شول نو هغهٔ ورته په عبرانئ ژبه کښې تقریر وکړو اَوْ وئې وئیل چه:

# اَعمال د رسُولانو باب ۲۲

۱ ”اَئے ورُوڼو اَوْ مشرانو! واؤرئ چه زَهٔ درته خپله صفائی بیان کړم!“ ۲ هر کله چه هغوئ په عبرانئ ژبه
کښې په خبرو واؤریدلو نو هغوئ ورته ښه په خاموشئ غوږ ونیولو. هغهٔ ووئیل :

۳ ”زَهٔ سُوچه یهُودی یم،دکلکیه په ښار ترسوس کښې پیدا شولم،زَهٔ په دغه ښار کښې وپائیدلم اَوْ دَ
گملی ایل په شاگردئ کښې مې دَ خپلو پلارُونو نیکُونو دَ شریعت ټول تعلیم تر سره کړو،اَوْ زَهٔ همیشه دَ
خُدائے په خدمت کښې سرگرم وم لکه څنګه چه نن تاسو ټول یئ. ۴ اَوْ دغه شان ما دَ دے لارے خلق
تر مرګه پورے ربړول اَوْ گرفتارول اَوْ په ځولنو کښې به مې قیدخانو ته وراچول. ۵ اَوْ په دے باب کښې
زَهٔ مشر کاهن اَوْ ټول اولسی مشران گواهان لرم. هغوئ ما ته په دمشق کښې دَ یهُودی ورُوڼو دَ پاره
خطُونه راکړی وُو اَوْ زَهٔ دمشق ته په دے سفر وتلے وم چه هغه خلق په زنځیرُونو کښې تړلی دَ سزا دَ پاره
بیتُ المُقدس ته راولم.

## دَ پولوس په عیسیٰ دَ ایمان راوړلو بیان

۶ اَوْ داسے وشول چه زَهٔ دَ دمشق په لاره تلم اَوْ دَ غرمے وخت وُو چه ناڅاپی له آسمان نه یوه لویه شُغله
له ما نه گیر چاپیره وځلیده ۷ اَوْ زَهٔ په مزکه راپریوتلم. بیا ما یو آواز واؤریدو چه ما ته ئې وئیل چه ساؤله!
ساؤله! تهٔ ما ولے عذابوے؟ ۸ ما جواب ورکړو چه مالِکه! دا راته ووایه چه تهٔ ئې څوک؟ هغهٔ جواب
راکړو چه زَهٔ عیسیٰ ناصری یم چه تهٔ ئې عذابوے. ۹ زما ملګرو هغه رڼا خو ولیده ولے آواز ئې وانهٔ وریدو
چه ما سره ئې خبرے کولے. ۱۰ نو ما ورته ووئیل چه مالِکه! زَهٔ څهٔ وکړم؟ اَوْ مالِک جواب راکړو چه
پاڅه! اَوْ دمشق ته خپل سفر جاری وساته اَوْ هلته به تا ته ټول کارُونه ښکاره کړے شی،کُوم چه تا دَ پاره
مُقرر شوی دی. ۱۱ هر کله چه زَهٔ دَ رڼا شُغلے ړُوند کړلم نو زما ملګرو زَهٔ دَ لاسه ونیولم اَوْ راروان ئې
کړم اَوْ دغه شان دمشق ته راورسیدلم.

۱۲ هلته حننیاه نومے یو سړے وُو چه په شریعت ټینګ ولاړ وُو اَوْ دَ هغه ځائے په ټولو یهُودیانو کښې ښهٔ

نیک نام وُو. ۱۳ هغه راغے،ما سره ودریدلو اَؤ راته ئے ووئیل چه ساؤله! زما وروره! سترگے وغړوه! اَؤ زهٔ
سمدستی بینا شولم اَؤ هغه مے ولیدلو. ۱۴ هغهٔ بیا ووئیل چه زمُونږ دَ پلارُونو خُدائے تهٔ په دے مُقرر کړے
یئے چه دَ هغهٔ مرضی وپیژنے اَؤ هغه صادِق خادم ووینے اَؤ دَ هغهٔ آواز واؤرے. ۱۵ ځکه چه په دُنیا کښے
به تهٔ دَ هغهٔ شاهدی کوے چه څهٔ دے لیدلی اَؤ آؤریدلی دی. ۱۶ نو اوس تهٔ ډیل ولے کوے؟سمدستی
بپتسمه واخله اَؤ دَ هغهٔ دَ نُوم په یادولو له گُناهُونو نه پاک شه.

## دَ پولوس غیر قومُونو ته استول

۱۷ کله چه زهٔ بیتُ المُقدس ته واپس راغلم اَؤ ما دَ خُدائے په کور کښے دُعا کوله چه زهٔ بے خوده
شولم. ۱۸ اَؤ مالِک مے ولیدو چه ما ته وائی چه تادی کوه اَؤ سمدستی له بیتُ المُقدس نه وزه،ځکه چه
دوئ به زما په حق کښے شاهدی قبُوله نهٔ کړی. ۱۹ ما ورته ووئیل چه مالِکه! هغوئ ته دا معلُومه ده چه
ما به هغه خلق قیدول اَؤ په هره عبادت خانے کښے به مے په کروړو وهل دَ چا به چه په تا ایمان وُو. ۲۰
اَؤ کله چه ستا په نُوم دَ شهید ستِفانو وینه توئے شوله نو زهٔ هلته موجُود وم اَؤ پرے راضی وم اَؤ دَ هغهٔ دَ
قاتلانو دَ جامو څوکئ مے کوله. ۲۱ خو هغهٔ ما ته ووئیل،لاړ شه،ځکه چه زهٔ تا لرے لرے غیر یهُودی
قومُونو ته استوم.“

## پولوس اَؤ رُومی کمان افسر

۲۲ تر دے خو هغوئ دَ پولوس واؤریدل،خو بیا هغوئ چغے شروع کړلے،”برباد دِ شی داسے سړے! دَ دَهٔ
خو مرگ روا دے!“ ۲۳ اَؤ چه هغوئ لا چغے ویستلے،خپلے چُوغے ئے خوځولے اَؤ دُوړه ئے الوزوله، ۲۴
نو کمان افسر حُکم وکړو چه”پولوس قلعه ته بوزئ اَؤ هدایت ئے وکړو چه په کروړو وهلو ئے بیان واخلئ
اَؤ دا ترے معلومه کړئ چه دَ هغهٔ خلاف دا دومره هنگامه ولے پورته شوی ده.“ ۲۵ خو کله چه هغوئ
پولوس په کروړو دَ وهلو دَ پاره وتړلو نو هغهٔ هلته ولاړ صوبه دار ته ووئیل چه”آیا تهٔ داسے سړے په کروړو
وهلے شے څوک چه رُومی وی؟ اَؤ بله دا چه په هغهٔ باندے هیڅ جُرم هم نهٔ وی ثابت شوے؟“

۲۶ کله چه صوبه دار دا واؤریدل نو هغه لاړو اَؤ کمان افسر ته ئے دا خبره وکړه. هغهٔ ووئیل چه”تهٔ څهٔ
کول غواړے؟ دا سړے خو رُومی دے!“

۲۷ کمان افسر پولوس ته راغے اَؤ تپوس ئے ترے وکړو،”ووایه چه تهٔ رښتیا رُومی یئے څهٔ؟“ هغهٔ ووئیل
چه”هو!“

۲۸ کمان افسر ورته ووئیل چه”ما خو په لوئے قیمت دا حق آخستے دے.“ پولوس ورته ووئیل چه”زما خو
دا پیدائشی حق دے.“

۲۹ نو هغه څوک چه په تفشیش مُقرر وُو،هغه ترے سمدستی لرے شول اَؤ کمان افسر په خپله هم چه دا
واؤریدل چه هغه رُومی دے اَؤ ما تړلے دے نو هغه ویریدلو.

## پولوس دَ جرگے په وړاندے

٣٠ په بله ورځ دَ دے معلُومولو دَ پاره چه يهُوديان په پولوس څۀ اِلزام لګوى، کمان افسر دَئے آزاد کړو اَؤ
مشرانو کاهنانو اَؤ ټولے اولسى جرګے ته ئے حُکم ورکړو چه”راټول شئ،“ بيا هغۀ پولوس ښکته بوتلو اَؤ
دَ هغوئ په وړاندے ئے ودرولو.

## اَعمال د رسُولانو باب ۲۳

۱ پولوس جرګے ته څير څير وکتل اَؤ وئے وئيل چه”اَئے زما ورُونړو! زَۀ په ټول ژوندُون کښے تر ننئ ورځے
پورے دَ خُدائے په حضُور کښے بيخى صفا ضمير لرم.“ ۲ خو مشر کاهن حننياه دَ دے خبرے په آؤريدو
خپل خدمتګار ته حُکم ورکړو چه”په خُلۀ ئے په څپيړه ووهه.“ ۳ نو پولوس هغۀ ته ووئيل چه”خُدائے به
تا ووهى،اَئے چُونه کړے ديواله! تۀ ناست ئے اَؤ زما په باب کښے دَ شريعت فيصلے کوے،اَؤ بيا دَ
شريعت برخلاف زما دَ وهلو حُکم ورکوے څۀ؟“ ۴ خدمت ګار ووئيل چه”تۀ دَ خُدائے دَ مشر کاهن بے
عزتى کوے څۀ؟“ ۵ بيا پولوس ووئيل چه”زما ورُونړو! ما ته دا معلُومه نۀ وه چه هغه مشر کاهن دے. ما
ته معلُومه ده چه صحيفے وائى: «تاسو دَ خپل قوم حاکِم ته بدرد مۀ وايئ.»“

۶ بيا چه پولوس ته ښه معلُومه شوه چه په دوئ کښے يوه ډله دَ صدُوقيانو ده اَؤ بله دَ فريسيانو نو هغۀ په
جرګه کښے چغے کړلے چه”اَئے زما ورُونړو! زَۀ يو فريسى يم اَؤ دَ فريسى اَؤلاد يم. زما اُميد دے چه مړى
به بيا راژوندى کيږى،نو ځکه په ما مقدمه ده اَؤ په دے باب کښے زما فيصله کيږى.“

۷ په دے آؤريدو دَ فريسيانو اَؤ صدُوقيانو په مينځ کښے بلوه شوه اَؤ ډله دوه ځايه شوله. ۸ ځکه چه
صدُوقيان دَ قيامت اَؤ فرښتو اَؤ دَ رُوح نه مُنکر دى،خو فريسيان ئے منى. ۹ اَؤ دَ فريسيانو دَ فرقے ځنے دَ
شرعے عالمان راپاڅيدل اَؤ په ډاګه ئے دَ هغۀ په حق کښے دا اِعلان وکړو چه”مُونږ په دے سړى کښے
هيڅ غلطى نۀ وينو. شايد چه يوے فرښتے يا رُوح ورسره خبرے کړے وى!“

۱۰ اَؤ چه بلوه زياتيدله نو کمان افسر ويرے واخستو چه هسے نه چه پولوس ټوټے کړى،نو هغۀ عسکرو ته
حُکم ورکړو چه”لاندے لاړ شئ اَؤ هغه دَ ګڼے نه راکاږئ اَؤ قلعه ته ئے بوزئ.“

۱۱ هغه شپه مالِک پولوس ته راغے اَؤ ورته ئے ووئيل چه”زړۀ ټينګ کړه! لکه چه تا په بيتُ المُقدس
کښے زما په حق کښے شاهدى وکړله،هم دغه شان ئے په رُوم کښے هم وکړه.“

## دَ پولوس خلاف دَ قتل سازش

۱۲ اَؤ چه ورځ شوه نو يهُوديان سره راغونډ شول اَؤ دا قسم ئے وخوړلو چه تر څو چه پولوس وژلے شوے
نۀ وى،تر هغے به نۀ خو څۀ خورُو اَؤ نۀ څۀ څښُو! ۱۳ دا سازش دَ څلويښتو کسانو نه زياتو وکړو. ۱٤
هغوئ مشرانو کاهنانو اَؤ دَ جرګے مشرانو له راغلل اَؤ وئے وئيل چه”مُونږ په سوګند ځانُونه دے ته تړلى
دى چه تر هغے به نۀ څۀ خورُو اَؤ نۀ څۀ څښُو تر څو چه پولوس مړ نۀ کړُو. ۱۵ اوس دا ستاسو دَ جرګے
کار دے چه کمان افسر ته درخواست وکړئ چه هغه تاسو ته لاندے راولى اَؤ دا بهانه وکړئ چه دَ هغۀ
دَ مُقدمے پُوره پُوره تحقيقات کوُونکے دے. مُونږ دا بندوبست کړے دے چه دَ رارسيدو نه وړاندے به

هغه قتل کړُو."

۱٦ خو دَ پولوس خوريئ دَ هغوئ دَ سازش خبره واؤريده. هغه لاړو اَؤ قلعه ته ننوتو اَؤ پولوس ئې په دې
خبره خبر کړو. ۱۷ بيا پولوس يو صوبه دار راوغوښتو اَؤ وئې وئيل چه"دا ځوان کمان افسر ته بوزه،دَئې
ورته څۀ خبره کول غواړى." ۱۸ صوبه دار هغه دَ ځان سره کړو اَؤ کمان افسر ته ئې بوتلو. هغۀ ووئيل
چه"قيدى پولوس زَۀ راوبللم اَؤ راته ئې ووئيل چه دا ځوان تا ته راولم چه دَئې تا ته څۀ خبره کول
غواړى."

۱۹ کمان افسر هغه دَ لاسه ونيولو،يو طرف ته ئې راکښو اَؤ تپوس ئې ترې وکړو چه"تۀ څۀ خبره کول
غواړې؟"

۲۰ هغۀ ووئيل چه"يهُوديانو په خپل مينځ کښې يو سازش جوړ کړې دې اَؤ تا ته به يو عرض کوى چه
صبا تۀ پولوس دَ جرګې په وړاندې کړې اَؤ په دې بهانه چه دَ هغۀ دَ مُقدمې پُوره تحقيقات کوُو.
۲۱ نو تۀ دَ هغوئ مه آؤره ځکه چه دَ څلويښتو کسانو نه زيات يو مضبُوط ټولى دَ هغۀ خلاف سازش
کړې دې،اَؤ هغوئ دا سوګند کړې دې چه تر څو ئې هغه مړ کړې نۀ وى،تر هغې به نۀ څۀ خورى اَؤ
نۀ څۀ څښى. اوس هغوئ تيار دى خو بس ستا دَ منظُورئ اِنتظار دې."

۲۲ نو کمان افسر هغه ځوان په دې وينا رُخصت کړو چه"ګوره،په دې خبرو څوک درنه خبر نۀ شى چه
تا ما ته دا اِطلاع راکړې ده."

## دَ پولوس فِليکس حاکِم ته ليږل

۲۳ بيا کمان افسر خپل دوه صوبه داران راوغوښتل اَؤ دا حُکمونه ئې ورله ورکړل چه"دوه سوه پياده
عسکر قيصريه ته دَ تلو دَ پاره تيار کړئ اَؤ هم ورسره اوّيا سوارۀ اؤ دوه سوه نيزه بازان کړئ چه د نمر
پريواتو نه درې ګنټې پس روان شى. ۲٤ اَؤ پولوس ته هم دَ سورلئ بندوبست وکړئ چه هغه پرې سور
شى اَؤ صحيح سلامت ئې فِليکس حاکِم ته ورسوى." ۲۵ اَؤ هغۀ يو خط هم ورته داسې وليکلو چه:

۲٦ "دَ کلوديوس لُسياس نه حاکِم فِليکس بهادر ته سلام! ۲۷ دا سړې يهُوديانو ګرفتار کړې وُو چه په
دې کښې زَۀ سره دَ عسکرو ورغلم اَؤ دَئې مې ترِ خلاص کړو ځکه چه زَۀ خبر شوې وم چه هغه رُومى
سړې دې. ۲۸ لکه چه ما دا غوښتل چه دا معلُومه کړم چه هغوئ پرې څۀ شکايت کوى نو ما دَئې دَ
هغوئ جرګې ته بوتلو. ۲۹ زَۀ پوهه شوم چه په دَۀ باندې دَ دوئ دَ شريعت دَ مسئلو په حقله شکايت وُو
،خو څۀ داسې شکايت پرې نۀ وُو چه دَ قيد يا دَ مرګ سزا ورکړې شوې وې. ۳۰ خو اوس زَۀ خبر
شوې يم چه دَ دَۀ دَ مرګ کوشِش کيږى،نو زَۀ ئې تا ته سمدستى درليږم اَؤ مُدعيانو ته مې هم هدايت
کړې دې چه دَ دَۀ په خلاف خپله مُقدمه تاسو ته وړاندې کړى."

۳۱ نو دَ حُکم په مُطابق عسکرو پولوس شپه په شپه انتيپترس ته بوتلو. ۳۲ اَؤ په بله ورځ هغوئ قلعه ته
راواپس شول اَؤ سوارۀ ئې دَ هغۀ سره په باقى سفر دَ حفاظت دَ پاره پرېښودل. ۳۳ اَؤ چه سوارۀ قيصريه ته

ورسيدل نو خط اَوَ پولوس ئے ګورنر ته په حواله کړل. ۳۴ خط ئے ولوستو اَوَ دَ پولوس نه ئے تپوس وکړو
چه هغه دَ کُومے صوبے اوسيدُونکے دے. اَوَ چه په دے خبر شو چه هغه دَ کلکيه اوسيدُونکے دے، ۳۵
هغهٔ ووئيل چه”زَهٔ به ستا مُقدمه هله آؤرم چه مُدعيان راورسى.“ اَوَ بيا هغهٔ حُکم وکړو چه هغه دِ دَ
هيروديس په قلعه کښے وساتلے شى.

## اَعمال د رسُولانو باب ۲۴

## دَ پولوس خلاف مُقدمه

۱ پنځهٔ ورځے پس مشر کاهن حننياه سره دَ مشرانو اَوَ ترطولوس نومے وکيل راغے اَوَ هغوئ دَ حاکِم په
وړاندے دَ پولوس خلاف مُقدمه پيشه کړه. ۲ هر کله چه پولوس راوغوښتے شو نو ترطولوس اِستغاثه داسے
شروع کړه، وئيل ئے چه:

”صاحبه! ستا په وجه مُونږ په پُوره امن ژوند تيروو اَوَ ستا دَ خيال کولو په سبب په دے صوبه کښے دَ
ترقئ کارُونه روان دى. ۳ صاحِبه! مُونږ دا خبره په هر ځائے اَوَ هر چرته په پُوره شُکر ګُزارئ سره مُنو. ٤
زَهٔ ستاسو زيات وخت آخستل نهٔ غواړم،زَهٔ درته مِنت کوم چه زما يو څو خبرے واورئ. ٥ دا سړے زمُونږ
دَ پاره يو مُصيبت جوړ شوے دے چه په ټوله دُنيا کښے په يهُوديانو کښے فتنه خوروى. دَئے دَ ناصريانو
دَ فرقے مشر دے. ٦ دَهٔ يو ځلے دا کوشِش هم وکړو چه دَ خُدائے دَ کور بے ادبى وکړى،اَوَ بيا مُونږ
ونيوو. ۷ خو لُسياس کمان افسر په منيځ کښے راغے اَوَ دا سړے ئے په زور زمُونږ دَ لاسه وويستو. ۸ که
تهٔ په خپله دَ هغهٔ نه پوښتنه وکړے نو زمُونږ دَ اِلزامُونو تصديق به ترے وشى.“ ۹ اَوَ يهُوديانو هم ورسره
خُلهٔ يوه کړه اَوَ وئيل ئے چه”حقيقت هم دغه شان دے.“

## دَ پولوس فِليکس حاکِم په مخ کښے دِفاع کول

۱۰ بيا حاکِم پولوس ته دَ جواب ورکولو اِشاره وکړه،نو پولوس جواب ورکړو چه:

”زَهٔ دَ دے نه خبر يم چه دَ ډيرو کالو راسے تهٔ په دے صُوبه کښے اِنصاف کوے لګيا يئے،نو ځکه زَهٔ
خپل بيان پُوره په ډاډه زړهٔ درکوم. ۱۱ تهٔ دَ دے خبرے په خپله تصديق کولے شے چه قريبًا دولس ورځے
کيږى چه زَهٔ بيتُ المُقدس ته عبادت له تلے وم. ۱۲ دوئ زَهٔ دَ هيچا سره په بحث مُباحثه نهٔ يم ليدلے اَوَ
نهٔ مے چرته دَ خُدائے په کور کښے يا په عبادت خانے کښے يا په ښار کښے چرته کُوزه بره خلق جمع
کړى دى، اَوَ نهٔ مے بلوه جوړه کړے ده، ۱۳ اَوَ نهٔ دوئ په ما دَ مُقدمے ثبُوت پيش کولے شى. ۱٤ خو
دومره قدرے به ومنم چه زَهٔ دَ نوے لارے پيروکار يم چه دوئ ورته فرقه وائى اَوَ زَهٔ دغه شان دَ پلارُونو دَ
نيکُونو دَ خُدائے عبادت کوم. زَهٔ په هغه هر څهٔ ايمان لرم چه په شريعت کښے اَوَ په صحيفو کښے
ليکلى دى اَوَ نبيانو وئيلى دى. ۱۵ اَوَ زَهٔ په خُدائے اُميد لرم لکه چه زما مُدعيان هم منى يعنے ښهٔ اَوَ بد
دواړه به بيا له مړو نه ژوندى کيږى. ۱٦ دغه شان زَهٔ دَ خُدائے اَوَ دَ بنى آدمو په وړاندے خپل زړهٔ صفا
ساتل غواړم.

۱۷ دَ ډيرو کلونو دَ غير حاضرئ نه پس زَهٔ دَ خپل قام دَ پاره خيرات اَؤ نذرُونه اَؤ قُربانئ ورکولو له راغلے
وم. ۱۸ اَؤ دوئ زَهٔ دَ خُدائے په کور کښے بوخت اَؤ ښهٔ پاک شوے وليدلم. ما سره نهٔ خو څهٔ ګڼه وه اَؤ
نهٔ څهٔ اړے ګړے وُو. خو دَ ايشيا دَ صُوبے څهٔ يهُوديان هلته وُو. ۱۹ اَؤ که هغوئ زما په خلاف څهٔ
شکايت لرى نو بيا په کار دى چه په عدالت کښے دَ بيان دَ پاره هغوئ موجُود وى. ۲۰ اَؤ که داسے نهٔ
وى نو دا کسان دِ ووائى چه جرګے ته دَ پيش کولو نه وړاندے هغوئ په ما کښے څهٔ قصُور ليدلے وُو،
۲۱ سوا دَ دے نه چه ما هلته دَ دوئ په وړاندے په ډاګه ووئيل چه نن ستاسو په وړاندے دَ مړو دَ بيا
ژوندى کيدلو په بابت زما فيصله کيږى.“

۲۲ بيا فِليکس چه دَ مسيحى عقيدے نه ښهٔ خبر وُو په دے وينا مُقدمه ملتوى کړه چه”کله چه لُسياس
حاکِم دلته راشى نو زَهٔ به دا مُقدمه بيا واخلم.“ ۲۳ بيا هغهٔ صوبه دار ته حُکم ورکړو چه”پولوس نظر بند
وساته اَؤ دَ دَهٔ په دوستانو کښے هيڅوک هم دَ دَهٔ دَ خدمت نه مه منع کوه.“

## دَ پولوس نظربند کيدل

۲۴ خو څو ورځے پس فِليکس دَ خپلے ښځے درُوسيله سره راغے چه يهُودنه وه. نو پولوس ئے راوغوښتو
اَؤ په مسيح عيسىٰ دَ ايمان راوړلو خبرے ئے ترے نه واوَريدلے. ۲۵ خو هر کله چه خبره دَ صداقت،ضبط
نفس اَؤ راتلُونکى عدالت ته راغله نو فِليکس ويريدو اَؤ وئے وئيل چه ”اوس لاړ شه. کله چه زَهٔ وزګار شم
نو بيا به دِ راغواړم.“ ۲۶ خو په دے دوران کښے دَ هغهٔ دَ پولوس نه دَ بډو طمع وه،ځکه خو به ئے بيا بيا
ورپسے خبر ليږلو اَؤ خبرے به ئے ورسره کولے.

۲۷ کله چه دوه کاله تير شول نو دَ فِليکس په ځائے پروکيوس فِستوس مُقرر شو. فِليکس دَ يهُوديانو دَ
خوشحالولو دَ پاره پولوس په قيد کښے پريښودلو.

# اَعمال د رسُولانو باب ۲۵

## دَ پولوس قيصر ته اپيل

۱ فِستوس دَ مُقررولو نه درے ورځے پس دَ قيصريه نه بيتُ المُقدس ته لاړو. ۲ هلته ورته مشرانو کاهنانو اَؤ
دَ يهُوديانو غټانو دَ پولوس په خلاف مُقدمه پيش کړه اَؤ زارى ئے ورته وکړله. ۳ اَؤ دَ پولوس خلاف ئے دا
مهربانى ترے وغوښتله چه هغه بيتُ المُقدس ته راوغواړه،خو هغوئ ئے په لاره کښے دَ وژلو سازش کړے
وُو. ۴ فِستوس په جواب کښے ووئيل چه”پولوس په قيصريه کښے په قيدخانه کښے دے،اَؤ زَهٔ هغه خوا
ته په خپله زر روان يم. ۵ نو ستاسو څهٔ مشران دِ راسره شى اَؤ که دَ هغهٔ په خلاف څهٔ غلطى ثابته شى
نو دعوىٰ دِ پرے وکړى.“

۶ هغه زيات نه زيات اَتهٔ يا لس ورځے په بيتُ المُقدس کښے دَ تيرولو نه پس قيصريه ته لاړو اَؤ په بله
ورځ چه په عدالت کښے کښيناستو نو دَ پولوس دَ حاضرولو حُکم ئے وکړو. ۷ کله چه هغه حاضر شو نو
دَ بيتُ المُقدس نه راغلى يهُوديان ګير چاپيره ولاړ وُو اَؤ په هغهٔ ئے سخت الزامُونه ولګول،خو هغه ئے

ثابت نۀ کړے شول. ۸ خو پولوس په جواب کښے ووے چه”ما دَ یهُودیانو دَ شریعت،دَ خُدائے دَ کور اَؤ
دَ قیصر په خلاف هیڅ جُرم نۀ دے کړے.“

۹ فِستوس چه یهُودیان دَ ځانه خوشحالول غوښتل نو هغۀ پولوس ته مخ راواړولو اَؤ وئے وئیل چه”آیا تۀ
دے ته تیار یئے چه بیتُ المُقدس ته لاړ شے اَؤ هلته په دے مُقدمه کښے زما په وړاندے پیش شے؟“ ۱۰
خو پولوس ووئیل چه”زَۀ اوس دَ قیصر په عدالت کښے پیش یم اَؤ دا هم هغه ځائے دے چه زما مُقدمه دِ
په کښے وچلیږی. تۀ ښۀ خبر یئے چه ما دَ یهُودیانو خلاف هیڅ جُرم نۀ دے کړے. ۱۱ که چرے ما څۀ
غټ جُرم کړے وی نو زَۀ دَ مرګ دَ سزا نه دَ خلاصیدو سوال نۀ کوم. خو که په دے مُقدمه کښے
کُومه چه دے سړو په ما جوړه کړے ده،څۀ حقیقت نۀ وی نو ما هیڅوک هم دَ دوئ دَ خوشحالولو دَ
پاره دوئ ته نۀ شی سپارلے. زَۀ قیصر ته اپیل کوم!“

۱۲ بیا فِستوس دَ خپلو مشرانو سره دَ مشورے نه پس پولوس ته جواب ورکړو چه”تا قیصر ته اپیل کړے
دے،نو تۀ قیصر ته لاړ شه.“

## دَ اګریپا بادشاه اَؤ بِرنیکی په مخ کښے دَ پولوس پیشی

۱۳ بیا چه یو څو ورځے تیرے شوے نو اګریپا بادشاه اَؤ بِرنیکی دَ فِستوس مُلاقات ته قیصریه ته راغلل. ۱٤
هغوئ هلته ډیرے ورځے پاتے شول اَؤ په دے دوران کښے فِستوس دَ پولوس مُقدمه بادشاه ته وړاندے
کړه اَؤ وئے وئیل چه”مُونږ سره یو سړے دے چه فِلیکس په قیدخانه کښے پریښودلے دے. ۱۵ اَؤ کله چه
زَۀ په بیتُ المُقدس کښے وم نو مشرانو کاهنانو اَؤ دَ یهُودیانو مشرانو دَ هغۀ برخلاف ما ته اطلاع راکړه اَؤ
په هغۀ ئے دَ سزا حُکم کولو سوال وکړو. ۱٦ خو ما هغوئ ته جواب ورکړو چه دا دَ رُومیانو دَستور نۀ
دے چه مُجرم دَ هغۀ مُدعیانو ته وسپاری تر څو چه مُجرم ته دَ مُدعیانو په مخامخ دَ صفائی پیش کولو
موقعه ورنۀ کړی. ۱۷ نو کله چه هغوئ ما سره دلته راغلل نو ما هیڅ وخت ضایع نۀ کړو اَؤ په بله ورځ په
عدالت کښے کښیناستلم اَؤ په عدالت کښے مے دَ هغه سړی دَ حاضریدو حُکم وکړو. ۱۸ خو کله چه دَ
هغۀ مُدعیان خبرو ته پاڅیدل نو زما دَ خیال په مُطابق هغوئ یو اِلزام هم ثابت نۀ کړے شولو. ۱۹ دَ هغوئ
دَ خپل مذهب په حق کښے دَ هغۀ سره څۀ بے اِتفاقی وه اَؤ ځنے کسانو عیسیٰ ته مړ وئیل اَؤ پولوس وائی
چه هغه ژوندے دے. ۲۰ خو زَۀ چه دَ دے مسئلے ژوروالی ته ونۀ رسیدلم نو ما ورته ووئیل چه که هغه
غواړی چه بیتُ المُقدس ته ولیږلے شی اَؤ هلته په دے باب کښے مُقدمه پرے وچلیږی. ۲۱ خو پولوس
اپیل وکړو چه هغه دِ دَ قیصر دَ فیصلے دَ پاره دلته وساتلے شی،نو ما حُکم وکړو چه تر هغے دِ دلته
وساتلے شی تر څو چه ئے زَۀ قیصر ته ونۀ لیږم.“

۲۲ بیا اګریپا فِستوس ته ووئیل چه”زَۀ دَ دے سړی خبرے په خپله آوریدل غواړم،“

هغۀ جواب ورکړو چه”صبا به ئے واؤرے.“

۲۳ نو په بله ورځ اګریپا اَؤ بِرنیکی په شان اَؤ شوکت سره عام دربار ته راننه وتل چه ورسره لوئے لوئے
افسران اَؤ دَ ښار مشهُور کسان وُو. اَؤ دَ فِستوس په حُکم پولوس راوستے شو. ۲٤ بیا فِستوس ووئیل

چه''اَئے اګریپا بادشاه اَؤ حاضرینو! تاسو دا سړے وینئ چه یهُودیانو په جمع دلته اَؤ په بیتُ المُقدس
کښے په چغو ووئیل چه دا سړے دَ ژوندی پاتے کیدو لایق نهٔ دے. ۲۵ خو ما ته ښکاره وه چه دَهٔ داسے
څهٔ نهٔ دی کړی چه ورته دِ دَ مرګ سزا ورکړے شی. اَؤ کله چه هغهٔ قیصر اعظم ته اپیل وکړو نو ما دَ
هغهٔ دَ لیږلو فیصله وکړله. ۲۶ خو ما څخه دَ دَهٔ خلاف څهٔ داسے پوخ ثبُوت نِشته چه زَهٔ ئے قیصر ته
لیکلے پیش کړم،نو ځکه ما په دے شان دَئے ستاسو په وړاندے اَؤ خاص دَ بادشاه اګریپا په وړاندے پیش
کړو،یعنے مطلب دا چه دَ دے تفتیش نه پس به زَهٔ دَ څهٔ لیکلو جوګه شم. ۲۷ زما په خیال کښے دا بے
ځایه خبره ده چه یو قیدی دِ بغیر دَ څهٔ لیکلی جُرم نه ولیږلے شی.''

## اَعمال د رسُولانو باب ۲۶

## دَ پولوس دَ اګریپا بادشاه په مخ کښے صفائی پیش کول

۱ اګریپا بیا پولوس ته ووئیل چه''تا ته مُونږ دَ خبرو کولو اِجازت درکوُو.''

نو بیا پولوس خپل لاس اُوچت کړو اَؤ خپله صفائی ئے داسے پیش کړه چه ۲ ''اَئے اګریپا بادشاه! زَهٔ خپل
ځان خوش قِسمته ګڼم چه ستا په وړاندے ولاړ یم اَؤ دَ خپل ځان خلاف دَ هغه ټولو اِلزامُونو صفائی پیش
کوم چه یهُودیانو راباندے لګولی دی. ۳ اَؤ خاص تهٔ دَ یهُودیانو په رواجُونو ډیر ښهٔ پوهیږے نو ځکه تا ته
خواست کوم چه زما خبرے په صبر سره واؤره.

۴ زما دَ ځوانئ نه زما ژوندُون ټولو یهُودیانو ته معلُوم دے چه زَهٔ په بیتُ المُقدس کښے له شروع نه دَ
خپلو خلقو سره پاتے کیدلم. ۵ بے شکه چه دوئ مے دَ ډیر وخت نه پیژنی اَؤ که غواړی نو دا شاهدی
ورکولے شی چه زمُونږ په مذهب کښے دَ ټولو نه سختے فرقے دَ فریسیانو په مُطابق زَهٔ فریسی وم. ۶ اَؤ زَهٔ
دَ هغه وعدے په اُمید دلته دَ فیصلے دَ پاره ولاړ یم کُومه چه زمُونږ دپلارُونو نیکُونو سره خُدائے کړے وه.
۷ بلکه زمُونږ دولس قبیلے دَ هغے وعدے دَ تر سره کیدو په اُمید کښے شپه اَؤ ورځ پُوره په جوش سره
عبادت کوی. اَئے بادشاه سلامته! دَ دے اُمید په سبب په ما یهُودیان هم اِلزامُونه لګوی! ۸ تاسو دا خبره
ولے نهٔ منئ چه خُدائے مړی بیا ژوندی کوی؟

۹ مخکښے ما هم دا خپله ذمه واری ګڼله چه دَ عیسیٰ ناصری دَ نُوم خلاف ډیر څهٔ کار وکړم. ۱۰ اَؤ ما
په بیتُ المُقدس کښے هم دغسے وکړل،یعنے دا زَهٔ وم چه دَ مشرانو کاهنانو په حُکم مے ډیر پاکان
قیدخانو ته واچول اَؤ کله چه به ئے په هغوئ دَ مرګ فتویٰ لګوله نو زما رائے به هم ورسره وه. ۱۱ اَؤ ما
په ټولو عبادت خانو کښے پرله پسے هغوئ ته سزا ورکوله چه هغوئ دَ خپلے عقیدے نه اِنکار وکړی. اَؤ
بے شکه زما غُصه دے حد ته ورسیده چه دَ نورو مُلکُونو په ښارُونو کښے مے هم وعذابول.

## دَ پولوس په عیسیٰ مسیح دَ ایمان راوړلو بیان

۱۲ دغسے په یو کار پسے دَ مشرانو کاهنانو په اِختیار اَؤ حُکم زَهٔ دَ دمشق په سفر روان وم. ۱۳ بادشاه
سلامته! زَهٔ په لاره کښے وم چه په غرمه کښے مے دَ آسمان نه یوه رڼا ولیده چه دَ نمر نه هم زیاته

روښانه وه چه زما اَوْ زما دَ سفر دَ ملګرو چاپيره زلقيده. ۱٤ اَوْ مُونږ ټول په مزکه پريوتلُو اَوْ بيا ما په عبرانئ
ژبه کښې يو غږ واؤريدلو چه ما ته ئې ووئيل چه ساؤله! ساؤله! تهٔ ما ولې عذابوې؟ دا ستا دَ پاره ګرانه
ده چه دَ څُوکې په ستن لته ووهې. ۱۵ خو ما ووئيل چه مالِکه! ما ته ووايه،تهٔ څوک يئې؟ نو مالِک
جواب راکړو چه زهٔ عيسیٰ يم چه تهٔ مې عذابوې. ۱٦ خو اوس پاڅه،په خپلو پښو نيغ ودريږه. زهٔ تا ته دَ
يو مقصد دَ پاره ښکاره شوم چه تا خپل غُلام اَوْ شاهد مُقرر کړم اَوْ دَ دې خبرو شاهدی ورکړې څهٔ چه
تا وليدل اَوْ څهٔ به چه زما په باب کښې مخکښې ګورې. ۱۷ زهٔ به تا دَ دې خلقو نه اَوْ دَ غيرو يهُوديانو
نه بچ کړم. زهٔ تا ليږم چه دَ هغوئ سترګې پرانزې، ۱۸ اَوْ دَ تيارې نه ئې رڼا ته اَوْ دَ شيطان دَ اِختيار نه
ئې خُدائې ته راواړوې،دَ دې دَ پاره چه په ما دَ ايمان په وسيله دَ ګُناهُونو نه معافی ومُومی اَوْ هغه خلقو
سره ځائې بيا مُومی چه خُدائې پاک ګرزولی دی.

## دَ پولوس دَ يهُوديانو اَوْ د غيرو يهُوديانو په مخکښې شاهدی

۱۹ نو ځکه اَئې اګريپا بادشاه! زهٔ دَ دې آسمانی رويا نه نافرمانه نهٔ شوم.۲۰ اَوْ زهٔ اول دَ دمشق اوسيدُونکو
ته راغلم اَوْ بيا بيتُ المُقدس ته اَوْ دَ يهُوديه علاقې ته اَوْ هم غيرو يهُوديانو ته مې دا غږ وکړو چه توبه ګار
شئ اَوْ خُدائې ته راوګرزئ اَوْ په خپل عمل خپله توبه ښکاره کړئ. ۲۱ دغه وجه ده چه يهُوديانو زهٔ دَ
خُدائې په کور کښې ونيولم اَوْ زما دَ مړ کولو کوشِش ئې وکړو. ۲۲ خو خُدائې زما په لور وُو اَوْ تر نن
ورځې پورې زهٔ لويو اَوْ وړو ته يو شان دَ شاهدئ دَ پاره ولاړ يم. زهٔ دَ هغې نه زيات هيڅ نهٔ وايم څهٔ چه
نبيانو اَوْ مُوسیٰ وئيلی وُو، ۲۳ يعنې دا چه مسيح به ضرور سختې وزغمی اَوْ له مړو نه به اول ژوندې شی
اَوْ اِسرائيلو اَوْ غير يهُوديانو ته به دَ رڼا اِعلان وکړی.“

## دَ پولوس اګريپا ته دَ ايمان راؤړلو اپيل

۲٤ لا پولوس په خپله صفائی کښې خبرې کولې چه فِستوس په اُوچت آواز ووئيل چه”پولوسه! تهٔ ليونې
يئې! ستا ډير علم تهٔ ليونې کړې يئې!“

۲۵ خو پولوس ووئيل چه”اَئې صاحبه! زهٔ ليونې نهٔ يم،څهٔ چه زهٔ وايم هغه بلکل رښتيا دی. ۲٦ اَوْ بادشاه
په دغه خبرو ښهٔ پوهيږی اَوْ هغهٔ ته زهٔ په زړهٔ ورتيا خبرې کولې شم. زهٔ دا يقين کوم چه دا حقيقتُونه به
له هغهٔ نه پټ نهٔ وی،ځکه چه دا کار چرته په يو ګوټ کښې نهٔ دې شوې. ۲۷ نو اَئې اګريپا بادشاه! آيا
تهٔ په نبيانو ايمان لرې؟ زهٔ پوهيږم چه تهٔ ايمان لرې.“

۲۸ اګريپا پولوس ته ووئيل چه”په لږ وخت کښې به مې قائل کړې چه عيسائی شم؟“

۲۹ نو پولوس ووئيل چه”لږ يا زيات،زهٔ دَ خُدايه غواړم چه نهٔ يواځې تهٔ بلکه هغه ټول چه دلته ولاړ دی اَوْ
زما خبرې آؤری،هغه څهٔ شی چه زهٔ يم،بغير دَ دې زولنو نه.“

۳۰ په دې خبرو سره بادشاه پاڅيدو اَوْ ورسره حاکِم،برنيکی اَوْ نور ملګری ئې هم. ۳۱ بيا چه هغوئ لاړل
نو دَ يو بل سره ئې خبرې کولې. هغوئ ووئيل چه”دې سړی خو داسې هيڅ کار نهٔ دې کړې چه دَ
مرګ يا دَ قيد لايق وی.“ ۳۲ خو اګريپا فِستوس ته ووئيل چه”که دې سړی قيصر ته اپيل نهٔ وې کړې

نو دَئے آزادیدے شو.“

## اَعمال د رسُولانو باب ۲۷
## دَ پولوس رُوم طرف ته روانیدل

۱ کله چه دا فیصله وشوله چه مُونږ به اِټلی ته دَ اوبو په جهاز کښے څُو نو پولوس اَؤ څنے نور قیدیان دَ
قیصر دَ پلټنے یو صوبه دار یولیوس ته وسپارلے شول. ۲ بیا مُونږ دَ ادرامیتینے په یو جهاز کښے کښیناستو
چه دَ ایشیا دَ صُوبے بندرُونو ته تلو اَؤ په سمندر کښے روان شوُو. زمُونږ په ملګرو کښے دَ تِسالونیکیه یو
مِکدونی سړے وُو چه نُوم ئے اریسترخوس وُو. ۳ په بله ورځ مُونږ په صیدا کښے کُوز شوُو اَؤ یولیوس ډیر
په مهربانئ پولوس ته اِجازت ورکړو چه دَ دمه کولو دَ پاره خپلو دوستانو ته لاړ شی. ٤ چه له صیدا نه
روان شوُو نو دَ قبرص دَ غاړے په پناهی کښے لاړُو ځکه چه باد مُخالف وُو. ٥ بیا چه دَ هغه سمندر نه
تیر شوُو چه کلکیه اَؤ پمفولیه ته مخامخ دے نو دَ لُکیه میره نومے ښار ته راغلُو. ٦ هلته صوبه دار دَ
سکندریه یو جهاز ومُوندلو کُوم چه اِټلی ته روان وُو اَؤ مُونږ ئے په کښے سوارهٔ کړلُو.

۷ اَؤ تر ډیرو ورځو پورے مُونږ ډیر ورو ورو تلُو اَؤ کنیدوس ته په ډیر تکلیف ورسیدلُو. بیا چه باد بدستور
مُخالف وُو نو دَ کریت په پناهی کښے سلمونے ته مخامخ شوُو. ۸ اَؤ چه په مُشکل سره دَ سمندر په غاړه
تلُو چه دَ ښایسته بندر نومے ځائے ته ورسیدلُو چه دَ لسیه ښار ته نزدے دے.

۹ تر دے کافی وخت تیر شوے وُو اَؤ دَ یهُودیانو دَ کفارے ورځ تیره شوے وه اَؤ په دے سمندری سفر
تلل خطرناک وُو. نو دَ دے دَ پاره پولوس هغوئ ته دا مشوره ورکړه ۱۰ اَؤ وئے وئیل چه”اَئے عزتمندو! ما
ته ښکاری چه دا سفر به خطرناک وی اَؤ دا به یو لوئے نقصان وی،نهٔ صرف دَ جهاز اَؤ دَ سامان بلکه دَ
ژوندُون تاوان به هم وی.“ ۱۱ خو صوبه دار دَ پولوس په ځائے دَ ماڼګی اَؤ دَ جهاز دَ مالِک رائے زیاته
غوره وګڼله. ۱۲ اَؤ چه هغه بندر دَ ژمی موسم دَ تیرولو دَ پاره مناسب نهٔ وُو نو ډیرو خلقو دَ سمندر دَ سفر
رائے خوښه کړه اَؤ اُمید ئے دا وُو چه ګنی فُنیکس ته دَ ژمی تیرولو دَ پاره ورسیږُو،کُوم چه دَ کریت یو
بندر دے چه مخ ئے سهیل قبلے ته اَؤ قطب ته دے.

## په سمندر کښے طُوفان

۱۳ اَؤ چه دَ سهیل نه نرے باد راوالوتو نو هغو ګمان وکړو چه زمُونږ مقصد تر سره کیدُونکے دے. نو
لنګر ئے پورته کړو اَؤ غاړے ته نزدے دَ کریت په خوا خوا روان شول. ۱٤ خو ډیر وخت نهٔ وُو تیر چه یو
طُوفانی باد راوالوتو چه ورته هغوئ یُورکلون،یعنے قطبی نمرختیز باد وائی، ۱٥ دَ مزکے دَ طرفه راوالوتو اَؤ
جهاز ئے راګیر کړو،اَؤ دَ باد په مخ هغهٔ ته تلل ګران شول ځکه چه جهاز بے قابُو شوے وُو. ۱٦ مُونږ دَ
کاوُده نومے یوے ورکوټے جزیرے په پناهی کښے لاړلُو اَؤ هلته مو په مُشکل سره دَ جهاز کِشتئ قابُو
کړله. ۱۷ اَؤ چه جهاز ته ئے وخیژوله نو دَ حفاظت دَ پاره ئے جهاز په پړو وتړلو،بیا هغوئ په دے ویریدل
چه دَ سرتیس په شګو کښے ونهٔ نښلی،نو هغوئ بادبان راکُوز کړو اَؤ جهاز ئے روان کړو. ۱۸ په بله ورځ
چه ډیر سخت طُوفان وُو نو هغوئ دَ جهاز دَ بوج په کمولو شروع وکړه. ۱۹ اَؤ په دریمه ورځ ئے دَ جهاز

سامان په خپلو لاسُونو وغورزولو. ۲۰ تر ډېرو ورځو نۀ خو نمر ښکاريدو اَو نۀ ستوی،بلکه سخت طُوفان چليدو اَو زمُونږ دَ بچ کيدو آخری اُميد هم ختم شو.

۲۱ اَو هغوئ تر ډېرو ورځو بے خوراکه وُو،نو پولوس دَ هغوئ په مينځ کښے ودريدلو اَو وئے وئيل چه"اَئے عزتمنو! تاسو ته زما دَ کريت نه دَ سفر نۀ کولو مشوره منل په کار وُو،اَو که تاسو منلے وئے نو دَ دے نُقصان اَو تاوان نه به بچ شوی وئ. ۲۲ خو اوس زَۀ درته نصيحت کوم چه زړُونه مۀ بائيلئ ځکه چه هيڅ څوک به هم مړ نۀ شی خو جهاز به غرق شی. ۲۳ بيګاه هغه خُدائے دَ چا چه زَۀ يم اَو دَ چا چه زَۀ عبادت کوم دَ هغۀ يوه فرښته ما سره ولاړه وه. ۲٤ هغے راته ووئيل چه پولوسه! ويريږه مه! ځکه چه دا مُقرر دے چه تۀ دَ قيصر په وړاندے ودريږے،اَو تسلی ولره چه څومره خلق چه تا سره په جهاز کښے دی،خُدائے به ستا دَ خاطره هغوئ بچ کوی. ۲۵ نو حوصله په ځائے کړئ! ولے چه زما په خُدائے ايمان دے چه څنګه چه ما ته وئيلے شوی دی،هم داسے به وشی. ۲٦ خو دا ضروری ده چه چرته به دَ يوے جزيرے په غاړه وغورزولے شُو."

۲۷ خو څوارلسمه شپه دَ بره شوه اَو مُونږ لا دَ ادريه په سمندر کښے په جهاز بے قابُو روان وُو چه په نيمه شپه دَ جهاز ماڼګيانو دا محسُوسه کړه چه مزکه رانزدے کيږی، ۲۸ نو هغوئ اندازه واخسته اَو ژور والے ئے څلويښت ګزه وختلو. اَو چه لږ ساعت پس ئے چه بيا ميچ کړه نو ديرش ګزه وه. ۲۹ نو هغوئ ويرے واخستل چه هسے نۀ چه جهاز دَ ګټانو سره ډغره وخوری،نو دَ شا طرف نه ئے څلور لنګرُونه واچول اَو دَ سحر کيدو دَ پاره ئے ډېر اِنتظار اَو دُعا وکړله. ۳۰ خو ماڼګيانو دَ جهاز نه دَ تښتيدلو کوشِش کاوو. هغوئ دَ جهاز کِشتئ بيا کُوزه کړے وه اَو دا بهانه ئے کوله چه ګنی مُونږ دَ جهاز دَ څُوکے نه لنګرُونه اچوُو. ۳۱ کله چه پولوس صوبه دار اَو سپاهيانو ته ووئيل چه"که دا سړی په جهاز کښے پاتے نۀ شی نو په تاسو کښے يو کس هم بچ کيدے نه شی."

۳۲ نو سپاهيانو دَ کِشتئ پړے پريکړلو چه هغه وغورزيږی.

۳۳ دَ سحر کيدو نه لږ وړاندے پولوس ټولو ته نصيحت وکړو چه"څۀ وخورئ،ولے چه په تيرو څوارلسو ورځو کښے تاسو په شک کښے وئ اَو وږی وئ اَو تاسو هيڅ هم خوړلی نۀ دی. ۳٤ نو زَۀ تاسو ته خواست کوم چه څۀ لږ وخورئ،ستاسو دَ ژوند دارومدار په دے دے،اَو ياد لرئ چه ستاسو دَ سرُونو ويښتۀ قدر به هم نۀ ورکيږی." ۳۵ په دے وينا هغۀ ډوډئ واخستله اَو دَ هغو ټولو په وړاندے ئے دَ خُدائے شُکر پرے ووے،نو ما ته ئے کړه اَو په خوراک ئے لاس پورے کړو. ۳٦ بيا هغوئ ټولو زړۀ بيا مُوندو اَو په خپله ئے خوراک خوړل شروع کړو. ۳۷ اَو مُونږ ټول په جهاز کښے دوه سوه شپږ اَويا کسان وُو. ۳۸ هغوئ چه څومره حاجت لرلو هغه هومره ئے وخوړلو،نو دَ جهاز دَ بوج دَ سپکولو دَ پاره ئے غنم سمندر ته ورګُزار کړل.

## دَ جهاز تباه کيدل

۳۹ اَو چه ورځ شوه نو هغوئ مزکه ونۀ پيژندله خو دَ خليج غاړه ئے په نظر شوه،نو مشوره ئے وکړه چه که کيدے شی نو په دے به جهاز وخيژوُو. ٤۰ نو دَ لنګر پړی ئے پريکړل اَو په سمندر کښے ئے ورګزار

کړل. اَوُ هم په دغه وخت هغوئ دَ جهاز دَ رفتار پرې سُست کړل اَوُ مخ کښې بادبان ئے باد ته وخیژولو
اَوُ دَ غاړے په لور ئے جهاز روان کړو. ٤١ خو بیا جهاز شګلن ځائے ته ورسیدو اَوُ په مزکه ولګیدلو. اَوُ دَ
جهاز څُوکه ولګیدله اَوُ نښتلے پاتے شوه خو ورستنئ حصه ئے دَ چپو په زور ماتیدله.

٤٢ نو سپاهیانو صلاح وکړه چه قیدیان به ووژنُو هسے نه چه په لامبو وهلو وتښتی. ٤٣ خو صوبه دار
غوښتل چه پولوس په حفاظت ورسوی اَوُ هغوئ ئے له دے صلاح نه منع کړل. اَوُ حُکم ئے ورکړو چه
هر چاله چه لامبو ورځی هغه دِ ورُومبے سمندر ته ټوپ کړی اَوُ وچے ته دِ ورَسی. ٤٤ اَوُ نور به ورپسے
،یعنے څوک په تختو اَوُ څوک دَ جهاز په ټوټو. اَوُ دغه شان ټول په خیر سره وچے ته ورسیدل.

# اَعمال د رسُولانو باب ۲۸

## دَ مالټا په جزیره کښې پولوس

١ اَوُ چه مُونږ بچ شوُو نو مُونږ دا جزیره وپیژندله چه دَ دے نُوم مالټا وُو. ٢ دَ جزیرے اوسیدُونکو زمُونږ
سره ډیره مهربانی ښکاره کړه. ولے چه باران شروع شوے وُو اَوُ یخنی وه نو هغوئ راته اور بل کړو اَوُ
مُونږ ټولو ته ئے تود هر کلے ووئیلو. ٣ خو چه پولوس دَ لرګو یو ګیډے ټول کړے وُو اَوُ هغه ئے په اور
واچولو اَوُ دَ اور دَ تاؤ نه یو مار بهر راووتو اَوُ دَ هغهٔ په لاس ونښتو. ٤ چه دَ جزیرے خلقو دَ هغهٔ دَ لاس
نه چاپیر ځوړند مار ولیدو نو یو بل ته ئے ووئیل چه”دا سړے به خامخا قاتل وی،اَوُ اګر که هغهٔ دَ سمندر
نه ځان بچ کړو خو دَ خُدائے عدل به هغه ژوندی اوسیدلو ته پرے نهٔ ږدی.“ ٥ خو پولوس هغه مار اور ته
وغورزولو اَوُ څهٔ نقصان ورته ونهٔ رسیدلو. ٦ هغوئ اوس هم دا ګُمان کاوو چه ګنی دا به وپړسیږی اَوُ
راپرے به وځی اَوُ مړ به شی،خو دَ ډیرے شیبے دَ اِنتظار نه پس هم چه په هغهٔ هیڅ اثر ونهٔ شو نو هغوئ
خپل خیال بدل کړو اَوُ وئے وئیل چه”دا څوک خُدائے دے!“

٧ دَ دغه ځائے په خوا اَوُ شا کښې دَ دغه جزیرے دَ حاکِم چه پُوبلیوس نوم ئے وُو،مزکے وے. هغهٔ مُونږ
خپل کورته بُوتلُو اَوُ درے ورځے ئے ډیر په درناوی میلمانهٔ کړلُو. ٨ دا په دے چه دَ دے سړی پلار چه
په تبه اَوُ دَ دستُونو دَ لاسه دَ مودے راسے ناجوړه پروت وُو. پولوس هغهٔ ته ورغے ؛دُعا ئے ورته وکړله
،خپل لاس ئے پرے کیښودو اَوُ روغ ئے کړو. ٩ نو له دے نه پس دَ جزیرے نور رنځُوران هم راغلل اَوُ
هغهٔ روغ کړل. ١٠ هغوئ په ډالئ راکولو زمُونږ ډیر عزت وکړو اَوُ څهٔ وخت چه مُونږ ورنه رُخصتیدُو نو
هغوئ زمُونږ دَ ضرورت څیزُونه زمُونږ دَ پاره په جهاز کښې کیښودل.

## دَ پولوس رُوم ته رسیدل

١١ دَ دریو میاشتو نه پس مُونږ په هغه جهاز کښې روان شوُو کُوم چه ژمے په دے جزیره کښې تیر کړے
وُو اَوُ دا دَ سکندریه یو جهاز وُو چه نخښه ئے ارنډه اَوُ جوزا وه. ١٢ اَوُ مُونږ په سرکوسه کښې کُوز شوُو
اَوُ هلته مو درے ورځے تیرے کړلے. ١٣ بیا دَ هغه ځائے نه روان شوُو اَوُ په جهاز کښې ریګیوم ته لاړلو
اَوُ بیا یوه ورځ پس سهیلی باد شروع شو اَوُ مُونږ پوتیلی ته په دوؤ ورځو کښې ورسیدلُو. ١٤ هلته مُونږ خپل
مسیحیان ملګری ومُوندل اَوُ هغوئ مُونږ ته دَ ایساریدو دَ پاره ووئیل اَوُ مُونږ یوه هفته هلته پاتے شوُو اَوُ دغه

شان مُونږ رُوم ته ورسيدلُو. ۱۵ دَ هغهٔ ځائے ورُونړو چه زمُونږ دَ راتلو خبر واوريدو نو هغوئ زمُونږ مخے ته دَ
اپيوس تر بازار اَوُ دريو سرايُونو پورے راغلل.کله چه پولوس هغوئ وليدل نو هغهٔ دَ خُدائے شُکر ادا کړو اَوُ
زړهٔ ور شو.

۱۶ کله چه مُونږ رُوم ته ورننوتُو نو پولوس ته دَ هغه سپاهی سره په خپل کور کښے دَ پاتے کيدو اِجازت
ورکړے شو چه دَ هغهٔ څوکيداری ئے کوله.

## په رُوم کښے دَ پولوس گواهی

۱۷ درے ورځے پس هغهٔ دهغه ځائے اوسيدُونکی دَ يهُوديانو مشران راوبلل. اَوُ کله چه هغوئ راټول شول
نو هغهٔ ورته ووئيل چه"اَئے زما ورُونړو! ما چرے هم دَ خپل اولس خِلاف کار نهٔ دے کړے اَوُ نهٔ مے دَ
خپلو پلارُونو نيکُونو لار پريښے ده،نو بيا هم زهٔ په بيتُ المُقدس کښے قيد کړے شوم اَوُ دَ رُوميانو لاس
ته وسپارلے شوم. ۱۸ نو هغوئ زما تحقيقات وکړل اَوُ دا ئے غوښتل چه ما آزاد کړی ځکه چه زما په
خلاف دَ مرگ هيڅ وجه ثابته نهٔ شوه. ۱۹ خو يهُوديانو دا ونهٔ منله،اَوُ زما دَ پاره بله لاره نهٔ وه بغير دَ دے
نه چه قيصر ته اپيل وکړم،په دے نه چه گنی ما په خپل اولس څهٔ اِلزام لگولے دے. ۲۰ دغه وجه ده چه
ما دا غوښتل چه تاسو ووينم اَوُ خبر مو کړم ځکه چه دا چه نن زهٔ په زولنو کښے دلته راوستے شوے يم
،دا دَ اِسرائيلو دَ اُميد په خاطر دے."

۲۱ هغوئ جواب ورکړو چه"مُونږ ته دَ يهُوديه نه هيڅ داسے خبر نه دے راغلے اَوُ نهٔ څوک زمُونږ ورور دَ
دے خبر راکولو دَ پاره دلته راغلے دے چه ستا په سر ئے شکايت کړے وے. ۲۲ مُونږ ستا دخيالاتو
آوَريدو په طمع يُو،خو دومره راته معلُومه ده چه دَ دے فرقے په حقله هيڅوک هم ښهٔ نهٔ وائی."

۲۳ بيا هغوئ يوه ورځ مُقرر کړه اَوُ ښهٔ په گڼ شمير خلق دَ هغهٔ ميلمانهٔ شول. هغه ټوله معامله ئے سر تر
پايه بيان کړه اَوُ دَ خُدائے دَ بادشاهئ په حقله ئے شاهدی وکړله اَوُ دا کوشِش ئے وکړو چه دَ مُوسیٰ دَ
شريعت اَوُ نبيانو دَ کتابُونو نه ئے دَ عيسیٰ په حقله قائل کړی،اَوُ دا دَ سحر نه تر ماښام پورے جاری وُو.
۲۴ ځنے خو دَ هغهٔ په دلائلو قائل شول اَوُ ځنے شکمن پاتے شول. ۲۵ اَوُ چه په هغوئ کښے بے اِتفاقی
راغله نو هغوئ په خوريدو شروع شول،خو له دے نه مخکښے پولوس ورته ووئيل چه"دَ يشعياه نبی په
وسيله رُوحُ القُدس ستاسو پلارُونو نيکُونو ته څهٔ ښهٔ وئيلوو چه:

۲۶ «دے خلقو ته ورشه اَوُ ورته ووايه چه

تاسو واوَرئ اَوُ واوَرئ به،خو تاسو به پوهه نهٔ شئ،

تاسو گورئ اَوُ گورئ به،خو وبه نهٔ وينئ.

۲۷ ځکه چه دَ دے اولس زړُونه سخت دی،

غوږُونه ئے درانهٔ دی،اَوُ سترگے ئے پټے کړلے،

هسے نۀ چه په سترګو ووينی،

په غوږُونو واورى اَوْ په زړۀ پوهه شى اَوْ راوګرزى

اَوْ زَۀ به ئے روغ کړم.»

۲۸ ”نو څکه دا خبره ياد لرئ چه دا دَ خُدائے دَ خلاصُون زيرے غيرو يهُودى قومُونو له ليږلے شوے دے
اَوْ هم هغوئ به ورته غوږ نيسى!“ ۲۹ کله چه پولوس خپله وينا ختمه کړه نو يهُوديان لاړل اَوْ په خپلو
کښے ئے تود بحث وکړو.

۳۰ نو هغه هلته پُوره دوه کاله دَ کرائے په کور کښے اوسيدو اَوْ هر هغه چا ته به ئے په خلاص مټ هر
کلے وے،څوک چه به هغۀ ته راتلل. ۳۱ اَوْ هغۀ دَ خُدائے دَ بادشاهئ وعظ کاوو اَوْ دَ مالِک عيسىٰ
مسيح په حقله ئے ښۀ په ډاګه اَوْ بغير دَ څۀ پابندئ تعليم ورکاوو.

This book from the Pashto Bible was downloaded from www.pashtozeray.org. Copyright Pashto Zeray, All Rights Reserved